د افغانستان اسلامی امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د علمی چارو معاونیت

سلام پوهنتون
د شرعیات او قانون پوهنځی
د تفسیر او حدیث ماستری پروګرام

# امام عبدالرزاق صنعاني او په مصنف کې يې تګلاره

(د ماسټرۍ رساله)


محصل: وحیدالله ( وحیدي)

لارښود استاد: دوکتور نصرمن الله (مجاهد)


تحصیلی کال : ۱۴۰۲لمریزکال

موافق ۱۴۴۵هجري قمري

**د افغانستان اسلامی امارت**
**د لوړو زده کړو وزارت**
**د علمی چارو معاونیت**

**سلام پوهنتون**
**د شرعیات او قانون پوهنځی**
**د تفسیر او حدیث ماستری پروګرام**

# امام عبدالرزاق صنعاني او په مصنف کې يې تګلاره

## (د ماسټری رساله)

**محصل:** **وحيدالله ( وحيدي)**

**لارښود استاد:** **دوکتور نصرمن الله (مجاهد)**

تحصیلی کال : ۱۴۰۲لمریزکال

**موافق ۱۴۴۵هجري قمري**

بسم الله الرحمن الرحيم

# سلام پوهنتون

د شرعیات اوقانون پوهنځی

د تفسیر و حدیث دیپارتمنت

د ماسترۍ بورد

## تـــصـديـق نـــامـــه

ښاغلی وحید الله د مولوي زلمی زوی د ID: SH-MST-S1400-783 نمبر لرونکی، د تفسیر و حدیث د اوومې دورې محصل د ماسترۍ مرحلې رساله چې عنوان یې: امام عبدالرزاق صنعاني او په مصنف کې یې تګلاره د یکشنبې ورځ په ۱۴۰۲/۱۲/۲۷ هـ ل نیټه یې په بریالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونې پر اساس د ۹۰ (نمرو په عدد) نوي (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید.

له الله تعالی څخه ورته د لازیاتې بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي اعضاء :

| ګڼه | د استاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور عبدالباري حمیدی | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | دکتور فصیح الله عبدالباقی | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | دکتور نصرمن الله مجاهد | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

دماسترۍ د بورد آمر ____________

علمی مرستیال ____________

# ډالۍ

ا په پالنه او

تربیت کې شپه او ورځ زحمتونه ګاللي دي.

همدا راز په دوهم قدم کې خپله لیکنه خپلو استادانو ته ډالۍ کوم چې زما په پوهه او علم کې يې رغنده رول لوبولی دی.

## منن لیک

د هر څه نه لومړی د الله جل جلاله شکر اداء کوم چې ماته يې د ماسترۍ د مرحلې د بشپړ کولو توفيق يې راکړ. له دې وروسته سلام پوهنتون د رهبرۍ څخه مننه کوم چې په ګران هیواد کې يي خپلو هیوادوالو ته د عالي زده کړو فرصت برابر کړی دی.

همدا راز د خپل لارښود استاد ښاغلي دوکتور نصرمن الله ( مجاهد) څخه د زړه له کومې مننه کوم چې زما د تیزس اشراف يي قبول کړ او د تیزس په ليکلو کې يې له ما سره نه ستړی کیدونکي زحمتونه وګالل او د تیزس په ليکلو کې يي ماته هر اړخیزه او دوامداره لارښوونه کړی ده او خپله پیرزوینه او سالمه لارښوونه يي له ما څخه نه ده سپمولی.

# خلاصه

امام عبدالرزاق رحمه الله په (۱۲۶) هجري کې دیمن د صنعاء په ښار کې زیږیدلې دی او په (۱۴۶) هجري شاوخوا کې یې د معمربن راشد او نورو معتبرو او ثقه استادانو څخه دحادیثو زده کړه پیل کړی ده او په علم حدیث کې مرجع وګرځید.

امام عبدالرزاق بن همام رحمه الله په داسې وخت کې وزیږلو چې د اکابرو تابعینو زمانه تیره شوی وه او د اصاغرو تابعینو[1] وروستی ورځې وي او دتبع تابعینو زمانه وه. امام عبدالرزاق په داسې وخت کې نړۍ ته سترګې وغړولې چې دحادیثو مدرسې په حجاز، عراق، شام او مصر کې موجود وې او په یمن کې د معمر بن راشد د آحادیثو حلقې ته د هر لورې محدثین راتلل.

امام عبدالرزاق رحمه الله خپلې لومړۍ زدکړې د معمر بن راشد د مجلس څخه پیل کړی او بیا یې د خپلې علمي پانګې د زیاتوالی لپاره حجاز ته، شام او عراق ته سفرونه وکړل.

امام عبدالرزاق رحمه الله لکه د اهل سنت والجماعة د نورو امامانو په شان د صحابه کرامو او تابعینو امامانو په څیر عقیده درلوده او د شیعه توب کوم نسبت چې ورته شوی دی هغه د تاویل وړ دی او د اهل بیتو سره د محبت له امله ورته مؤلفینو شیعه ویلی دی چې د هغه د معاصرو خلکو له خوا شوی خبره ده.

امام عبدالرزاق رحمه الله په فقه کې د کوم امام شخصي تقلید نه کولو بلکې د هغه وخت د نورو علماوو په شان د دلیل تابع ؤ او په فقهي مسائلو کې یې خپله رایه درلودله لکه چې دا خبره د هغه د کتاب مصنف څخه معلومیږي.

د امت علمای کرام د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو، د صحابه کرامو د اقوالو، دتابعینو او تابع تابعینو او نورو سلفو علماوو داقوالو په ثبت او تدوین باندې زیات حریص ؤ، همدا وجه ده چې زمونږ زمانې ته لوی لوی د علم او پوهې ذخیرې رارسیدلي دي او مونږ ورڅخه په اسانه سره استفاده کوو چې ددغو اسفارو او مدوناتو څخه یو هم د امام عبدالرزاق رحمه الله مصنف دی چې د ډیرو فایدو څخه ډک دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر احادیثو، د صحابه کرامو پر اقوالو او دتابعینو پر ویناوو باندې مشتمل.

دامام عبدالرزاق مصنف د هغو کتابونو له جملې څخه یو مهم کتاب دی چې په احادیثو کې داسلامي تاریخ په دوهمه پیړۍ کې لیکل شوی دی او د وروستنو مصنفینو لپاره د لومړۍ مرجع په حیث پیژندل کیږي.

---

1-اصاغر دتابعینو هغه تابعین دي چې د د وړوکوالي له وجی یې صحابه نه دي لیدلي ؛ مګر هغه صحابه یې لیدلي دي چې په وروستي وخت کې وفات شوي دي او له هغوی څخه یې احادیث روایت کړي چې هغه محدودی تعداد دی لکه چاچې د انسبن مالک ، یا سهل ین سعد او د ابو امامه باهلي سره ملاقات شوي وي ، او داصاغرو تابعینو به اکثره روایات له اکابرو تابعینو څخه کړي دي، لکه محمدبن سعدبن أبی وقاص الزهری(ت:۱۳۴ه) او موسی بن عقبه (ت:۱۴۱ه).تحریر علوم الحدیث (2/ 930)، لسان المحدثین(3/ 208).

امام عبدالرزاق په خپل دغه قیمتي مصــنف کې په فقهي موضــوعاتو پورې تړلې نبوي احادیث او د صحابه کرامو اقوال او دتابعینو اقوال راټول کړي دي.

امام عبدالرزاق رحمه الله مصنف له ړندیدلو څخه مخکې په یمن کې لیکلی دی.

امام عبدالرزاق رحمه الله مصــنف په خپله لیکلی دی او زیاتو علماوو دامام عبدالرزاق څخه د احادیثود اوریدلو لپاره یمن ته سفرونه کړي دي او له هغه څخه یې مصنف اوریدلی دی.

علماء کرامو د امام عبدالرزاق رحمه الله د مصنف په ځانګړي ډول ستاینه کړې ده.

دامام عبدالرزاق رحمه الله مصــنف د متابعاتو، موقوفو، مقطوعو او مرســلو احادیثو د پیداکولو لپاره غوره مرجع ده.

امام عبدالرزاق رحمه الله د خپل مصــنف دلیکلو لپاره کوم شــرط نه دی ذکر کړی خو د څیړنې څخه معلومیږي چې دامام عبدالرزاق رحمه الله مصــنف رجال اکثره د امام بخاري او امام مســلم رجال دي او ضــعیفه راویان په کې ډیر کم دي چې هغه ضعیفه راویان په هغه اندازه ضعیفه نه دي چې احادیث یې ونه لیکل شي.

امام عبدالرزاق رحمه الله خپل شــیوخ یو پر بل عطف کوي. چې د شــیوخو د عطف څخه د هغه مقصــد اختصــار دی او هغه راویان چې امام عبدالرزاق یې په خپلو شــیوخو عطف کوي هغه یا ثقه وي او یا هغه څوک وي چې د هغه حدیث د لیکلو قابلیت لري.

## د موضوعاتو فهرست

مقدمه............ 1
د موضوع اهمیت او ارزښت............ 3
د موضوع د انتخاب لاملونه............ 4
د لیکنې اهداف او موخې............ 4
د څېړنې اصلي او فرعي پوښتنې:............ 5
د موضوع اړوند پخوانی لیکنې او آثار............ 6
د څیړنې تګلاره............ 6
د لیکنې په وخت کې ستونزې او مشکلات............ 7
د څیړنې پلان او خطه............ 8
تمهید............ 11

**لومړی فصل**

**کلیات**

**د امام عبدالرزاق پیژندنه**

لومړی مبحث: د امام عبدالرزاق رحمه الله پیژندنه............ 14
لومړی مطلب: نوم او کنیه یې............ 14
دویم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله زوکړ............ 15
دریم مطلب: د امام عبدالرزاق رحمه الله کورنی............ 16
څلورم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله زده کړه............ 17
پنځم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله سفرونه............ 18
شپږم مطلب: د امام عبدالرزاق رحمه الله علمي القاب او علمي مرتبه............ 18
اووم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله وفات............ 20
دویم مبحث: دامام عبدالرزاق رحمه الله سیاسي او علمي ژوند............ 21
لومړی مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله په وخت کې د اسلامي نړۍ سیاسي حالات او اوضاع............ 21
دویم مطلب: پر حدیث باندې د سیاسی حالاتو اغیزې............ 22
دریم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله پر وخت کې د موضوعي احادیثو جوړول............ 23
څلورم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله علمي ژوند ته کتنه............ 23
دریم مبحث : دامام عبدالرزاق استاذان اوشاګردان یې............ 34
لومړی مطلب: د امام عبدالرزاق استاذان............ 34
دویم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله شاګردان............ 41
څلورم مبحث: دامام عبدالرزاق په اړه دعلماوو څرګندونې............ 44
لومړی مطلب: د امام عبدالرزاق رحمه الله اختلاط............ 44
دویم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله شیعه توب............ 46

دریم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله تدلیس........ 50
پنځم مبحث: دامام عبدالرزاق رحمه الله تالیفات........ 51

**دوهم فصل**

**دامام عبدالرزاق تګلاره په مصنف کې**

لومړی مبحث: دمصنفاتو پېژندنه........ 54
لومړی مطلب: د مصنف معنی او مفهوم........ 54
دوهم مطلب: د مصنفاتو او سننو او د احادیثو د نورو کتابونو تر منځ توپیر........ 54
دریم مطلب: د مصنفاتو شمېر........ 55
دوهم مبحث: د د امام عبدالرزق الصنعاني دمصنف پېژنده........ 56
لومړی مطلب: د مصنف د لیکلو لاملونه........ 56
دوهم مطلب: د مصنف عبدالرزاق رحمه الله د لیکلو پړاوونه........ 56
درېیم مطلب: د مصنف اسانید او راویان........ 56
څلورم مطلب: د مصنف موضوعات او محتویات........ 58
پنځم مطلب: د مصنف د احادیثو شمېر........ 60
شپږم مطلب: د مصنف په اړه د علماوو نظرونه........ 61
اووم مطلب: د مصنف مخطوطې او چاپ شوې نسخې........ 62
اتم مطلب: : د امام عبدالرزاق رحمه الله د مصنف مصادر........ 63
دریم مبحث په مصنف کې د امام عبدالرزاق تګلاره........ 65
لومړی مطلب: د امام عبدالرزاق شروط په مصنف کې........ 65
دوهم مطلب: په سندونو کې دامام عبدالرزاق تګلاره........ 72
دریم مطلب: د امام عبدالرزاق حدیثي صناعت........ 73
څلورم مطلب: د امام عبدالرزاق نور مختلف منهجونه:........ 78
پنځم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله فقهي تګلاره........ 88
د دوهم فصل خلاصه :........ 96
نتائج........ 98
پیشنهاد........ 101
د آیاتونو فهرست........ 102
د احادیثو فهرست........ 102
د اعلامو او شخصیتونو فهرست........ 106
د مصادرو اومراجعو فهرست........ 109
SUMMARY........ 114

## مقدمه

الحمد لله ذي الطول والآلاء، وصلی الله علی سيدنا محمد خاتم الرسل والانبياء، وعلی آله واصحابه الاتقياء.

اما بعد: دا واضح او روښـانه حقيقت دی؛ چې الله تعالی پر خپلو مخلوقاتو باندې ډير نعمتونه او احسـانات کړي دي، په ځانګړي ډول پر انســـان باندې ، ځکه چې د الله جل جلاله نعمتونه دومره ډير دي چې هيڅکله په شــمار او تعداد کې نه راځي الله جل جلاله فرمايي : {وَآَتَاكُمْ مِنْ كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ}.[1]

ژباړه : او هر هغه څه يې درکړل چې ترې مو وغوښـتل، او که د الله جل جلاله نعمتونه وشـميرى نو شـميرلې يې نشئ ، يقيناً چې انسان ډير ظالم او ډير ناشکره دی.

د الله رب العزت د نعمتونو او احســاناتو په لړ کې يو نعمت هم بشــري ټولنې ته د انبياؤ عليهم الســلام را ليږل دي، ددې لپاره چې د الله جل جلاله احکام ورته پوره واضــح کړي، تر څو په اوامرو باندې يې عمل وکړي او د نواهيو څخه يې ځانونه وژغوري، ځکه چې د ټولنې د افرادو بريا او کاميابي په همدې پورې تړلې ده. له بل اړخه ټولنه هم په دې باندې مکلفه ده چې د الله جل جلاله د اســتازي اطاعت او تابعداري وکړي ، او د نه تابعدارۍ په صـورت کې انسـان داسـې مجرم دی لکه چې د الله جل جلاله نا فرماني ئې کړې وي. الله جل جلاله فرمايي : {وَمَا آَتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ} 2

ژباړه : او هغه څه چې تاسـو ته نبي عليه السـلام راوړي دي په هغې باندې عمل وکړئ ، او د هغه څه نه مو چې منعه کوي له هغې څخه ځانونه وژغورئ ، د الله جل جلاله څخه ووېرېږئ ، بيشـکه الله جل جلاله سـخت عذاب والا دی.

همدا راز قرآن کريم په موضوعاتو کې د اختلاف پروخت حکم کړی دی چې هغه د الله تعالی کتاب او د پيغمبر سنتو ته راجع کړئ.الله تعالی فرمايلي دي: { فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ }. 3

ترجمه: که چيرې تاسې په کوم شي کې اختلاف وکړی ، نو هغه محول کړئ الله تعالی ته او د هغه رسول ته.

الله ته د محول کولو څخه مراد د هغه کتاب قرآن کريم ته محول کول دي او د الله رسول ته د محول کولو څخه د هغه د وفات څخه وروسته د هغه سنتو ته محول کول دي.

الله تعالی د رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم اطاعت خپل طاعت ګرځولی دی نو څوک چې د پيغمبر صـلی الله عليه وسـلم احاديث مني هغه درسـول الله صـلی الله عليه وسـلم اطاعت کوي او څوک چې د رسـول الله صـلی الله عليه وسلم اطاعت کوي په حقيقت کې هغه د الله تعالی اطاعت کوي.

الله تعالی فرمايلي دي: {مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ تَوَلَّى فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظاً } 4

---

1- ابراهيم : رقم الاية: ٣٤.

2- الحشر : رقم الأية: ٧.

3- النساء: رقم الآية: ٥٩

4- الحشر، رقم الآية: 7.

ترجمه: څوک چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت کوي په تحقیق سره ده دالله تعالی اطاعت وکړ او څوک چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اطاعت څخه مخ واړوي، نو مونږ نه یې لیږلی ته پر دوی نګهبان.

همدا راز الله تعالی د پیغمبر په پیروۍ امر کړی دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروي د هغه د سنتو پیروي ده.

الله تعالی فرمایلي دي: { قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ } 1

ترجمه: ته ورته ووایه (ای محمده!) چې اطاعت وکړئ دالله (د هغه دکتاب) او اطاعت وکړئ د هغه د رسول(د هغه دسنتو) که چیرې دوی مخ واړولو د اطاعت دالله او د هغه د رسول داطاعت څخه ، بیشکه الله تعالی نه خوښوي کافران.

څرنګه چې بشري ټولنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په تابعدارۍ او پیروۍ مکلفه ده ، نو په هر صورت کې باید د رسول الله صلی الله علیه وسلم احکامو ته غاړه کیږیدي.

داځکه چې وحی په دوه ډوله ده یو جلي وحی چې قرأن کریم دی او بله خفی وحی چې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له آحادیثو څخه عبارت دی.

په یو حدیث شریف کې راځي: عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِيكَرِبَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ قَالَ: ( أَلاَ إِنِّى أُوتِيتُ الْكِتَابَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ).[2]

ژباړه: د مقدام بن معدیکرب رضي الله عنه څخه روایت دی چې بشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: خبردار! ماته کتاب (قرآن) راکړل شوی دی او د هغه په مثل ورسره هم راکړل شوی دی.

د اسلامي شریعت دوهم مصدر د رسول الله صلي الله علیه وسلم احادیث دي، ددې امله دحادیثو راویانو د احادیثو په روایت باندې ډیر اهتمام کړی، هغه یې په یادو حفظ کړي دي او هغه یې لیکلي دي، او داحادیثو د حفاظت لپاره یی په علم حدیث کې مختلف فنون او علوم رامنځ ته کړي دي؛ آن داچې احادیث زمونږ تر زمانې راورسیدل.

د احادیثو د حفاظت له لارو څخه یو هم د احادیثو لیکل دي چې د لومړي ځل لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیثونه په رسمي توګه لیکل د عمر بن عبدالعزیز رضي الله عنه په حکم سره په سلم (۱۰۰) هجري کې پیل شو.

---

1- آل عمران، رقم الآية: 31

2- أبو داود سليمان بن الأشعث السجستاني، سنن أبى داود ج۴، ص:(۳۲۸)..الناشر : دار الكتاب العربي . بيروت

وأخرجه احمد في مسنده بلفظ: ( أَلَا إِنِّي أُوتِيتُ الْكِتَابَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ أَلَا إِنِّي أُوتِيتُ الْقُرْآنَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ). مسند أحمد (28/ 410)، والطبراني فى مسند الشاميين (2/ 137). قال الألباني: صحيح

عمربن عبدالعزيز رضي الله عنه( [1]) د رسول الله صلى الله عليه وسلم د احاديثو د ليکلو امر وکړ تر څو ضايع نشي.

په صحيح البخاري کې راځي: (وَكَتَبَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ العَزِيزِ إِلَى أَبِي بَكْرِ بْنِ حَزْمٍ: انْظُرْ مَا كَانَ مِنْ حَدِيثِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاكْتُبْهُ، فَإِنِّي خِفْتُ دُرُوسَ العِلْمِ وَذَهَابَ العُلَمَاءِ).([2])

ژباړه: او عمربن عبدالعزيز رحمه الله ابوبکر بن حزم رحمه الله ته وليکل وګوره هغه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم احاديث دي ، هغه وليکه، بيشکه زه وويريدم د علم له د لمنځه تللو څخه او د علماوو د تللو څخه.

احاديثو لومړئ مختلط تدوين شول. يعنې د تابعينو په وروستنی وخت کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم مرفوع آحاديث او د صحابه کرامو اقوال ګډ وليکل شول او بيا وروسته د تبع تابعينو په اوائلو په دويمه هجري پيړئ کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم احاديث جدا وليکل شول. يعنی د رسول الله صلى الله عليه وسلم احاديث د صحابه کرامو له اقوالو څخه جدا کړل شول.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم احاديث په مختلفو بڼو وليکل شول چې نبوي احاديث د فقهې بابونو په تر تيب سره هم وليکل شول، له همدې ليکوالانو له جملې څخه چې په احاديثو کې يې ليکلنې کړې دي يو هم امام عبدالرزاق صنعانی دی، د احاديثو د ضايع کېدو د مخنيوي په موخه يې مصنف ليکلی دی، ما هم د ماسترئ د تيزس ليکنې لپاره **( امام عبدالرزق صنعانی او په مصنف کې يې تګلاره)** دا موضوع د محترم دوکتور نصرمن الله (مجاهد) صاحب په لارښوونه او اشراف سره غوره کړه، تر څو په اړه يې ليکنه وکړم، تر څو دا واضح او روښانه شي چې امام عبدالرزاق احاديثو ته څومره خدمت کړی، او مصنف يې د علماء په آند په کومه درجه کې قرار لري؟ او د امام عبدالرزاق نه ستړی کيدونکي حديثي خدمتونه ليکوالانو او دعلم خاوندانو ته په پښتو ژبې سره واضحه شي او دا کار زما لپاره د آخرت توښه وګرځی.

## د موضوع اهميت او ارزښت

1-هر کار ځانګړی ارزښت او اهميت لري، او دا ليکنه هم لوی ارزښت ځکه لري چې د نبوي احاديثو اړوند موضوع ده، او نبوي احاديث د اسلامي شريعت دويم مصدر ګڼل کېږي.

2-همدارنګه په دې ليکنه کې هغه شخص پېژندل کېږي چې نبوي احاديثو ته يې لوی خدمت کړی، همدارنګه د هغه مصنف پېژندنه او په هغه کې د امام صنعاني منهج او تګلاره ده چې د احاديثو لويه خزانه ګڼل کېږي. نو په دې اساس دا موضوع ډيره مهمه او ارزښتناکه ده.

---

1- عمر بن عبد العزيز بن مروان بن الحكم الأموي القرشي، أبو حفص: الخليفة الصالح والملك العادل، وربما قيل له خامس الخلفاء الراشدين تشبيها له بهم( المتوفى:١٠١هـ).. الأعلام للزركلي ج ٥، ص: ٥٠ عمر بن عبدالعزيز بن مروان بن الحکم اموي قريشي ابو حفص، صالح خليفه او عادل پاچا او ځينې ورته د خلفای راشدينو پنځم خليفه هم ويل کېږي.

2- البخاری، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، صحيح البخاري ج ١، ص: ٣١) .المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر.الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي). الطبعة: الأولى، 1422هـ

3-دامام عبدالرزاق مصنف د صحابه کرامو، تابعینو او تبع تابعینو د فقهي مسائلو د موندلو لپاره لومړنی مصدر دی چې دامام عبدالرزاق څخه وروسته لیکونکو دهغه د منهج او کتاب څخه استفاده کړی ده؛ نو له دې امله ارزښت يې زيات دی.

## د موضوع د انتخاب لاملونه

د هر شي غوره کول او انتخاب ځانته اسباب او لاملونه لري، نو په همدې اساس د دې لیکنې د انتخاب اسباب او لاملونه په لاندې ډول دي:

۱- دا چې امام عبدالرزاق صنعاني په فقه او احادیثو کې لوي امام ګڼل کېږي؛ نو ومې غوښتل چې دامام عبدالرزاق دمقام او علمیت سره مونږ اشنا شو او هم په مصنف کې د هغه د تګلارې سره اشناشو ؛ نو ځکه مې دا موضوع غوره کړه.

2- ځکه مې دا موضوع غوره کړه چې په افغاني پوهنتونونو کې تر دې مهاله په دې اړه هیڅ لیکنه نه ده شوې.

۳-داحادیثو په کتابونو او مصادرو کې یو يې مصنفات دي؛ ومې غوښتل چې دامام عبدالرزاق له مصنف سره من حیث د علمي مصدر آشناشو.

## د لیکنې اهداف او موخې

دا واضح او روښانه خبره ده؛ چې هر کار ځانته موخې او اهداف لري ، همدارنګه د هرې لیکنې هم ځانته اهداف او موخې وي، نو په دې اساس زه هم د خپلې لیکنې اهداف او موخې په لاندې کرښو کې خلاصه کوم:

**لومړی:** د الله جل جلاله رضا، ځکه هر مسلمان باید په هر کار او په هر ځای کې د الله جل جلاله رضا مقصد وګڼي.

**دویم:** دا چې د لوړو زده کړو وزارت د لائحې پر اساس د ماسترۍ د دورې محصل په دې مکلف دی؛ چې د ماسترۍ د دورې په پای کې په یوه علمي موضوع کې تحقیقي او څیړنیزه رساله چمتو کړي، نو ما وغوښتل چې دغه هدف ته د رسیدو لپاره د ماسترۍ تیزس ولیکم.

**دریم:** د امام عبدالرزاق رحمه الله او دهغه د مصنف هر اړخیزه پیژندنه، تر څو دا روښانه شي چې چې امام عبدالرزاق احادیثو ته څومره خدمت کړی دی.

**څلورم:** داحادیثو د سننو کتابونو( سنن ابوداوود، سنن ترمذی، سنن نسایي، سنن ابن ماجه) مصنفینو دامام عبدالرزاق له منهج څخه استفاده کړی ده،(1) بناءً داحادیثو په حصه کې د امام عبدالرزاق منهج روښانه کول، مې بل هدف دی.

1-لکه د احادیثو جمع کول په ابواب فقهي سره، د فقه الصحابه ثبتول ، دابوابو په ترتیب سره احادیث لیکل ، فقه الاحادیث بیانول، د صحیح او غیر صحیح روایاتو ذکر کول، د شواهدو او متابعاتو ذکر کول او داسې اوداسې نور.

**پنځم:** هر محدث د ليکلو لپاره ځانګړي شـروط لري او د اکثرو محدثينو د شـروطو په اړه علماوو ليکنې کړي، ومې غوښتل چې په مصنف کې دامام عبدالرزاق شروط روښانه شي او په دې کتاب کې دامام عبدالرزاق پر منهج او تګلاره د خپل توان په اندازه روښنايي واچوم.

**شـپږم:** د نورو محدثينو په شـــان د امام عبدالرزاق د مصــــنف خدمت مې بل هدف دی ترڅو خلک يې د موضوعاتو او علومو څخه اګاه شي.

**اووم:** د نبوي احاديثو په برخه کې ناڅيزه خدمت مې تر ټولو ځانګړی هدف دی.

**اتم:** غواړم امام عبد الرزاق صنعانی رحمه الله چې د خپل وخت ستر لوی محدث ؤ معرفي کړم ، هغه محدث چې ددنيا د کونج کونج څخه به ورته محدثين راتلل. امام ســـمعاني رحمه الله 1دده په اړه وايي: (ما رحل إلى أحد بعد رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم مثل ما رحل إليه !.)2

ترجمه: د رسـول الله صلى الله عليه وسلم څخه وروسته چا بل چاته دومره سفرونه نه دي شـوي لکه څومره چې امام عبدالرزاق رحمه الله ته سفر ونه شوی دي.

او همدا راز دامام عبدالرزاق مشهور علمي اثر (مصنف عبد الرزاق) چې په حديثو او فقه الصحابه والتابعين کې معتبره او لومړنی علمي ذخيره ده معرفي کړم. دامام عبدالرزاق مصــــنف دومره لويه علمي ذخيره ده چې خلک يې د اوريدو لپاره ورته د هرځای کې څخه راتلل. امام ذهبي رحمه الله 3د امام عبدالرزاق د مصــــنف په اړه وايي: (وهو خزانة علم).4 دامام عبدالرزاق مصنف د علم خزانه ده.

## د څېړني اصلي او فرعي پوښتنې:

**اصلي پوښتنه:**

امام عبد الرزاق صنعاني څوک دی؟ او په مصنف کې د هغه تګلاره څه ده؟

**فرعي پوښتنې:**

1. امام عبدالرزاق الصنعانی د کوم ځای و او څرنګه يې تحصيل وکړ؟
2. د امام عبد الرزاق صنعاني عقيدوي او فقهي مذهب څه ؤ.؟
3. د امام عبدالرزاق صنعاني استاذان او شاګردان څوک دي؟

---

1- السَّـــمْعَانِيّ، الإِمَام الْحَافِظ الأوحد أَبُو بكر مُحَمَّد بن أبي المظفر مَنْصُـــور بن مُحَمَّد ابْن عبد الْجَبَّار التَّمِيمِي الْمروزِي ســـمع أَبَاهُ وخلائق وارتحل وأملى مائَة وَأَرْبَعين مَجْلِســا بِجَامِع مرو وَوعظ وبرع فِي الْأَدَب وَالْفِقْه وَالْخلاف وَزَاد على أقرانه بِعلم الحَدِيث وَمَعْرِفَة الرِّجَال والأنســاب والتاريخ مَاتَ فِي صــفر ســنة عشر وَخَمْسمِائة عَن ثَلَاث وَأَرْبَعين. طبقات الحفاظ للسيوطي (ص: 460)

2- الأنساب للسمعاني (3/ 556)

3- الذهبي، محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الشيخ الإمام الحافظ شمس الدين أبو عبد الله الذهبي، شيخنا الإمام حافظ الشام. كان في حفظه لا يجارى، وفي لفظه لا يبارى، أتقن الحديث ورجاله، ونظر علله وأحواله، عرف تراجم الناس، وأزال الإبهام في تواريخهم والإلباس، مع ذهن يتوقد ذكاؤه، ويصـح إلى الذهب نسبه وانتماؤه. وتوفي - رحمه الله تعالى - في ثالث ذي القعدة سنة ثمان وأربعين وسبع مئة، ودفن في مقابر باب النصر.أعيان العصر وأعوان النصر. (4/ 288)

4- ميزان الاعتدال (2/ 609)

4. په احاديثو کې د امام عبدالرزاق حديثي خدمتونه څه دي؟
5. د احاديثو په کومو برخو کې امام صنعاني خدمات ترسره کړي دي؟
6. د امام عبد الرزاق په مصنف کې څه منهج دی؟
7. د مصنف څخه پرته د امام عبد الرزاق نور آثار کوم دي؟
8. امام عبد الرزاق صنعاني په اسلامي نړۍ څخه اغيز لري؟

## د موضوع اړوند پخوانۍ ليکنې او آثار

په اسلامي امت باندې د رب العزت د احساناتو څخه يو احسان دا هم دی، چې وخت په وخت يې په اسلامي امت کې اسلامپال علماء کرام او پوهان پيدا کړي دي، او هر وخت يې د توري د جهاد او مبارزې ترڅنګ د قلم جهاد او مبارزه هم کړې ده، په ديني او اسلامي موضوعاتو باندې يې هميشه ليکنې کړې دي، دامام عبدالرزاق صنعاني او د هغه د مصنف په اړه هم ځينې ليکنې شوې دي:

لومړۍ ليکنه: د الازهر په پوهنتون کې په دکتورا لپاره (المكانة العلمية لعبدالرزاق بن همام الصنعاني) تر عنوان لاندې شوې ده.

دوهمه ليکنه: په جامعة الامام محمدبن سعود الاسلامية يو هـ رساله د (زوائد مصنف عبدالرزاق ) تر عنوان لاندې ليکل شوې ده. خو د (امام عبدالرزاق صنعاني او په مصنف يې کې تګلاره) تر عنوان لاندې کومه ليکنه زما د معلوماتو مطابق تر دې مهاله نه ده ليکل شوې. نو له همدې وجهې مې دا موضوع د ليکنې لپاره غوره کړه.

دريمه ليکنه: دامام عبدالرزاق په اړه بله ډيره مفصله او ارزښتناکه ليکنه د( الجامعة الاردنية) د اردن په پوهنتون کې د ماسترۍ هغه تيزس دی چې اسماء ابراهيم سعودعجين د ( منهج الحافظ عبدالرزاق الصنعانى في مصنفه) تر عنوان لاندې ليکلی دی چې ددې څخه وروسته ټولو ليکوالانو دده له کتاب څخه استفاده کړې ده.

ما هم په دې رساله کې ددغو مراجعو څخه زياته استفاده کړې ده ځکه چې ما نور داسې مراجع پيدانکړې چې دامام عبدالرزاق په اړه يا د هغه د مصنف په اړه په کې مفصل بحث شوي وي، ددې ترڅنګ د مطالبو دتشريح او توضيح په اړه مې د نورو بې شميره مراجعو څخه استفاده کړې ده چې دا هر څه د رسالې د لمن ليک څخه په ډاګه معلوميږي.

## د څيړنې تګلاره

دا چې هر کار خپله ځانګړې تګلاره او کړنلاره لري، همدغه شان په يوه علمي موضوع کې ليکنه او څېړنه هم ځانته اصول او مقررات لري، نو په همدې اساس زه هم د خپلې ليکنې تګلاره په لاندې ټکو کې خلاصه کوم، چې د ليکنې په دوران کې به ان شاءالله د دې تګلارې سره سم دغه ليکنه تر پايه رسوم:

1. دا ليکنه يوه وصفي اوکتابتوني ليکنه ده، نو ځکه به د نقل او تحليل پر اساس ترسره کيږي.
2. د موضوع مربوط مسائل به د خپلو اصلي مصادرو او مراجعو څخه ذکر کوم.
3. په حاشيه کې به د مصادرو ذکر دبحث د اصولو موافق کوم.

4. کوښښ به وکړم چې په حاشیه کې به د اعلامو تراجم ذکر کړم.
5. همدا راز کوښښ به وکړم چې د امام عبدالرزاق منهج په واضحه ټکو کې ذکر کړم.
6. کوښښ به وکړم چې کوم احادیث په رساله کې ذکر شوي دي د هغې تخریج او درجه بیان کړم.
7. د لیکنې په اوږدو کې به د محترم لارښوود استاذ سره وخت په وخت مشوره کوم او دهغه څخه به لازمې لارښونې اخلم، او په جدي توګه به یې عملي کوم.

## د لیکنې په وخت کې ستونزې او مشکلات

دا چې انسان ناتوان او عاجز مخلوق دی او دانسان د ژوند سره ستونزې او مشکلات هم تړلي دي ، نو په همدې اساس زه هم  په دې لیکنه کې د ځینو ستونزو او مشکلاتو سره مخ شوی یم چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

لومړی: د اقتصادي ستونزو او ناخوالو له امله مې ونه شو کړای چې د موضوع اړونده ټول مراجع او مصادر د هیواد څخه له خارج څخه را ونیسم؛ ددې امله زیاته استفاده مې د( المکتبة الشامله) څخه کړې ده.

دوهم:  د هیواد په داخل کې د مصادرو او مراجعو کموالی بله هغه ستونزه وه چې ورسره مخ شوم؛ ځکه مونږ په هیواد کې داسې غنې کتابخانې نلرو چې په علمي ځیړنو کې ورڅخه استفاده وشي او زما د موضوع اړوند کتابونه په کې موجود وي.  نو له دې امله  د انټرنټ څخه په استفادې مې ومو کولای شول ځینې کتابونه ډاونلوډ کړم او ورڅخه مې استفاده وکړم.

دریم: دا چې د اسلام د مبارک دین او دمحدثینو او فقهاوو مربوط ټول معلومات په عربي ژبه کې دي، نو د دې معلوماتو راټولول او هغه پښتو ژبې ته ژباړل او بیا موضوع لیکل او منظم کول هم یوه لویه ستونزه وه چې ورسره مخ وم.

څلورم: دا چې د دې موضوع  اړوند زمونږ په هېواد کې کوم کتاب او رساله نه ده لیکل شوی، نو د موضوع آړوند معلومات د مختلفو مراجعو څخه نقلول ډیر ستونزمن کار دی؛ خو بیا هم د الله تعالی په مرسته او د خپل انساني توان او استعداد مطابق مې هڅه وکړه؛ چې دا موضوع راجمع او ولیکم.

## د څېړنې پلان او خطه

### امام عبدالرزاق صنعاني او په مصنف کې یې تګلاره

دا بحث په یوې مقدمې او دوو فصلونو مشتمل دی چې هر فصل په مبحثونو او بیا په مطلبونو مشتمل دی او په آخر کې نتیجه او دبحث پای په نظر کې نیول شوی ده.

مقدمه: په لاندې عنوانونو مشتمله ده:

- د موضوع پېژندنه
- د موضوع اهمیت
- د موضوع د انتخاب لاملونه
- د موضوع اهداف
- د موضوع اصلي او فرعي پوښتنې
- د موضوع مخینه
- د څېړنې تګلاره
- د څېړنې فصلونه او مبحثونه

### لومړی فصل

### تمهید

### د امام عبدالرزاق پېژندنه

لومړی فصل په شپږو مبحثونو مشتمل دی

**لومړی مبحث: د امام عبدالرزاق پېژندنه،** چې دا مبحث په اوو مطلبونو مشتمل دی:

لومړی مطلب: دامام عبدالرزاق نوم او کنیه.

دویم مطلب: دامام عبدالرزاق زوکړه.

دریم مطلب: د امام عبدالرزاق کورنۍ.

څلورم مطلب: دامام عبدالرزاق زده کړه.

پنځم مطلب: دامام عبدالرزاق سفرونه.

شپږم مطلب: د امام عبدالرزاق رحمه الله علمي مرتبه او علمي القاب.

اووم مطلب: دامام عبدالرزاق وفات.

**دویم مبحث: دامام عبدالرزاق سیاسي او علمي ژوند،** دا مبحث په څلورو مطلبونو مشتمل دی:

لومړی مطلب: دامام عبدالرزاق په وخت کې د اسلامي نړۍ سیاسي حالات او اوضاع.

دویم مطلب: پر حدیث باندې د سیاسی حالاتو اغیزې.

دریم مطلب: دامام عبدالرزاق پر وخت کې د موضوعي آحادیثو جوړول.

څلورم مطلب: دامام عبدالرزاق علمي ژوند ته کتنه. دا مطلب په لاندې فقرو مشتمل دی:

الف: په اسلامي دولت کې دعبدالرزاق د علمي ژوند حالت.

ب: د امام عبدالرزاق په وخت کې حدیث او نور علوم.

ج: دامام عبدالرزاق په وخت کې داحادیثو ځانګړی تصنیفات.

د: دامام عبدالرزاق عقیدوي مذهب.

هـ: دامام عبدالرزاق فقهي مذهب.

**دریم مبحث : دامام عبدالرزاق استاذان اوشاګردان یی،** دا مبحث په دوه مطلبونو مشتمل دی:

لمړی مطلب: دامام عبدالرزاق استاذان.

دویم مطلب: دامام عبدالرزاق شاګردان.

**څلورم مبحث: دامام عبدالرزاق په اړه دعلماوو څرګندونی،**

دا مبحث په څلورو مطلبونو مشتمل دی:

لومړی مطلب: د امام عبدالرزاق اختلاط.

دویم مطلب: دامام عبدالرزاق شیعه توب.

درم مطلب: دامام عبدالرزاق تدلیس.

څلورم مبحث: دامام عبدالرزاق تالیفات.

**دوهم فصل**

**امام عبد الرزاق رحمه الله تګلاره په مصنف کې**

لومړی مبحث: دمصنفاتو پېژندنه

لومړی مطلب: د مصنف معنی او مفهوم

دوهم مطلب: د مصنفاتو شمېر

درېیم مطلب: د مصنفاتو ، سننو او د احادیثو د نورو کتابونو تر منځ توپیر

**دوهم مبحث: د امام عبد الرزق صنعاني دمصنف پېژندنه**

لومړی مطلب: د مصنف د لیکلو لاملونه

دوهم مطلب: د مصنف عبدالرزاق د لیکلو پړاوونه

درېیم مطلب: د مصنف اسانید او راویان

څلورم مطلب: د مصنف موضوعات او محتویات

پنځم مطلب: د مصنف د احادیثو شمېر

شپږم مطلب: د مصنف په اړه د علماوو نظرونه

اووم مطلب: د مصنف مخطوطې او چاپ شوې نسخې

اتم مطلب: : د عبدالرزاق د مصنف مصادر

**درېیم مبحث: د امام عبد الرزاق تګلاره په مصنف کې**

لومړی مطلب: د امام عبد الرزاق شروط په مصنف کې
دوهم مطلب: په سندونو کې یې تګلاره
درېیم مطلب: د امام عبد الرزاق حدیثي صناعت
څلورم مطلب: د امام عبد الرزاق فقهي تګلاره
**پایله (نتیجه)**
فهارس
- د آیاتونو فهرست
- د احادیثو او آثارو فهرست
- د اعلامو فهرست
- مأخذونه او مصادر

# تمهید

صحابه کرامو په دې حریص ؤ چې هر هغه څه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وربانديې تلفظ کوي واوري او یاد یې کړي او هغه په ژوند کې تطبیق کړي ، داچې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې مهم کار دا ؤ چې باید قرآن کریم هم په یادو زده کړل شي او هم ولیکل شي ، صحابه کرام چې په اسلام نوی مشرف شوي ؤ له دې ویریده چې احادیث د قرآن کریم سره په لیکلو سره ګډ نشي ، له دې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم په لومړیو کې د آحادیثو د لیکلو څخه نهی وکړه او داسې یې وفرمایل: (لاَ تَكْتُبُوا عَنِّي وَمَنْ كَتَبَ عَنِّي غَيْرَ الْقُرْآنِ فَلْيَمْحُهُ).[1]

ژباړه: مه لیکئ زما څخه هیڅ شـی علاوه د قرآن کریم څخه او چاچې څه لیکلي وي علاوه د قرآن کریم څخه باید هغه محوه کړي.

مګر د ځینو صحابه کرامو په اړه چې مطمئن ؤ چې د احادیثو په لیکلو سره د هغوی څخه قرآن کریم د احادیثو ســـره نه ګډېږي هغوی ته د احادیثو د لیکلو اجازه ورکړه لکه عبدالله بن عمرو بن العاص رضـــي الله عنه (2) او یمني ابوشاه رضی الله عنه 3

او حضرت علی رضي الله عنه هم له ځان لپاره یوه صحیفه ساتلی وه او په هغې کې یې ځینې اسلامي احکام او د دیاتو مربوط مسائل لیکلي ؤ.

د صحابه کرامو په وخت کې چې کله داموبانو په وخت کې اسلامي فتوحات په شرق کې تر چین پورې ورسیدل او په غرب کې تر محیط اطلسي ته ورسیده او په شمال کې اناضول، ارمینیا او آذربیجان ته ورسیدل او په جنوب کې محیط هندي ته ورســیدل، ددې حاجت او اړتیا پیدا شــوه چې خلک د رســول الله صــلی الله علیه وســـلم د آحادیثو څخه خبر شي او له بل طرفه فقهي اجتهادات رامنځ ته شول دهمدې امله عادل خلیفه عمربن عبدالعزیز رحمه الله د لومړي هجري قرن په اواخرو کې رسماً یې داحادیثو په لیکلو او تدوین یې امر وکړ.

د اقلیمونو امیرانو ته یې حکم وکړ چې مشــهور او ثقه علماوو ته دنده ورکړي چې د رســول الله صـلی الله علیه وسلم احادیث ولیکي او هغه تدوین کړي چې په سـر کې یې مشـهور عالم محمد بن مسـلم بن عبید الله بن عبدالله بن شهاب الزهري رحمه الله ؤ.

د هغوی د تدوین طریقه داسـې وه چې هغوی ټول هغه احادیث چې د رســول الله صـلی الله علیه وســلم څخه نقل شوي ؤ لیکل برابره خبره که هغه روایاتو په د قرآن کریم په تفسیر پورې تړاو درلود او که په عقایدو پورې یې تړاو درلود، یا یې په عباداتو پورې تړاو درلود یایې په معاملاتو پورې تړاو درلود او یایې په معاملاتواو غزواتو پورې تړاو درلود او یایې په قضایي امورو پورې تړاو درلود.4

---

1- حیث صحیح اخرجه مسلم في صحیحه عن أبي سعیدالخدري رضي الله عنه.صحیح مسلم(8 /229)

2- عن عبدالله بن عمرو بن العاص قال: کنت أکتب کل شيء أسـمعه من رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم أرید حفظه فنهتني قریش، وقالوا: أتكتب کل شـيء تسـمعه ورسـول الله صـلی الله علیه وسـلم بشـر، یتکلم في الغضـب والرضـا؛ فأمسـکت عن الکتاب، فذکرت ذلك لرسـول الله صـلی الله علیه وسـلم فأومأ بإصبعه إلی فیه فقال: اکتب فوالذي نفسي بیده ما یخرج منه إلا حق). حدیث حدیث صحیح أخرجه أحمد وأبو داود واللفظ له رقم (3646) باب في کتاب العلم 318/3.

3- قال أبو شاه:(اکتب لي یا رسول الله، فقال: اکتبوا لأبي شاه). الشیخان واللفظ لمسلم رقم (1355) باب تحریم مکة 988/2.

4- مقدمة صحیح مسلم رواه عن عبدالله بن المبارك 15/1، مقدمة صحیح مسلم رواه عن محمد بن سیرین 14/1.

د هجرت په دوهم قرن کې په ديني علومو کې مستقل، مستقل ليکل شروع شول او د سنتو کتابونه هم د فقهې ، غزواتو، او تفسير څخه مستقل او جدا وليکل شول، او محدثينو سنت او احاديث د جوامعو، مسانيدو، سننو او مصنفاتو په شکل کې وليکل شول.(1)

د احاديثو په ليکلو کې د محدثينو مختلف منهجونه ؤ، ځينو يوائې هغه احاديث راجمع کول چې صحيح ؤ او د احاديثو د ليکلو لپاره د حديث صحت شرط ګرځولی ؤ، لکه امام بخاري ، امام مسلم او ابن خزيمه. ځينو نورو بيا صحيح او صحيح ته نږدې احاديث راجمع کول او هغه يې ليکل لکه امام ابو داود، امام ترمذی او امام نسائي.

ځينو نورو بيا د حديث صحت او عدم صحت شرط نه ګرځولو بلکې ټول هغه احاديث يې ليکل چې دوی ته رسيدلي ؤ لکه امام عبدالرزاق صنعاني او امام ابن ماجه قزويني.

**د احاديثو د کتابونو ډولونه:** د احاديثو کتابونه مختلف ډولونه لري چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

**۱-جوامع:** جوامع هغه کتابونو ته ويل کيږي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په هر باب پورې تړلي احاديث په کې را جمع کړي وي که عقايد، عبادات، معاملات، غزوات، تفسير، فضائل ، د خوبونو تعبير... لکه الجامع الصحيح للبخاري،الجامع الصحيح لمسلم،جامع عبد الرزاق،جامع الثوريّ،جامع ابن عيينة،جامع معمر،جامع الترمذي وغيرها.[2]

**۲- سنن:** د سننو هغه کتابونو ته ويل کيږي چې په هغې کې هغه احاديث راجمع شوي وي چې په فقه پورې تړاو لري لکه کتاب الطهارة، کتاب الصلاة، کتاب الصوم، کتاب الزکاة، کتاب الحج، کتاب النکاح چې مشهور يې دادي : سنن ابی داود، سنن نسائي، سنن دارمي، سنن ابن ماجه.[3]

**۳-مسانيد:** مسانيد هغه کتابونو ته ويل کيږي چې مؤلف په کې احاديث د راوي او صحابي په اعتبار سره راټول کړي وي ،يعنې د يو صحابي څخه چې څومره احاديث روايت شوي وي هغه يې ټول په يوځای کې راټول کړي وي، لکه مسند امام احمد، مسند امام حميدي، مسند طيالسي، مسند ابي يعلی الموصلي، مسند عبدبن حميد رحمهم الله حميعا.[4]

**۴-مصنفات:** مصنفات هغه کتبابونو ته ويل کيږي چې په فقهي بابونو باندې مشتمل وي او په هغه کې مرفوع احاديث، موقوف احاديث او مقطوع احاديث ټول موجود وي او همدا راز د صحابه کرامو، تابعينو او اتباع تابعينو فتواګانې هم په کې موجود وي. چې ځينې مشهور مصنفات دادي مصنف امام عبدالرزاق، مصنف امام ابوبکر بن ابی شيبه، مصنف امام بقی بن مخلد قرطبی، مصنف امام وکيع بن جراح، مصنف امام حماد بن سلمه.5

په مصنفاتو کې د امام عبدالرزاق صنعاني مصنف د هغه لومړيو کتابونو څخه دی چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم احاديث په کې د لومړي ځل لپاره امام عبدالرزاق ليکلي ، ساتلي او حفظ کړي دي او تر ټولو لوی مصنف دی چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم احاديث، د صحابه کرامو فقه او د تابعينو او تابع تابعينو

---

1- منهج الإمام البخاري لأبی بکر کافي (ص: 22) بالاخصار.

2- المفصل في أصول التخريج ودراسة الأسانيد جمعُ وإعدادُ: الباحثُ في القُرآنِ والسُّنَّةِ عليُّ بنُ نايفَ الشَّحُّودَ (1/258)، تيسير مصطلح الحديث (ص: 208)

3- مذکرة في التخريج للشيخ الطواري (ص: 9)،دروس التخريج (ص: 5)

4- مذکرة في التخريج للشيخ الطواري (ص: 9)، تيسير مصطلح الحديث (ص: 209)

5- شرح کتاب: أصول التخريج ودراسة الأسانيد، لبدران العيَّاري (ص: 5)

فتواګانو ته په خپل کتاب کې ځای ورکړی دی لکه چې امام ذهبي رحمه الله 1د امام عبدالرزاق د مصـــنف په اړه وايي: (وهو خزانة علم).2 دامام عبدالرزاق مصنف د علم خزانه ده.

**٥-الموطّآت:** دا هغه کتابونه دي چې په فقهې باندې ترتيب شـــوي وي او په مرفوع، موقوف، او مقطوع احاديثو مشـتمل وي لکه د مصـنف په څير. د موطا او مصـنف ترمنځ دومره زيات د ترتيب په اعتبار سـره نشـته يوازې د تسمې اختلاف دی او د موطأ څخه مراد د رسـول الله صلى الله عليه وسـلم ته د خلکو آسـانه لاس رسی. د همدې وجی نه په موطا مسمی شو.3

1- الذهبي، محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الشيخ، الإمام، الحافظ ، شمس الدين أبو عبد الله الذهبي، د شام حافظ ، د هغه د حفظ په اړه جګړه نشي کيدای ، او د هغه په لفظ کې مقابله نشـي کيدلی، حديث او علم الرجال يې ښـــه زده کړل او د حديثو په علتونو او احوالو کې ژور نظر واچولو ، د خلکو تراجم يې وپيژندل، او د خلکو له تاريخ څخه يې ابهام او التباس لرى کړ ، دداسـې ذهن سـره چې هوښـياري يې ځليدله او نسـبت د نسـب يې سـرو زو ته درست دی .په (٧٤٨) هجرى کې د ذوالقعدې په دريمه وفات شـو او د باب النصر په مقبره کې دفن کړل شـو..أعيان العصر وأعوان النصر للصفدي (4/ 288)

2- ميزان الاعتدال (2/ 609)

3- الميسر في علم تخريج الحديث النبوي، لأبى ذر عبد القادر بن مصطفى بن عبد الرزاق المحمدي (ص: 10)

# لومړی فصل

# کلیات

## لومړی مبحث: د امام عبدالرزاق رحمه الله پېژندنه

### لومړی مطلب: نوم او کنیه يې

**الف: نوم يې**. نوم يې عبدالرزاق بن همام بن نافع ، ابوبکر مولی حمیري، صنعاني او يماني دی.

امام ابن عساکر[1] دده د نوم او نسب په اړه ليکي: (عبد الرزاق بن همام بن نافع أبو بكر الحميري مولاهم الصنعاني اليماني).[2]

-مولاهم الحميری: حمیر ته منسوب دی او حمیر په یمن کې د یوې قبیلې نوم دی. امام عبدالرزاق ته ځکه د حمیري وايي چې د حمیر قبیلې په توسط دده نیکه نافع اسلام قبول کړی دی او دا موالات د تناصر او اسلام دی.

وسئل عبدالرزاق عن نسبه فقال:(كان جدنا نافع واخت له مملوكين لعبدالله بن عباس فاشتراهما ابن مغيث، فاتخذ الجارية لنفسه واعتق جدنا نافعا، فنحن مواليه ولاء عتاقة).[3]

ترجمه: دامام عبدالرزاق څخه د هغه د نسب په باره کې وپوښتل شول ، هغه ویل: زمونږ نیکه نافع او دهغه خور د عبدالله بن عباس رضي الله عنه غلامان ؤ چې بیا ورڅخه ابن مغیث واخیستل هغه ښځه د ځان لپاره دوینزې په توګه وساتله او نافع يې آزاد کړ، نو مونږ د ابن مغیث د آزادۍ له پلوه موالی یو.

امام عبدالرزاق د پلار له خوا فارسي ؤ او دمور له خوا عربي ؤ؛ ځکه ورته ابناء وايي.

امام ابن عساکر رحمه الله ليکي: (عبد الرزاق يماني من الأبناء).[4]

امام فراء رحمه الله د ابناء به تعریف کې وايي:( قال الفراء الأبناء قوم آباؤهم من الفرس وأمهاتهم من اليمن سموا بالأبناء لأن أمهاتهم من غير جنس آبائهم.)[5] ابناء هغه قوم دی چې پلرونه يې دفارس نه وي او میندې يې له یمن څخه وي، ابناء ورته ځکه ویل کیږي چې میندې يې د پلورنو له جنس څخه علاوه دبل جنس څخه وي.

-الصنعاني: صنعانی ورته ځکه وايي چې په صنعاء کې زیږدلی دی او په صنعاء کې يي ژوند کړی دی او (صنعاء) د یمن د مشهور ښار نوم دی.

---

1- ابن عساكر: علي بن الحسن بن هبة الله، الإمام الحبر البحر الحافظ الحجة إمام أهل الحديث ثقة الدين أبو القاسم الدمشقي الشافعي، صاحب المصنفات . الكثيرة الحافلة منها: تاريخ دمشق في ثمانين مجلداً ضخماً، والموافقات في ثمان مجلدات وتبيين كذب المفتري مجلد. توفي سنة 571. ديوان الإسلام (ص: 66، بترقيم الشاملة آليا)

2- تاريخ دمشق (36/ 160)، الثقات لابن حبان (8/ 412)، الكواكب النيرات لابن الكيال- (ص: 266)، تهذيب الكمال في أسماء الرجال (18/ 52)

3- اکمال تهذيب الكمال لمغلطای ۲۶۸/۸

4- تاريخ دمشق (36/ 167)

5- الزاهر فى معانى كلمات الناس، لأبى بكر الأنباري (2/ 135)

ياقوت الحموي 1وايي: (صــنعاء منســوبة إلى جودة الصــنعة في ذاتها كقولهم امرأة حســناء وعجزاء وشــهلاء والنسبة إليها صنعاني على غير قياس كالنسبة إلى بهراء بهراني).2

مشــهور مؤرخ ابن خلكان 3رحمه الله په دې اړه وايي: (والصــنعاني: بفتح الصــاد المهملة وســكون النون وفتح العين المهملة وبعد الألف نون، هذه النسـبة إلى مدينة صـنعاء، وهي من أشـهر مدن اليمن.) 4 صـنعاني صـنعاء ته منسوب دی او صنعاء ديمن د مشهورو ښارونو څخه دی.

-اليماني: هم ورته وايي او يماني نسـبت يمن ته دی. امام ابو الحســن الجرزي وايي: ( اليماني بفتح الياء والميم وبعد الألف نون هذه النسبة إلى اليمن والنسبة إليه أيضا يمني).5

يماني په فتحې د ياء او ميم سره چې الف څخه وروسته نون دی دا نسبت يمن ته دی او يمني هم ورته ويل کيږي.

## ب: دامام عبدالرزاق کنيه

د امام عبدالرزاق کنيه ابوبکر دی.

ابوبکر ابن منجويه 6وايي :(عبدالرزاق بن همام الحميري مولاهم اليماني الصنعاني كنيته ابو بكر).(7)

امام عبدالرزاق حميري، يماني صنعاني، کنيه يې ابوبکر ده.

## دويم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله زوکړ

امام عبدالرزاق وايي (ولدت سنة ست وعشرين ومئة).(8)

ترجمه: زه په يو سل شپږويشت هجري کې پيدا شوی يم. او (۱۲۶) هجري کال د بني اميه د خلافت وروستي وختونه ؤ، چې په دې وخت کې وليد بن يزيد ابن عبدالملک خليفه ؤ، او وليد په (۱۲۵هــــ) کال کې خلافت ته رسېدلی ؤ.(9)

امام ابن عساکر رحمه الله10 ذکر کړي دي: (ومولده سنة ست وعشرين ومائة).(11)

---

1- ياقوت بن عبد الله، الرومي الجنس والمولد الحموي المولى البغدادي الدار، الملقب شــهاب الدين، أســر من بلاده صــغيراً، وابتاعه ببغداد رجل تاجر يعرف بعسكر بن أبي نصر إبراهيم الحموي. اديب وعالم جغرافيا .وفيات الأعيان لابن خلكان (6/ 127)

2- معجم البلدان (3/ 425)

3- ابن خلكان: أحمد بن محمد بن إبراهيم. الإمام الفقيه الأديب المؤرخ قاضــي القضــاة شــمس الدين أبو العباس البرمكي الأربلي الدمشــقي، مؤلف التاريخ الحافل المشهور، وله شعر حسن.توفي سنة 681. ديوان الإسلام (ص: 40، بترقيم الشاملة آليا)

4- وفيات الأعيان لابن خلكان (3/ 217)

5- اللباب في تهذيب الأنساب (3/ 417)

6- الحافظ ابن منجويه : أحمد بن علي بن محمد بن إبراهيم بن منجويه أبو بكر الأصــبهاني اليزدي نزيل نيســابور، إمام كبير وحافظ مشــهور ثقة صــدوق، وصنف كتباً كثيرة، ومات في سنة ثمان وعشرين وأربع مائة. الوافي بالوفيات للصفدي (2/ 452، بترقيم الشاملة آليا)

7- ابن منجويه، احمد بن علي بن منجويه الأصبهاني أبو بكر(ت: 428) رجال مسلم ج۲، ص: ۸. تحقيق عبد الله الليث. الناشر دار المعرفة.مكان النشر بيروت

8- الشيباني، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال الشيباني (ت: 241هــ) العلل ومعرفة الرجال ج۱،ص:۳۶۱..المحقق: وصي الله بن محمد عباس( الناشر: دار الخاني , الرياض،الطبعة: الثانية، 1422 هـ - 201 م).

(9) طبقات فقهاء اليمن، للجعدي، ص:۶۷، السيوطى، جلال الدين السيوطى تاريخ الفقهاء ص: ۲۵۰

10-ابن عساكر الإمام الحافظ الكبير محدث الشام فخر الأئمة ثقة الدين, أبو القاسم علي بن الحسن بن هبة الله بن عبد الله بن الحسين الدمشقي الشافعي, صاحب التصانيف والتاريخ الكبير: ولد في أول سنة تسع وتسعين وأربعمائة. تذكرة الحفاظ = طبقات الحفاظ للذهبي (4/ 82)

11-ابن عساكر، أبو القاسم علي بن الحسن بن هبة الله ابن عساكر الدمشقي (ت: 571) ، تاريخ دمشق ج 36، ص: ( 192)

ترجمه: دامام عبدالرزاق پیدایش په (۱۲۶) هجري کې شوی دی.

## دریم مطلب: د امام عبدالرزاق رحمه الله کورنۍ

عبدالرزاق په یوه علمي کورنۍ کې دې دنیا ته خپلې سترې پرانستلې دي، پلار یې محدث ؤ.

حافظ ابن حجر 1د عبدالرزاق د پلار په ترجمه کې وايي: همام بن نافع حمیري مولاهم الیماني الصـــنعانی د ابن عباس رضی الله عنه د غلام عکرمه او وهب بن منبه، او د عبدالرحمن بن عوف له مولی(غلام) میناء او قیس بن یزید الصـــنعاني او داســې نورو څخه روایتونه کړي، او له ده څخه د ده زوي عبدالرزاق روایتونه کړي دي، اسحاق بن منصور وايې ثقه دی او ابن حبان په ثقاتو کې ذکر کړی دی.(2).

همدارنګه امام ابن أبي حاتم الرازي 3 لیکي:( عن یحیی بن معین أنه قال: همام والد عبد الرزاق ثقة). 4 یحیی بن معین وايي: د عبدالرزاق پلار همام ثقه دی.

امام ابن حبان بســتي 5 وايي:( همام بن نافع مولی حمیر والد عبد الرزاق بن همام من خیار أهل الیمن وعبادهم حج ستین حجة وکان ظاهر العبادة).6

مشــهور او زاهد عالم وهب بن منبه رحمه الله یې تره ؤ؛ چې د عکرمه مولی ابن عباس، څخه یې روایتونه کړي دي.([7])

1- ابْن حجر،شـيخ الْإِسْلَام وَإِمَام الْحفاظ فِي زَمَانه وحافظ الديار المصرية بل حَافظ الدُّنْيَا مُطلقًا قَاضِي الْقُضَاة شـهَاب الدّين أَبُو الْفضل أَحْمد بن عَليّ بن مُحَمَّد بن مُحَمَّد بن عَليّ بن مَحْمُود بن أَحْمد الْكِنَانِي الْعَسْقَلَانِي ثمَّ الْمصْرِيّ الشَّافِعِي ولد سنة ثَلَاث وَسبعين وَسَبْعمائة صاحب المؤلفات الشهيرة. توفّي فِي ذِي الْحجَّة سنة اثْنَتَيْنِ وَخمسين وَثَمَانمِائَة. طبقات الحفاظ للسيوطي (ص: 553)، فتح الباري- تعليق ابن باز (1/ 3)

(2) ابن حجر، أبو الفضـــل أحمد بن علي بن بن حجر العســـقلاني (ت: 852هــــ) تهذيب التهذيب ج۱۱،ص:۵۹،.(الناشــر: مطبعة دائرة المعارف النظامية، الهند،الطبعة: الطبعة الأولى، 1326هــــ) ، أبو حاتم ، محمد بن حبان بن أحمد بن حبان، التميمي، أبو حاتم، البُســتي (المتوفى: 354هــــ) كتاب الثقات ج۷،ص:۶۸۵..(الناشر: دائرة المعارف العثمانية بحيدر آباد الدكن الهند،الطبعة: الأولى، 1393 ه تهذيب الكمال (30/ 301)

3- ابْن أبي حَاتِم الإِمَام الْحَافِظ النَّاقِد شـيخ الْإِسْلَام أَبُو مُحَمَّد عبد الرَّحْمَن ابْن الْحَافِظ الْكَبِير مُحَمَّد بن إِدْرِيس بن الْمُنْذر التَّمِيمِي الْحَنْظَلِي الرَّازِيّ . ولد سـنة أَرْبَعِينَ، ورحل بِهِ أَبوهُ فَأدْرك الْأَسَـــانِيد الْعَالِيَة، قَالَ الخليلي أَخذ علم أَبِيه وَأبي زرْعَة وَكَانَ بحراً فِي الْعُلُوم وَمَعْرِفَة الرِّجَال ثِقَة حَافِظًا زاهداً يعد من الأبدال لَهُ الْجرْح وَالتَّعْدِيل وَالتَّفْسِير وَالرَّدّ على الْجَهْمِية.مَاتَ فِي محرم سنة سبع وَعشْرين وثلاثمائة طبقات الحفاظ للسيوطي (ص: 347)

4- الجرح والتعديل لابن أبي حاتم (9/ 107)

5-ابن حبان: هو محمد بن حبان بن احمد بن حبان - بكســر الحاء المهملة وبالباء الموحدة فيهما - بن معاذ بن معبد - بالباء الوحدة - بن ســعيد بن ســهيد - بفتح السين المهملة وكسر الهاء - ويقال: ابن معبد ابن هدية - بفتح الهاء وكسر الدال وتشديد الياء آخر الحروف - أبو حاتم التميمي البستي القاضي احد الائمة الرحالين والمصـــنفين.ولد ببســت وهي مدينة كبيرة هراة وغزنة (من بلاد كابل عاصـــمة افغان اليوم) .قال الحاكم النيســابوري: (كان ابن حبان من اوعية العلم في الفقه واللغة والحديث والوعظ ومن عقلاء الرجال .قال أبو سعد عبد الرحمن بن احمد الادريسي: (أبو حاتم البستي كان من فقهاء الناس وحفاظ الاثار المشـهورين في الامصار والاقطار عالما بالطلب والنجوم وفنون العلوم الف المسند الصحيح والتاريخ والضعفاء والكتب المشـهورة في كل فن وفقه الناس بسمرقند ثم تحول الى بست) مشاهير علماء الأمصار (ص: 13)

6- ابن حبان بستي، مشاهير علماء الأمصار (ص: 193)

7-ابن معين، يحيى بن معين أبو زكريا البغدادي(ت: ۲۳۳ ) تاريخ ابن معين رواية الدورى ج ۳، ص: ۱۰۳ .الناشر: مركز البحث العلمي وإحياء التراث الإسلامي - مكة المكرمة.الطبعة الأولى ، 1399 – 1979. تحقيق : د. أحمد محمد نور سيف ، رازي، ابن أبي حاتم، عبد الرحمن بن محمدبن المنذر التميمي، الحنظلي، الرازي (ت: 327هـ) الجرح والتعديل، ج ۹، ص: ۲۴ ( الناشر: طبعة مجلس دائرة المعارف العثمانية - بحيدر آباد الدكن – الهند،دار إحياء التراث العربي – بيروت،الطبعة: الأولى، 1271 هـ

ورور يي عبدالوهاب بن همام رحمه الله د خپل وخت لوی محدث ؤ. ابن معين وايي ثقه دی.([1])

## څلورم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله زده کړه

امام ذهبي رحمه الله 2پخپل كتاب (مىزان الاعتدال) کې ذکر کړي دي چې (وطلب العلم وهو ابن عشرين سنة) ([3]) امام عبدالرزاق شل کلنی کې د علم زده کړې ته خپله ملاوتړله. دا په دې معنا چې په (۱۴۶هـــ ) کال يې د خپلو شـيخانو څخه په يمن کې د علم زده کړه شــروع کړه، او ډيری زده کړه يې د معمر بن راشـــد څخه وکړه، خپله عبدالرزاق وايي: د معمر څخه مې لس زره احاديث ليکلي دي، او زياته وي چې د معمر بن راشد سره مې تېول اووه يا آته کلونه مجلس شوی دی([4]).

د امام عبدالرزاق د علم د طلب نيته علاوه د امام ذهبي څخه بل چا نده ذکر کړی او دا يوه تقريبي او تخميني نيته ده چې د رواياتو د مقارنې څخه معلومېږي ،ممکن چې امام ذهبي دده د علم طلب موده د علماؤ د مختلفو اقوالو څخه معلومه کړي وي.

ځکه په يو روايت کې راځي چې امام عبدالرزاق وايي: (جالست معمر بن راشد سبع سنين).(5)

د معمر بن راشد سره اووه کاله کيناستم.

په يو بل روايت کې راځي چې :( جالست معمراً ما بين الثمان إلى التسع). (6) دمعمر سره د اتو څخه ترنهو کلونو پورې کيناستم.

او امام معمر بن راشد رحمه الله په( ۱۵۴) هجري کې وفات شوی دی، نو که چيرې امام عبدالرزاق دمعمر بن راشـد څخه اته يا نهه کاله شـاګردي کړي وي؛ نو امام عبدالرزاق ورڅخه په (۱۴۵) هجري کې شـاګردي کړی ده چې دغه وخت کې امام عبدالرزاق عمر تقريباً د اتلس يا نولس کاله ؤ چې دا هم يو تخميني نيته ده  او امکان لري چې امام عبدالرزاق لـه دې څخه مخکې د علم طلب پيل کړي وي، ځکه چې امام عبدالرزاق د امام ابن جريج څخه هم هغه وخت د آحاديثو ســماع  وکړه چې کله ابن جريج رحمه الله يمن ته راغی او کله چې امام ابن جريج يمن ته راغی په دغه وخت کې د امام عبدالرزاق عمر (۱۸) کاله ؤ.

---

1-الذهبى، شمس الدين أبو عبد الله محمد الذهبي (ت: 748هـ) ميزان الاعتدال في نقد الرجال ج۲،ص ۶۸۴، ،تحقيق: علي محمد البجاوي(الناشر: دار المعرفة للطباعة والنشر، بيروت – لبنان،الطبعة: الأولى، 1382 هـ - 1963 م).

2-الذهبى، محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز بن عبد الله التركمانى الأصـل الفارقى ثم الدمشــقى أبو عبد الله شــمس الدين الذهبى الحافظ الكبير المؤرخ صاحب التصانيف السائرة في الأقطار. البدر الطالع بمحاسن من بعد القرن السابع (2/ 104، بترقيم الشاملة آليا)

3- الذهبي، ميزان الاعتدال في نقد الرجال ج۲،ص:۶۰۹، ،تحقيق: علي محمد البجاوي(الناشر: دار المعرفة للطباعة والنشر، بيروت – لبنان،الطبعة: الأولى، 1382 هـ

4-الرازي، ابن أبي حاتم، عبد الرحمن بن محمدبن المنذر التميمي، الحنظلي، الرازي (ت: 327هـــ) الجرح والتعديل ج۶،ص:۳۸. ( الناشــر: طبعة مجلس دائرة المعارف . العثمانية - بحيدر آباد الدكن – الهند،دار إحياء التراث العربي – بيروت،الطبعة: الأولى، 1271 هـ 1952 م)./، والذهبي، هو شمس الدين أبو عبد الله محمدبن قَايْماز. الذهبي (ت: 748ه) تذكرة الحفاظ ج۱،ص:۱۹۱. (الناشر: دار الكتب العلمية بيروت-لبنان،الطبعة: الأولى، 1419هـ- 1998م).

5- الذهبي، ميزان الاعتدال في نقد الرجال ج۲،ص:۶۰۹، تحقيق: علي محمد البجاوي(الناشر: دار المعرفة للطباعة والنشر، بيروت – لبنان،الطبعة: الأولى، 1382 هـ

6- الفسوي، أبو يوسف يعقوب بن سفيان الفسوي (ت: 347ه). المعرفة والتاريخ ج ۳، ص: ۱۳.المحقق : خليل المنصور. الناشر : دار الكتب العلمية - بيروت

دامام عبدالرزاق يو معاصر ملګرى هشام بن يوسف وايي: ( كان لعبد الرزاق حين قدم ابن جريج اليمن ثماني عشـرة سـنة).(1) كله چې ابن جريج يمن ته راغى، نو امام عبدالرزاق (۱۸) كلن ؤ او هركله چې امام عبدالرزاق په (۱۲۶) هجري کې پيدا شــوى دى نو ددې څخه معلومېږي چې امام عبدالرزاق د امام ابن جريج څخه په (۱۴۴) هجري کې شاګردى کړى ده.

خلاصه داچې امام عبدالرزاق د علم طلب د شروع په اړه مختلف روايتونه راغلي دي خو ددې روايتونو څخه معلومېږي چې د امام عبدالرزاق د علم د طلب موده د (۱۵) کلنی څخه تر(۲۰) شل کلنی ترمنځ وه.

## پنځم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله سفرونه

امام عبدالرزاق رحمه الله ډيرو اسلامي ښارونو لکه: حجاز، شام او عراق ته سفرونه کړي دي، امام ذهبي د ده په اړه وايي: عبدالرزاق حجاز، شام او عراق ته د تجارت لپاره سفرونه کړي دي[2].

امام عبدالرزاق ددوه موخو لپاره ســفرونه کول لکه تجارت او په ښــارونو کې د علماوو او محدثينو څخه د آحاديثو او فقهي علومو زده کړه کوله.

امام ابن عســاکر رحمه الله وايي: ( أحد الثقات المشـهورين قدم الشـام تاجرا وسـمع بها الأوزاعي وسـعيد بن جبير ومحمد بن راشد المكحولي وإسماعيل بن عياش وثور بن يزيد الكلاعي).(3)

امام عبدالرزاق يو دهغه ثقه او مشـهورو علماوو له جملې څخه دى، شـام ته د تجارت لپاره راغلى دى او دلته په شام کې يې د امام اوزاعي، سعيدبن جبير، محمد بن راشد مکحولي، اسماعيل بن عياش او ثور بن يزيد کلاعي څخه د آحاديثو سماع کړى ده.

امام ذهبي رحمه الله ليکلي دي: (ارتحل إلى الحجاز، والشام، والعراق، وسافر في تجارة).(4)

امام عبدالرزاق حجاز، شام او عراق ته د تجارت لپاره سفرونه کړي دي.

## شپږم مطلب: د امام عبدالرزاق رحمه الله علمي القاب او علمي مرتبه

امام عبدالرزاق چې په يمني مشهور دى ، دخپل وخت لوى محدث ؤ، د تجارت او داحاديثو د سماع لپاره مختلف ځايونو سفرونه کړي دي ، دلوى لوى تابعينو څخه يې احاديث زدکړي دي.

علماى کرامو دده د علم په وجه دده صفت کړى دى.

---

1- ابن عساكر، أبو القاسم علي بن الحسن بن هبة الله ابن عساكر الدمشقي (ت: 571) تاريخ دمشق ج ۳۶، ص: ۱۶۷، سير أعلام النبلاء ج ۹، ص: 580

2-الذهبی، سير أعلام النبلاء ج۹ص: ۵۶۳. الناشر: دار الحديث- القاهرة،الطبعة: 1427هـ-2006م.

3-ابن عساكر، أبو القاسم علي بن الحسن بن هبة الله ابن عساكر الدمشقي (ت: 571) تاريخ دمشق ج 36، ص: ۱۶۰

4-الذهبی، سير أعلام النبلاء ج۹، ص: ۵۶۴

قال علي بن المديني 1: قال لي هشام بن يوسف: (كان عبد الرزاق أعلمنا، وأحفظنا).2

امام على بن المديني رحمه الله وايي چې ماته هشام بن يوسف رحمه الله وويل چې دده همدرسى ؤ: عبدالرزاق تر زمونږ زيات عالم ؤ او زمونږ څخه زيات حافظ ؤ.

قال السمعاني 3: قيل: ما رحل إلى أحد بعد رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم مثل ما رحل إليه !.4

امام سمعاني رحمه الله وايي: د رسول الله الله صلى الله عليه وسلم څخه ورسته دومره سفرچا بل چا ته ته نه دى كړى څومره چې امام عبدالرزاق ته شوى دى.

قال عبد الله بن أحمد بن حنبل يقول سمعت أبي يقول: كتب عبد الرزاق هي العلم.5

امام عبدالله بن احمد بن حنبل رحمهم الله ويلي دي چې ماد پلار څخه اوريدلي دي چې ويل يې: د امام عبدالرزاق كتابونه همدا علم دى.

قال الذهبى: وهو خزانة علم، ورحل الناس إليه: أحمد، وإسحاق، ويحيى، والذهلى، والرمادى، وعبد.6

امام ذهبي وايي: امام عبدالرزاق د علم خزانه وه او ده ته سفر كړى دى امام احمد بن حنبل، امام يحيى ، امام ذهلي، امام رمادي او عبد بن حميد.

په طبقات الحفاظ كې امام ذهبي وايي: (وثقه غير واحد، وحديثه مخرج في الصحاح....وكان رحمه الله من أوعية العلم).7

ډيرو كسانو ثقه ګڼلى دى او په صحيحو كتابونو كې يي حديث ذكر كړل شوي دي.... او ؤ امام عبدالرزاق د علم له حافظانو څخه.

قال ابن عساكر: أحد الثقات المشهورين.8

امام ابن عساكر وايي: امام عبدالرزاق يو له ثقه او مشهور علماو څخه ؤ.

علماى كرامو دده لپاره مختلف علمي القاب كارولي دي لكه العلامه، الحافظ او داسې نور.

امام ذهبي رحمه الله وايي: (عبد الرزاق بن همام العلامة الحافظ أبو بكر الصنعاني صاحب المصنفات).9

---

1-على بن المدينى، علي بن المديني حافظ العصر وقدوة أرباب هذا الشأن أبو الحسن علي بن عبد الله بن جعفر بن نجيح السعدي مولاهم المديني ثم البصري . صاحب التصانيف:ولد سنة إحدى وستين ومائة. قال البخاري يقول: ما استصغرت نفسي عند أحد إلا عند علي بن المديني. مات بسامرا في ذي القعدة سنة أربع وثلاثين ومائتين. تذكرة الحفاظ = طبقات الحفاظ للذهبي (2/ 14)

2- سير أعلام النبلاء ط الحديث (8/ 223)

3-السَّمْعَانِيُّ هو: عَبْدُ الكَرِيْم بنُ مُحَمَّدِ بنِ مَنْصُوْرٍ ، الإِمَامُ، الحَافِظُ الكَبِيْرُ، الأَوْحَدُ، الثِّقَةُ، مُحَدِّثُ خُرَاسَانَ، أَبُو سَعْدٍ عَبْدُ الكَرِيْمِ ابنُ الإِمَامِ الحَافِظِ النَّاقِدِ أَبِي بَكْرٍ مُحَمَّدِ ابنِ العَلاَّمَةِ مُفْتِي خُرَاسَانَ أَبِي المُظَفَّرِ مَنْصُوْرِ بنِ مُحَمَّدِ بنِ عَبْدِ الجَبَّارِ التَّمِيْمِيُّ، السَّمْعَانِيُّ، الخُرَاسَانِيُّ، المَرْوَزِيُّ، صَاحِبُ المُصَنَّفَاتِ الكَثِيْرَةِ. مَاتَ الحَافِظُ أَبُو سَعْدٍ: فِي مُسْتَهل رَبِيْع الأَوّل، سَنَة اثْنَتَيْنِ وَسِتِّيْنَ وَخَمْس مائَة، بِمَرْوَ، وَلَهُ سِتٌّ وَخَمْسُوْنَ سَنَةً. سير أعلام النبلاء ط الرسالة (20/ 456)

4- الأنساب للسمعاني (3/ 556)

5- تاريخ دمشق (36/ 170)

6- ميزان الاعتدال (2/ 609(

7- تذكرة الحفاظ = طبقات الحفاظ للذهبي (1/ 267)

8- تاريخ دمشق (36/ 160)

9- العبر في خبر من غبر ، للذهبى(1/ 360)

امام عبدالرزاق بن همام علامه، حافظ ابوبکر صنعاني د تاليفاتو څښتن.

په امام ذهبي په ميزان الاعتدال کې وايي: (عبد الرزاق بن همام بن نافع الامام، أبو بكر الحميرى مولاهم الصنعانى، أحد الاعلام الثقات).1

امام عبدالرزاق بن همام بن نافع ، ابوبکر مولی حميري، صنعاني يو سترو ثقاتو څخه ؤ.

په يو بل ځای کې وايي:( أحد الأئمة الاعلام الحفاظ).2

امام عبدالرزاق يو له اوچتو حافظانو او امامانو له جملې څخه ؤ.

## اووم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله وفات

ډيرى علماء وايي چې امام عبدالرزاق په (۲۱۱ه) کال کې وفات شوى دى.3

حافظ ابن کثير رحمه الله 4وايي: امام عبدالرزاق د شوال مياشتې په پنځلسمه نېټه د مامون په خلافت کې د (۸۵) کلونو په عمر په يمن کې وفات شوى دى.(5)

1- ميزان الاعتدال (2/ 609)

2- لسان الميزان (7/ 287)

3- التاريخ الكبير للبخارى(6/ 130)،رجال صحيح البخاري للكلاباذي (2/ 497)

4-هو: عماد الدين أبو الفداء إسماعيل بن عمر ابن كثير القرشي الدمشقي الشافعى، حافظ مؤرخ ولد فى قرية من أعمال بصرى الشام وانتقل مع أبيه إلى دمشق ورحل فى طلب العلم حتى صار من الأئمة المشار إليهم وتوفى بدمشق وهو صاحب التفسير المشهور والبداية والنهاية فى التاريخ ، توفى سنة 774هـــ موسوعة الأعلام (1/ 479)

(5) ابن كثير، أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي الدمشقي (ت: 774هـــ) البداية والنهاية ج۱۰،ص:۲۷۷.المحقق: علي شيري،(الناشر: دار إحياء التراث . العربي،الطبعة: الأولى 1408، هـ - 1988 م).

## دویم مبحث: دامام عبدالرزاق رحمه الله سیاسي او علمي ژوند

امام عبدالرزاق رحمه الله د دویم هجري قرن په لومړیو کې تولد شــوی دی، چې د ژوند په لومړیو کې یې اموي خلافت پای ته ورسېد، او د عباسیانو د خلافت په دور کې یې ژوند کړی دی. په اسلامي دولت کې د ده دسیاسي، ټولنیز او علمي ژوند په اړه به تفصیل په لاندې کرښو کې وړاندې شي:

## لومړی مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله په وخت کې د اسلامي نړۍ سیاسي حالات او اوضاع

دا یو څرګند حقیقت دی چې سیاسي حالات پر علمي ژوند باندې ډیرې اغېزې کولای شي، او کېدای شي هغه اغېزې په لاندې ټکو کې روښانه کړو:

الف). په اسلامي دولت کې یې سیاسي ژوند: اهم معالم او نښانې یې په لاندې ټکو کې خلاصه کولای شو:

۱- امام عبدالرزاق د اموي دولت په اواخرو او دد عباسي دولت په اوج کې ژوند کړی دی، چې په دې وخت کې لاندې خلفاء په قدرت کې وو: ابوالعباس الســفاح(۱۳۲- ۱۳۶)، پورې، ابو جعفر المنصــور(۱۳۷-۱۵۸) پورې، المهدي(محمد بن منصــور) (۱۵۸- ۱۶۹) پورې، هارون الرشــید بن المهدي(۱۷۰- ۱۹۳) پورې، الامین (محمدبن الرشید( (۱۹۳- ۱۹۸) پورې، او المامون( عبدالله بن الرشید) (۱۹۸- ۲۱۸) پورې.

۲- په دې وخت کې لاندې فرقې(ډلې) راپیدا شوې: خوارج- شیعه ګان- معتزله – او مرجئه. د دې ډلو له تفصیل څخه ځکه صرف نظر کوو چې زمونږ د بحث موضوع نه ده.

۳-ددې عصراو وخت غوره والی په لاندې ټکوکې روښانه کېږي:

ا) – د اسلامي فتوحاتو ډیر والی: داسلامی دا فتوحاتو د هارون الرشید د خلافت پر مهال وو. په (۱۱۸هــ ) کال کې د روم ځمکې او په (۱۹۰هــ) کال کې د هرقلې[1] فتحې صورت ونیو، او په (۱۹۲هــ) کال کې هارون الرشید خراسان ته توجه وکړه، او د مامون په خلافت کې هم همداسې فتوحاتو ډیر وو([2]).

ب)- دا وخت سیاسي وضعیت او حالت نسبتا آرام و، مګر ځینې ستونزې هم موجودې وې، چې هغه په لاندې ډول ذکرکولای شو:

۱- د منصور د خلافت پر مهال دده د دوو ورونو(محمد النفس الزکیة، او ابراهیم بن عبدالله بن الحسن بن علي بن ابي طالب) قیام و د منصــور پر خلاف، چې په نتېجه کې منصــور ورباندې غالب شــو، دوی دواړه یې د ډیرو پیروانو ســره یو ځای ووژل، او منصور لومړی هغه کس دی چې د عباســیانو او علویانو تر منځ یې د اختلاف

1- هرقلة: روم کې د یولوی ښار نوم دی چې هرقل آباد کړی ؤ او هارون الرشید په (۹۱ه) کې وربانديې جمله وکړه او هغه یې فتحه کړه.آثار البلاد وأخبار العباد, للقزويني(ص: 233)

(2) الخطيب، أبو بكر أحمد بن علي بن ثابت بن أحمد بن مهدي الخطيب البغدادي (ت: 463هــــ) تاريخ بغداد،ج۱،ص:۱۹۱..المحقق: الدكتور بشــار عواد معروف،(الناشر: دار الغرب الإسلامي – بيروت،الطبعة: الأولى، 1422هـ - 2002 م).

فتنې ته اور ورکړ، ځکه د دې پېښــې څخه مخکې عباســيان او علويان يو وو، هيڅ اختلاف يې ترمنځ شــتون نه درلود.([1])

۲- د مهدي په خلافت کې هم ځینې ستونزې موجودې وې، چې هغه يوه دا وه چې مهدی د زنادقه د تباهۍ لپاره يې مټې را ونغښتې.([2])

۳- د الهادي، په وخت کې  ستونزه دا وه چې علويين يې ډير وځپل، همدارنګه په دې وخت کې د حسن بن علي کودتا هم صورت ونیو.

۴- د هارو الرشيد په وخت کې ستونزه دا وه چې علويانو کوده تا وکړه، او د قضاء واک هم د برمکيانو په لاس کې و.3

۵- د مامون په وخت ستونزه دا وه چې د ده او وروپې (امين ) تر منځ اختلافات موجود وو، او د ده ميلان وو د علويان طرف ته.([4])

## دويم مطلب: پر حديث باندې د سياسی حالاتو  اغيزې

په اول او دويم قرن کې د يمن سياسي وضعيت آرام وو، خو په دې عصر کې هم ځینې ناخوالې موجودې وې، چې د هغې مخنيوی ونه شو او هغه نا خوالې او سرګردانی په لاندې ډول ذکر کوو:

۱- د اموي دولت په اواخرو کې د نزاريه او مضريه قبائلو تر منځ اختلافات.

۲- په (۲۰۰ھ) کال د مامون په خلافت کې نا قراري او نا امني.

د امام عبدالرزاق په وخت کې سـياسـي حالاتو په حديث باندې ډيرې اغېزې وکړې چې مهمې يې په لاندې ډول دي:

۱- **د حديث د حجيت څخه انكار:** د مختلفو عقيدوي فرقو او ډلو پيدايښت په حديث باندې اغېزې درلودې؛ ځکه د دوی عقايد د حديث په روايت کې د صحابه وو څخه مختلفې وې، او په دې عصـر کې د خوارجو، شـيعه ګانو او معتزله وو ډلې را پيداشوې او د دې ډلو عقيده د صحابه وو په اړه په لاندې ډول ده:

الف- **خوارج:** خوارج ډيرو صحابه وو په اړه د تکفير عقيده لري او وايي چې دوی د ظلم  امامان وو، او د هغوی څخه روايت شوي احاديث نه قبلوي،همدارنګه ټولو مسلمانانو ته کافر وايي.([5]).

---

(1) الســيوطي،عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين الســيوطي (ت: 911هـــ) تاريخ الخلفاء ج۱، ص: ۲۶۲. المحقق: حمدي الدمرداش( الناشــر: مكتبة نزار. مصطفى الباز،الطبعة: الطبعة الأولى: 1425هـ-2004م).

(2) مخکنی مرجع او صفحه.

3-مروج الذهب للمسعودی(2/ 12)

(4) السيوطي، تاريخ الخلفاء، ج۱، ص:۳۰۷.

(5) الشهرستاني،أبو الفتح محمد بن عبد الكريم بن أبى بكر أحمد الشهرستاني (المتوفى: 548ھ) الملل والنحل ج۱،ص:۱۲۱. الناشر: مؤسسة الحلبي.

**ب- شيعه ګان** او اماميه له شيعه ګانو څخه دي، دشيعه ګانو اماميه ډله د خوارجو څخه په دې اړه وړاندې قدم اخلي او کبارو صحابه وو ته د کفر نسبت کوي، او په اړه يې طعن او بدي وايي، او دوی د اهل سنت احاديث نه قبلوي، او کوم احاديث چې د اهل سنت په مذهب کې لوړه درجه لري، شيعه ګان هغې ته موضوعي وايي.(1)

**ج - معتزله:** دا هغه فرقه او ډله ده چې د امام عبدالرزاق په وخت کې موجود وو څکه چې دا ډله په د امويانو په وخت کې رامنځ ته شوه او د عباسيانو په وخت کې خپل اوج ته رسيدلې ؤ 2-دا ډله مختلفې شعبې او پخپل ذات کې نورې ډلې لري، له دوی څخه د (الواصلية او الهذلية) عقيده دا ده چې د صفين په جنګ کې يوه ډله صحابه ( پرته له تعين څخه) په خطا وه، او همدارنګه د عثمان(رضي الله عنه) او د هغه د قاتلينو په اړه دا عقيده لري چې يوه خوا له دوي څخه فاسقان وو، نو بناء دوی د علي، طلحه او زبير(رضي الله عنهم ) څخه روايت شوي احاديث نه مني او په معتزله کې د (النظامية) ډلې عقيده د لويو صحابه کرامو په اړه دا ده چې د دوی فتاواوې نه مني او په هغوی باندې طعن وايي، همدارنګه او د احادو احاديثو له قبلولو څخه انکار کوي.(3)

## دريم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله پر وخت کې د موضوعي احاديثو جوړول

په دې عصر کې ځينو ډلو ټپلو د ځانه احاديث وضعه جوړل. ابن حجر په دې آړه وايي: د ځانه د احاديثو جوړولو باعث او لامل په ځينې ډلو کې بې ديني وه، لکه په زدنديقيانو کې، او په ځينې کې جهل او نا پوهي وه، لکه: ځينې متعبدين( عبادت کوونکي)، او په ځينې کې بيا تعصب و، لکه: مذهبي مقلدين، او په ځينې کې د نفس پيروي او متابعت و، لکه: ځينې رئيسان او مشران، چې د خپل شهرت په موخه يې دې کار ته بدې وهلې وې او ځينې صوفيانو د ترغيب او ترهيب په موخه دغه کار ته ملا تړلې وه. (4).

يادو ډلو د خپل مذهب ملاتړ، نصرت او کومک په موخه د ځانه د احاديثو جوړولو ته مخه کړې وه.

## څلورم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله علمي ژوند ته کتنه

په علمي ژوند کې د لاندې قضاياوو څخه بحث کوو:

الف: په اسلامي دولت کې دامام عبدالرزاق د علمي ژوند حالت.

ب: د امام عبدالرزاق په وخت کې حديث او نور علوم.

ج: دامام عبدالرزاق په وخت کې داحاديثو ځانګړې تصنيفات.

د: دامام عبدالرازق عقيدوی مذهب.

---

(1)السباعي،مصطفى بن حسنبي السباعي (المتوفى: 1384هـ) السنة ومكانتها في التشريع الإسلامي صفحة: ١٣٠. الناشر: المكتب الإسلامي: دمشق - سوريا، بيروت – لبنان،الطبعة: الثالثة، 1402 هـ - 1982 م .

2-المعتزلة فرقة إسلامية نشأت في أواخر العصر الأموي وازدهرت في العصر العباسي. الموسوعة الميسرة في الأديان والمذاهب والأحزاب المعاصرة. (26/ 1)

(3) الملل والنحل، ج١،ص: ٥٧.

(4) ابن حجر، أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر العسقلاني (المتوفى : 852هـ)، نزهة النظر في توضيح نخبة الفكر في مصطلح أهل الأثر (ص: 111).المحقق : عبد الله بن ضيف الله الرحيلي.الطبعة : الطبعة الأولى.الناشر : مطبعة سفير بالرياض عام (1422هـ ) ، شرح تحقيق الرغبة في توضيح النخبة (ص: 92)

هـ: د امام عبد الرزاق فقهي مذهب.

**الف: په اسلامي دولت کې د علمي ژوند حالت ته کتنه.**

د امام عبدالرزاق په وخت کې په اسلامي نړۍ کې تر ډېره حده استقرار او ثبات موجود و، نو دا د دې سبب شو چې علمي تاليفاتو ته ډيره توجه وشي، همدارنګه نورو ټولنو ته د پرانستلو او د هغې د شناخت لپاره ترجمې او ژباړې ته هم ډيره توجه کېدله، نو دا عصر او وخت د علم لپاره تر ټولو روښانه او له فائدو ډک وخت ګڼل کېږي، په ځانګړې ډول د بغدا د خلافت پر مهال.

امام قلقشندي1 وايي: په اسلام کې د کتابونو لويې خزانې درې(۳) دي: چې له هغې څخه يوه يې په بغداد کې د عباسيانو د اسلامي کتابونو ذخېره او خزانه وه، په دې کتابخانه کې دومره ډير کتابونه موجود وو چې دشمار څخه وتلي وو، خو متاسفانه د تاتاريانو په وخت کې له منځه ولاړه.(2)

## ب: د امام عبدالرزاق په وخت کې حديث او د حديثو نور علوم.

لکه څرنګه چې مو مخکې يادونه وکړه چې په دې عصر کې ډيرې مذهبي ډلې رامنځته شوې، چې له ځانه يې احاديث جوړول، نو په علماوو باندې لازمه وه چې د هغې مقابله يې وکړې او په دې اړه لازم احتياطي تدابير ونيسي ، نو له همدې امله له يو خوا احاديث تدوين شول او له بلې خوا علم جرح او تعديل ځيني قواعد تأسيس شول. د امام ابن سيرين رحمه الله3 څخه روايت دی هغه وايي: (لم يكونوا يسألون عن الإسناد، فلما وقعت الفتنة قالوا: سموا لنا رجالكم فينظر إلى حديث أهل السنة فيؤخذ حديثهم وينظر إلى أهل البدع فلا يؤخذ حديثهم). (4) مخکې به خلکو د حديث داسناد په اړه پوښتنه نه کوله ، خو کله چې فتنه واقع شوه. علماوو به ويل: د رجالو نومونه راته ووایاست نو د اهل سنت حديث ته به کتل کيدل او هغه به اخيستل کيدل او د بدعتيانو احاديثو ته به کتل کيدل او هغه به نه اخيستل کيدل.

1-قلقشندى، هو أحمد بن عبد الله، القاضي شهاب الدين القلقشندي الشافعي، أحد موقعي الدست ونواب الحكم. كان إمام فقيهاً بارعاً في العربية، مشاركاً في الفقه والفرائض، ناب في الحكم سنين، وكتب في الإنشاء، وكان ماهراً في ذلك، وله نظم ونثر ومصنفات من ذلك: كتاب صبح الأعشى في صناعة الإنشاء، جمع فيه جمعاً كبيراً مفيداً، وصنف في الفقه أيضاً، وغيره، وكان له فضل وأفضال، وقوراً في الدول إلى أن توفي في ليلة السبت عاشر جمادى الآخرة سنة إحدى وعشرين وثمانمائة، عن خمس وستين سنة، رحمه الله تعالى. المنهل الصافي والمستوفى بعد الوافي لتغرى بردي(1/ 352)

(2) قلقشندي،أحمد بن علي بن أحمد الفزاري القلقشندي ثم القاهري (ت: 821هـ) صبح الأعشى في صناعة الإنشاء ج١،ص:٥٣٥. الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت.

3-ابن سيرين: هو محمد بن سيرين، الإمام الحبر التابعي أبو بكر، صاحب التعبير المشهور.كان إماماً يقتدى به،سمع من أبي هريرة وعبدالله بن عمر وعبدالله بن الزبير وعمران بن حصين وأنس بن مالك رضي الله تعالى عنهم. توفي سنة ١١٠. ديوان الإسلام (ص: 54)، مرآة الجنان وعبرة اليقظان في معرفة حوادث الزمان (1/ 108)

4-رواه مسلم في مقدمة الصحيح (15/1) والترمذي في العلل ص81 بشرح ابن رجب والرامهرمزي في المحدث الفاصل ص12 والخطيب البغدادي في الكفاية ص122.

او د حدیث صحت او عدم صحت د سند څخه معلومیږي نو ځکه علماوو په هغه وخت کې سند مهم وګڼلو او سندونو پورې اړوند علم رامنځ ته شو. امام عبدالله بن المبارک فرمایي:( الإسناد من الدين ، ولولا الإسناد لقال من شاء ما شاء ).1

اسناد ددین برخه ده که چیرې اسناد معتبر نه وی نو ویلي به ؤ هرچا هرڅه چې خوښه يې وي.

همدا راز امام سفیان ثوري 2رحمه الله فرمایی:(الاسناد سلاح المؤمن ، اذا لم يكن معه سلاح فبأي شيء يقاتل؟ ).3

په یو بل روایت کې راځي چې (إن هذا العلم دين فانظروا عمن تأخذوا دينكم).4

دا دین دی وګورئ چې تاسو له چا څخه دین اخلئ.؟ چې دا عبارات او اهتمام د علم جرح او تعدیل لپاره اساسات ګڼل کیږي.

دامام عبدالرزاق په وخت کې د (علل الحديث) علم رامنځ ته شو، (عن محمد بن يحيى يقول رأيت لعلي بن المديني كتابا على ظهره مكتوب المائة والنيف والستين من علل الحديث)5

امام محمد بن یحیی وایي ما د على بن المديني په شاه یو کتاب ولید چې په هغه کې لیکل شوي ؤ یو سل او څه د پاسه شپیته د حدیثو علتونه.

په علم تدلیس کې على بن المديني لیکل وکړل، داحادیثو د لغاتو په حل کې لیکل وشول، د احادیثو د راویانو د پیژندګلوی لپاره کتابونه ولیکل شول، د همدارنګه د ضعیفه رجالو د پیژندګلوی لپاره ځانګړي کتابونه ولیکل شو.

په دغه وخت کې د تاریخ او طبقاتو کتابونه ولیکل شول چې د راویانو د تولد او وفات نیټه او د استاداتو او شاګردانو تفصیلات به په کې ذکر ؤ. په دغه وخت کې ابن سعد أبو عبد الله محمد بن سعد بن منيع الهاشمي بالولاء، البصري، البغدادي الطبقات الكبرى كتاب وليكه.

یواځې امام علي ابن مديني رحمه الله لاندې کتابونه ولیکل: كتاب الأسامي والكنى په اتو اجزاوو کې ، كتاب الضعفاء په لسو اجزاوو کې ، كتاب المدلسين په پنځو اجزاوو کې ، كتاب الطبقات په لسو اجزاوو کې، كتاب علل المسند په دیرش اجزاوو کې، كتاب الثقات والمثبتين په لسو اجزاوو کې، كتاب اختلاف الحديث په پنځو اجزاوو کې ، كتاب تفسير غريب الحديث په پنځو اجزاوو کې ، كتاب مذاهب المحدثين په لسو اجزاوو کې اوداسې نور....، 6

---

1-مقدمة صَحِيْح مُسْلِم 12/1 ، وشرف أصحاب الْحَدِيْث : 41 (78)، والإلماع : 194 .

2-الثورى: سُفْيَانُ بنُ سَعِيْدِ بنِ مَسْرُوْقٍ الثَّوْرِيُّ ، هُوَ شَيْخُ الإِسْلاَمِ، إِمَامُ الحُفَّاظِ، سَيِّدُ العُلَمَاءِ العَامِلِيْنَ فِي زَمَانِهِ، أَبُو عَبْدِ اللهِ الثَّوْرِيُّ، الكُوْفِيُّ، المُجْتَهِدُ، مُصنِّفُ كِتَابِ (الجَامِعِ).وُلِدَ: سَنَةَ سَبْعٍ وَتِسْعِيْنَ اتِّفَاقاً، وَطَلَبَ العِلْمَ وَهُوَ حَدَثٌ بِاعتنَاءِ وَالِدِه المُحَدِّثِ الصَّادِقِ سَعِيْدِ بنِ مَسْرُوْقٍ الثَّوْرِيِّ، وَكَانَ وَالِدُهُ مِنْ أَصْحَابِ الشَّعْبِيِّ، وَخَيْثَمَةَ بنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَمِنْ ثِقَاتِ الكُوْفِيِّيْنَ، وَعِدَادُهُ فِي صِغَارِ التَّابِعِيْنَ. يَعْقُوْبُ الحَضْرَمِيُّ: سَمِعْتُ شُعْبَةَ يَقُوْلُ: سُفْيَانُ أَمِيْرُ المُؤْمِنِيْنَ فِي الحَدِيْثِ. وَعَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ، قَالَ: مَا رَأَيْتُ رَجُلاً أَعْلَمَ بِالحَلاَلِ وَالحَرَامِ مِنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ. سير أعلام النبلاء (13/ 263)

3- أثر علل الحديث في اختلاف الفقهاء لماهر ياسين فحل (4/ 2)

4- رواه مسلم في مقدمة الصحيح ( 14/1) عن محمد بن سيرين . ورواه ابن حبان في المجروحين عن زيد بن أسلم بنحوه ( 15/1) ورواه من كلام الحسن وأنس بن سيرين والضحاك بن مزاحم والنخعي ( 15/1)

5- الجامع لأخلاق الراوي (2/ 295)

6- معرفة علوم الحديث للحاكم (ص: 112)

**د احادیثو تدوین دري پړاوونه تر شا پرېښودل:**

## 1- دلیکلو پړاو:

د احادیثو لیکل د عمر بن عبدالعزیز په خلافت کې رامنځته شـــول، ده ابو بکر بن حزم ته د احادیثو د لیکلو امر وکړ، او ورته یې وویل: د نبي علیه السلام احادیث او د هغو کسانو طریقې ولیکه چې د مونږ څخه مخکې تېر شوي دي، همدارنګه د عمر (رضـــي الله عنه) اقوال هم ولیکه؛ ځکه زه له دې وېرېږم چې علم او علماء به له منځه ولاړ شي.[1]

په دې پړاو کې احادیث او د صـحابه اقوال علماوو لیکل خو کوم ترتیب یې نه درلود او ټولو په مختلط ډول پرته له ابوابو لیکل کېدل.

## ۲- د احادیثو لیکل د مسانیدو او فقهي بابونو په ترتیب.

په همدې قرن کې د احادیثو داســې کتابونه موجود وو، چې د احکامو اړوند احادیث، د صــحابه وو، او تابعینو اقوال او د مؤلف(لیکوال) نظریات ټول پکې مختلط وو، لکه د امام مالک(رحمه الله) موطا چې امام عبدالرزاق رحمه الله په همدې ترتیب خپل کتاب مصنف لیکلی دی.

په دې وخت کې کتابونه د (مؤطأ – مصنف – جامع – سنن، اجزاء) په ترتیب لیکل شوي دي.

امام دارقطني 2وایي: ( أول من صــنف ســعید بن أبي عروبة من البصــریین، وحماد بن ســلمة، وصــنف ابن جریج، ومالك بن أنس، وكان ابن أبي ذئب صــنف موطأ فلم یخرج، والأوزاعي، والثوري، وابن عیینة، ولم یرو عن جمیعهم إلا روح بن عبادة، وأول من صنف مسندا وتتبعه: نعیم بن حماد.)3

ترجمه: لومړی هغه کس چې تصنیف کې کړي دی سعید ابن ابی عروبه دی د بصرییـنو څخه، حماد بن سلمه دی، بیا ابن جریج تصــنیف ولیکلو بیا امام مالک ولیکلو، امام ابن ابي ذئب موطل لیکلی مګر بیرون را ونه وتلو، امام ثوری او امام ابن عیینه لیکنه وکړه ددې ټولو لو څخه پرته د روح به عباده دا کتابونه نه دي روایت کړي او لومړی هغه کس چې مسند یې ولیکلو هغه نعیم بن جماد ؤ.

د هغو علماوو تفصیل چې په دې پړاو کې یې کتابونه لیکلي دي په لاندې ډول دي:

---

(1) البغدادي،أبو عبد الله محمد بن سعد بن منيع الهاشمي بالولاء، البصري، البغدادي المعروف بابن سعد (ت: 230هـ) الطبقات الكبرى ج۲،ص:۲۸۸.تحقيق: محمد عبد القادر عطا.الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت،الطبعة: الأولى، 1410 هـ - 1990 م.

2- الدَّارَقُطْنِيُّ أَبُو الحَسَنِ عَلِيُّ بنُ عُمَرَ بنِ أَحْمَد، الإِمَامُ، الحَافِظُ، المُجَوِّدُ، شَيْخُ الإِسلاَمِ، عَلَمُ الجهَابذَةِ، أَبُو الحَسَنِ عَلِيُّ بنُ عُمَرَ بنِ أَحْمَدَ بنِ مَهْدِيِّ بنِ مَسْــعُوْدِ بنِ النُّعْمَانِ بنِ دِيْنَارِ بنِ عَبْدِ اللهِ البَغْدَادِيُّ، المُقْرِئُ، المُحَدِّثُ، مِنْ أَهْلِ مَحَلَّةِ دَارِ القُطْنِ بِبَغْدَادَ. وُلِدَ: سَــنَةَ سِــتٍّ وَثَلاَثِ مائَةٍ، هُوَ أَخْبَرَ بِذَلِكَ.

وَكَانَ مِنْ بُحُورِ العِلْمِ، وَمِنْ أَئِمَّةِ الدُّنْيَا، انْتَهَى إِلَيْهِ الحِفْظُ وَمَعْرِفَةُ عِلَلِ الحَدِيْثِ وَرجَالِهِ، مَعَ التَّقَدُّمِ فِي القِرَاءاتِ وَطُرُقِهَا، وَقوَّةِ المشَــارَكَةِ فِي الفِقْهِ، وَالاخْتِلاَفِ، وَالمَغَازِي، وَأَيَّامِ النَّاسِ، وَغَيْرِ ذَلِكَ.قَالَ أَبُو عَبْدِ اللهِ الحَاكِمُ فِي كِتَابِ (مُزَكِّي الأَخبارِ) :أَبُو الحَسَنِ صَـارَ وَاحدَ عَصْـرِهِ فِي الحِفْظِ وَالفَهْمِ وَالوَرَعِ، وَإِمَاماً فِي القُرَّاءِ وَالنَّحْوِيِّيْنَ، أَوَّلَ مَا دَخَلتُ بَغْدَادَ، كَانَ يَحضرُ المجَالسَ وَسِنُّهُ دُوْنَ الثَّلاَثِيْنَ، وَكَانَ أَحَدَ الحُفَّاظِ. سير أعلام النبلاء ط الرسالة (16/ 449)

3- علل الدارقطني = العلل الواردة في الأحاديث النبوية (12/ 246)

١– سعيد بن أبي عروبة1 (156هـــ)، وهو من أوائل من صنّف في الحديث كتبا مبوّبة، روى كتاب "المناسك" عن قتادة، وله "التفسير".

٢–ابن جريج مكي2 (80-150ه). له كتاب "السنن" و"التفسير".

٣– شعبة بن الحجّاج3 (82-160ه)، وهو من أوائل من بوّبوا الحديث في البصرة، وأفرد علما مستقلا لأحوال المحدّثين، وروي عنه "غرائب أحاديث شعبة" لمحمد بن المظفر بن موسى البزاز.

٤– إبراهيم بن طهمان، أبو سعيد الخراساني4 (توفي 163هـ)، وصف ابن أبي حاتم في "الجرح والتعديل" كتبه بأنها من "صحيح الكتب". وله كتاب مطبوع بعنوان "مشيخة ابن طهمان".

٦- الربيع بن حبيب الفراهيدي5 (توفي 110 ه)، له "كتاب الآثار"، دار الكتب بالقاهرة.

٧-مالك بن أنس6 (93-179ه). له موطأ

٨–معمر بن راشد 7 الأزدي البصري نزيل صنعاء اليمن (95-153ه). له جامع مشهور.

٩–سفيان بن سعيد الثوري8 (97-161ه) له الجامع.

١٠– عبد الله بن المبارك 9(118-181ه)، له كتاب "الزهد والرقائق"، "الجهاد"، "المسند"، "كتاب البر والصلة"، معظمها مخطوطات متفرقة في العالم ومعظمها مطبوع.

---

1- ابْنُ أَبِي عَرُوْبَةَ سَعِيْدُ بنُ أَبِي عَرُوْبَةَ مِهْرَانَ العَدَوِيُّ، الإِمَامُ، الحَافِظُ، عَالِمُ أَهْلِ البَصْرَةِ، وَأَوَّلُ مَنْ صَنَّفَ السُّنَنَ النَّبَوِيَّةَ، أَبُو النَّضْرِ بنُ مِهْرَانَ العَدَوِيُّ مَوْلاَهُم، البَصْرِيُّ. كان حافظا اختلط كان يرى القدر يكنى ابا النضر يقال انه اول من صنف الكتب. مَاتَ ابْنُ أَبِي عَرُوْبَةَ فِي سِتٍّ وَخَمْسِيْنَ وَمائَةٍ. سير أعلام النبلاء ط الرسالة (6/ 413، الجامع لأخلاق الراوي (2/ 281)

2- ابْنُ جُرَيْجٍ الأُمَوِيُّ عَبْدُ المَلِكِ بنُ عَبْدِ العَزِيْزِ بنِ جُرَيْجٍ ، الإِمَامُ، العَلاَّمَةُ، الحَافِظُ، شَيْخُ الحَرَمِ، أَبُو خَالِدٍ، وَأَبُو الوَلِيْدِ القُرَشِيُّ، الأُمَوِيُّ، المَكِّيُّ، صَاحِبُ التَّصَانِيْفِ، وَأَوَّلُ مَنْ دَوَّنَ العِلْمَ بِمَكَّةَ. قَالَ عَبْدُ اللهِ بنُ أَحْمَدَ: قُلْتُ لأَبِي: مَنْ أَوَّلُ مَنْ صَنَّفَ الكُتُبَ؟ قَالَ: ابْنُ جُرَيْجٍ، وَابْنُ أَبِي عَرُوْبَةَ.وَمَاتَ: سَنَةَ خَمْسِيْنَ وَمائَةٍ. سير أعلام النبلاء ط الرسالة (6/ 325)

3- شُعْبَةُ بنُ الحَجَّاجِ بنِ الوَرْدِ الأَزْدِيُّ العَتَكِيُّ ، الإِمَامُ، الحَافِظُ، أَمِيْرُ المُؤْمِنِيْنَ فِي الحَدِيْثِ، أَبُو بِسْطَامَ الأَزْدِيُّ، العَتَكِيُّ مَوْلاَهُم، الوَاسِطِيُّ، عَالِمُ أَهْلِ البَصْرَةِ، وَشَيْخُهَا.سَكَنَ البَصْرَةَ مِنَ الصِّغَرِ، وَرَأَى الحَسَنَ، وَأَخَذَ عَنْهُ مَسَائِلَ. وَكَانَ مِنْ أَوْعِيَةِ العِلْمِ، لاَ يَتَقَدَّمُهُ أَحَدٌ فِي الحَدِيْثِ فِي زَمَانِهِ، وَهُوَ مِنْ نُظَرَاءِ الأَوْزَاعِيِّ ، وَمَعْمَرٍ ، وَالثَّوْرِيِّ فِي الكَثْرَةِ. قَالَ عَلِيُّ بنُ المَدِيْنِيِّ: لَهُ نَحْوٌ مِنْ أَلْفَيْ حَدِيْثٍ. قِيْلَ: وُلِدَ سَنَةَ ثَمَانِيْنَ، فِي دَوْلَةِ عَبْدِ المَلِكِ بنِ مَرْوَانَ. وَقَالَ أَبُو زَيْدٍ الهَرَوِيُّ: وُلِدَ سَنَةَ اثْنَتَيْنِ وَثَمَانِيْنَ. وَكَانَ أَبُو بِسْطَامَ إِمَاماً، ثَبْتاً، حُجَّةً، نَاقِداً، جِهْبِذاً، صَالِحاً، زَاهِداً، قَانِعاً بِالقُوتِ، رَأْساً فِي العِلْمِ وَالعَمَلِ، مُنْقَطِعَ القَرِيْنِ، وَهُوَ أَوَّلُ مَنْ جَرَّحَ وَعَدَّلَ. مَاتَ فِي رَجَبٍ، سَنَةَ سِتِّيْنَ وَمائَةٍ، مَاتَ هُوَ وَجَدِّي فِي شَهْرٍ. سير أعلام النبلاء ط الرسالة (7/ 202)

4-إِبْرَاهِيْمُ بنُ طَهْمَانَ بنِ شُعْبَةَ الهَرَوِيُّ، الإِمَامُ، عَالِمُ خُرَاسَانَ، أَبُو سَعِيْدٍ الهَرَوِيُّ، نَزِيْلُ نَيْسَابُوْرَ، ثُمَّ حَرَمِ اللهِ -تَعَالَى- وُلِدَ: فِي آخِرِ زَمَانِ الصَّحَابَةِ الصِّغَارِ، . وَارْتَحَلَ فِي طَلَبِ العِلْمِ. مَاتَ سَنَةَ ثَلاَثٍ وَسِتِّيْنَ وَمائَةٍ إِبْرَاهِيْمُ بنُ طَهْمَانَ. سير أعلام النبلاء (13/ 426)

5- الربيع بن حبيب بن عمرو الفراهيدي: عالم بالحديث، إباضي. من أعيان المئة الثانية للهجرة. من أهل البصرة. له كتاب في الحديث، سماه يوسف بن إبراهيم الرجلاني (الجامع الصحيح). الأعلام للزركلي (3/ 14)

6- مَالِكٌ الإِمَامُ مَالِكُ بنُ أَنَسِ بنِ مَالِكٍ المَدَنِيُّ، هُوَ شَيْخُ الإِسْلاَمِ، حُجَّةُ الأُمَّةِ، إِمَامُ دَارِ الهِجْرَةِ، أَبُو عَبْدِ اللهِ مَالِكُ بنُ أَنَسِ بنِ مَالِكِ بنِ أَبِي عَامِرِ بنِ عَمْرِو بنِ الحَارِثِ بنِ غَيْمَانَ بنِ خُثَيْلِ بنِ عَمْرِو بنِ الحَارِثِ، وَهُوَ ذُو أَصْبَحَ بنُ عَوْفِ بنِ مَالِكِ بنِ زَيْدِ بنِ شَدَّادِ بنِ زُرْعَةَ، وَهُوَ حِمْيَرُ الأَصْغَرُ الحِمْيَرِيُّ، ثُمَّ الأَصْبَحِيُّ، المَدَنِيُّ، حَلِيْفُ بَنِي تَيْمٍ مِنْ قُرَيْشٍ، فَهُم حُلَفَاءُ عُثْمَانَ أَخِي طَلْحَةَ بنِ عُبَيْدِ اللهِ أَحَدِ العَشْرَةِ. سير أعلام النبلاء (15/ 43)

7- مَعْمَرُ بنُ رَاشِدٍ أَبُو عُرْوَةَ الأَزْدِيُّ مَوْلاَهُم، الإِمَامُ، الحَافِظُ، شَيْخُ الإِسْلاَمِ، أَبُو عُرْوَةَ بنُ أَبِي عَمْرٍو الأَزْدِيُّ مَوْلاَهُم، البَصْرِيُّ، نَزِيْلُ اليَمَنِ. مَوْلِدُهُ: سَنَةَ خَمْسٍ، أَوْ سِتٍّ وَتِسْعِيْنَ. وَشَهِدَ جَنَازَةَ الحَسَنِ البَصْرِيِّ، وَطَلَبَ العِلْمَ وَهُوَ حَدَثٌ. وَكَانَ مِنْ أَوْعِيَةِ العِلْمِ، مَعَ الصِّدْقِ، وَالتَّحَرِّي، وَالوَرَعِ، وَالجَلاَلَةِ، وَحُسْنِ التَّصْنِيْفِ.عَنِ ابْنِ رَاهَوَيْه: مَاتَ مَعْمَرٌ فِي رَمَضَانَ، سَنَةَ ثَلاَثٍ وَخَمْسِيْنَ وَمائَةٍ، فَصَلَّيْتُ عَلَيْهِ. سير أعلام النبلاء (13/ 1)

8- مخكي يې ترجمه ذكر شوى ده.

9- عَبْدُ اللهِ بنُ المُبَارَكِ بنِ وَاضِحٍ الحَنْظَلِيُّ.الإِمَامُ، شَيْخُ الإِسْلاَمِ، عَالِمُ زَمَانِهِ، وَأَمِيْرُ الأَتْقِيَاءِ فِي وَقْتِهِ، أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ الحَنْظَلِيُّ مَوْلاَهُم، التُّرْكِيُّ، ثُمَّ المَرْوَزِيُّ، الحَافِظُ، الغَازِي، أَحَدُ الأَعْلاَمِ، وَكَانَتْ أُمُّهُ خُوَارِزْمِيَّةٌ.مَوْلِدُهُ: فِي سَنَةِ ثَمَانِ عَشْرَةَ وَمائَةٍ. فَطَلَبَ العِلْمَ وَهُوَ ابْنُ عِشْرِيْنَ سَنَةً. فَقَالَ ابْنُ مَعِيْنٍ: كَانَ عَبْدُ اللهِ -رَحِمَهُ اللهُ- كَيِّساً، مُسْتَثْبِتاً، ثِقَةً، وَكَانَ عَالِماً، صَحِيْحَ الحَدِيْثِ، وَكَانَتْ كُتُبُهُ الَّتِي يُحَدِّثُ بِهَا

١١–أبو يوسف القاضي1 (113-182هـ). له كتاب الآثار.

١٢–محمد بن الحسن الشيباني2 (131-189هـ). له كتاب الآثار.

١٣–ابن وهب الفهري3 مولاهم المصري (125-197هـ). له جامع.

١۴–أبو داود الطيالسي4 (133-204هـ). له مسند شهير.5

## ۳- د احاديثو ځانګړي تصنيفات

حافظ ابن حجر رحمه الله د حديثو د تدوين د دوو مرحلو د ذکر کولو وروسته وايي: له دې وروسته ددوهمې پيړۍ په سر کې ځينې امامانو دا مناسب وګڼله چې بايد يواځې د نبي (عليه السلام) احاديث ځانګړي وليکي؛ په همدې اساس امام عبيد الله بن مُوسَى الْعَبْسِي الْكُوفِي تنها د رسول الله په احاديثو کې مسند وليکه ، او امام مُسَدّد بن مسرهد الْبَصْرِيّ د رسول الله صلى الله عليه وسلم په احاديثو کې مُسند وليکه، او امام أَسد بن مُوسَى الْأمَوِي د رسول الله صلى الله عليه وسلم په احاديثو مشتمل مسند وليکه، او امام نعيم بن حَمَّاد الْخُزَاعِيّ نزيل مصر هم مُسْند وليکه، له دې وروسته امام احمدبن حنبل او اسحاق بن راهويه مسند وليکه ، له دوى څخه وروسته عثمان به ابى شيبه هم په ابوابو مشتمل مصنف وليکه. چې په دې کتابونو کې قوي او ضعيف احاديث موجود ؤ آن تردې چې امام محمد بن اسماعيل البخاري د خپل استاداسحاق بن راهويه په مشوره د صحيحو احاديثو لپاره مستقل کتاب وليکه او بيا د هغه شاګرد مسلم بن حجاج نيشابوري هم پر صحيحو احاديثو مشتمل کتاب وليکه.6

---

عِشْرِيْنَ أَلْفاً أَوْ وَاحِداً وَعِشْرِيْنَ أَلْفاً. مَاتَ ابْنُ المُبَارَكِ بِهِيْتَ وَعَانَاتَ، فِي شَهْرِ رَمَضَانَ، سَنَةَ إِحْدَى وَثَمَانِيْنَ وَمائَةٍ. سير أعلام النبلاء (15/ 395)،.رجال صحيح البخاري لكلاباذى (1/ 430)

1- القَاضِي أَبُو يُوْسُفَ يَعْقُوْبُ بنُ إِبْرَاهِيْمَ الأَنْصَارِيُّ، هُوَ الإِمَامُ، المُجْتَهِدُ، العَلاَّمَةُ، المُحَدِّثُ، قَاضِي القُضَاةِ، أَبُو يُوْسُفَ يَعْقُوْبُ بنُ إِبْرَاهِيْمَ بنِ حَبِيْبِ بنِ حُبَيْشِ بنِ سَعْدِ بنِ بُجَيْرِ بنِ مُعَاوِيَةَ الأَنْصَارِيُّ، الكُوْفِيُّ.مَوْلِدُ أَبِي يُوْسُفَ: فِي سَنَةِ ثَلاَثَ عَشْرَةَ وَمائَةٍ. قَالَ أَحْمَدُ بنُ حَنْبَلٍ: أَوَّلُ مَا كَتَبْتُ الحَدِيْثَ، اخْتَلَفْتُ إِلَى أَبِي يُوْسُفَ، وَكَانَ أَمْيَلَ إِلَى المُحَدِّثِيْنَ مِنْ أَبِي حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ. قال ابْنَ مَعِيْنٍ: مَا رَأَيْتُ فِي أَصْحَابِ الرَّأْيِ أَثْبَتَ فِي الحَدِيْثِ، وَلاَ أَحْفَظَ، وَلاَ أَصَحَّ رِوَايَةً مِنْ أَبِي يُوْسُفَ. سير أعلام النبلاء (16/ 64)

2- مُحَمَّدُ بنُ الحَسَنِ بنِ فَرْقَدٍ أَبُو عَبْدِ اللهِ الشَّيْبَانِيُّ، العَلاَّمَةُ، فَقِيْهُ العِرَاقِ، أَبُو عَبْدِ اللهِ الشَّيْبَانِيُّ، الكُوْفِيُّ، صَاحِبُ أَبِي حَنِيْفَةَ.وُلِدَ: بِوَاسِطَ، وَنَشَأَ بِالكُوْفَةِ. وَأَخَذَ عَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ بَعْضَ الفِقْهِ، وَتَمَّمَ الفِقْهَ عَلَى القَاضِي أَبِي يُوْسُفَ.وَرَوَى عَنْ: أَبِي حَنِيْفَةَ، وَمِسْعَرٍ، وَمَالِكِ بنِ مِغْوَلٍ، وَالأَوْزَاعِيِّ، وَمَالِكِ بنِ أَنَسٍ. تُوُفِّيَ إِلَى رَحْمَةِ اللهِ سَنَةَ تِسْعٍ وَثَمَانِيْنَ وَمائَةٍ، بِالرَّيِّ. سير أعلام النبلاء (17/ 140)

3- عَبْدُ اللهِ بنُ وَهْبِ بنِ مُسْلِمٍ الفِهْرِيُّ مَوْلاَهُمْ .الإِمَامُ، شَيْخُ الإِسْلاَمِ، أَبُو مُحَمَّدٍ الفِهْرِيُّ مَوْلاَهُمْ، المِصْرِيُّ، الحَافِظُ. مَوْلِدُهُ: سَنَةَ خَمْسٍ وَعِشْرِيْنَ وَمائَةٍ. أَرَّخَهُ ابْنُ يُوْنُسَ، وَقَالَ: قِيْلَ: وَلاَؤُهُ لِلأَنْصَارِ. طَلَبَ العِلمَ وَلَهُ سَبْعَ عَشْرَةَ سَنَةً. لَقِيَ بَعْضَ صِغَارِ التَّابِعِيْنَ، وَكَانَ مِنْ أَوْعِيَةِ العِلْمِ، وَمِنْ كُنُوْزِ العَمَلِ. وَمَاتَ فِي شَعْبَانَ، سَنَةَ سَبْعٍ وَتِسْعِيْنَ وَمائَةٍ. سير أعلام النبلاء (17/ 232)

4- الطَّيَالِسِيُّ سُلَيْمَانُ بنُ دَاوُدَ بنِ الجَارُوْدِ ،الحَافِظُ الكَبِيْرُ، صَاحِبُ (المُسْنَدِ)، أَبُو دَاوُدَ الفَارِسِيُّ، ثُمَّ الأَسَدِيُّ، ثُمَّ الزُّبَيْرِيُّ، مَوْلَى آلِ الزُّبَيْرِ بنِ العَوَّامِ الحَافِظُ، البَصْرِيُّ. تُوُفِّيَ بِالبَصْرَةِ سَنَةَ ثَلاَثٍ وَمائَتَيْنِ، وَهُوَ يَوْمَئِذٍ ابْنُ اثْنَتَيْنِ وَسَبْعِيْنَ سَنَةً. سير أعلام النبلاء (17/ 390)

5- تاريخ التراث العربى لفؤاد سزكين الفصل الاول (ص: ١٦٥-١٩٠)، مقدمة فتح الباري (1/ 6)، الرسالة المستطرفة ص: 6 – 9 ، بحوث في تاريخ السنة ص: 232،

6- فتح الباري لابن حجر ١/۶-٧)

### ۴: دامام عبدالرزاق رحمه الله په وخت کې د علماوو موجويت :

په هماغه وخت کې په يمن کې ډېر مشـهور علماء موجود وو، لکه: امام طاوس بن کيسـان 1، امام وهب بن منبه 2 هم د يمن د علماء او عابدانو له جملې څخه مشهور تابعی ؤ.

همدارنګه مشـهور تابع التابعين هم پکې موجود وو، لکه: امام عبدالله بن طاوس اليماني 3، امام معمر بن راشد 4، امام همام بن نافع5 د عبدالرزاق پلار.[6]

### د: دامام عبدالرزاق صنعاني عقيدوي مذهب:

امام عبد الرزاق د لکه د عامو محدثينو په شـان اهل السـنت والجماعت په عقيده باندې ؤ، او الله په اسـماؤ او صفاتو کې د محدثينو په شان عقيده درلودله او دا حقيقت د هغه د نورو ګمراه فرقو په اړه د دسخت دريز څخه معلوميږي چې په لاندې توګه بيانيږي:

### ۱-د الله تعالی د اسماؤ او صفاتو په اړه دامام عبدالرزاق عقيده:

د الله تعالی په اسـماؤ او صـفاتو کې دامام عبدالرزاق عقيده لکه د عامو اهل سـنت والجماعت په څير ده داخبره دده د هغو احاديثو څخه معلوميږي چې په خپل مصـنف کې يې ذکر کړي دي او هم دا رازده په خپل تفسـير کې د سلفو علماوو څخه نقل کړي دي.

---

1- طَاوُوْسُ بنُ كَيْسَـانَ الفَارِسِـيُّ .الفَقِيْهُ، القُدْوَةُ، عَالِمُ اليَمَنِ، أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ الفَارِسِـيُّ، ثُمَّ اليَمَنِيُّ، الجَنَدِيُّ، الحَافِظُ.كَانَ مِنْ أَبْنَاءِ الفُرْسِ الَّذِيْنَ جَهَّزَهُم كِسْرَى لأَخْذِ اليَمَنِ لَهُ.فَقِيْلَ: هُوَ مَوْلَى بَحِيْرِ بنِ رَيْسَانَ الحِمْيَرِيِّ.أُرَاهُ وُلِدَ فِي دَوْلَةِ عُثْمَانَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- أَوْ قَبْلَ ذَلِكَ. مَاتَ طَاوُوْسٌ سَنَةَ سِتٍّ وَمائَةٍ. سيرأعلام النبلاء (9/ 38)

2- وَهْبُ بنُ مُنَبِّهِ بنِ كَامِلِ بنِ سِيْجِ بنِ ذِي كِبَارٍ.وهُوَ الأُسْوَارُ، الإِمَامُ، العَلاَّمَةُ، الأَخْبَارِيُّ، القَصَصِيُّ، أَبُو عَبْدِ اللهِ الأَبْنَاوِيُّ، اليَمَانِيُّ، الذِّمَارِيُّ، الصَّنْعَانِيُّ. أَخُو: هَمَّامِ بنِ مُنَبِّهٍ، وَمَعْقِلِ بنِ مُنَبِّهٍ، وَغَيْلاَنَ بنِ مُنَبِّهٍ.مَوْلِدُهُ: فِي زَمَنِ عُثْمَانَ، سَنَةَ أَرْبَعٍ وَثَلاَثِيْنَ، وَرَحَلَ، وَحَجَّ.وَأَخَذَ عَنِ: ابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ - إِنْ صَحَّ - وَأَبِي سَعِيْدٍ، وَالنُّعْمَانِ بنِ بَشِيْرٍ، وَجَابِرٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَعَبْدِ اللهِ بنِ عَمْرٍو بنِ العَاصِ - عَلَى خِلاَفٍ فِيْهِ - وَطَاوُوْسٍ. مَاتَ سَنَةَ أَرْبَعَ عَشْرَةَ وَمائَةٍ. سير أعلام النبلاء (8/ 112)

3- عبد الله بن طَاوس بن كيسَـان أَبُو مُحَمَّد الهمذاني الْخَولَانِيّ الْيَمَانِيّ كَانَ يخْتَلف إِلَى مَكَّة .سـمع أَبَاهُ وَعِكْرِمَة بن خَالِد رَوَى عَنهُ معمر ووهيب وَابْن عُيَيْنَة وروح بن الْقَاسِم فِي الْفَرَائِض وَالْحيض ومواضع وَقَالَ ابْن عُيَيْنَة مَاتَ سنة 132 هـ رجال صحيح البخاري كلاباذى(1/ 411)

4-ترجمه مخکې تيره شوی ده.

5- همام بن نافع اليماني مولى حمير والد عبد الرزاق روى عن وهب بن منبه ومرثد بن شرحبيل ومينا وهارون بن قيس روى عنه ابن المبارك وعبد الرزاق.عن يحيى بن معين أنه قال: همام والد عبد الرزاق ثقة. الجرح والتعديل لابن أبي حاتم (9/ 107)

(6) البستي ، محمد بن حبان بن أحمد التميمي ابوحاتم البُستي الهلمندى (ت: 354هـ) مشاهير علماء الأمصار وأعلام فقهاء الأقطار ج1 ،ص:١٢٢. الناشر: دار الوفاء للطباعة والنشر والتوزيع – المنصورة،الطبعة: الأولى 1411 هـ - 1991 م).

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله1 دده تفسیر د مأثورو تفاسیرو په جمله کې حساب کړی دی:. ځکه چې امام عبدالرزاق په خپل تفسـیر کې دصحابه کرامو او تابعینو اقوال رانقلوي او د الله تعالی د افعالو په باره کې هم د هغوی اقوال رانقلوي لکه څرنګه چې نور سلف علماء الله تعالی لره افعال ثابتوي داسې هغه یې هم ثابتوي.2

## ۲-د امام عبدال رزاق موقف د ایمان په اړه:

دامام عبدالرزاق عقیده په ایمان کې داسې وه لکه د عامو محدثینو چې ایمان عبارات دی له قول او عمل څخه زیاتیږي او کمیږي. امام حفص بن عمر مهرقاني وایي چې ما پو ښـتنه وکړه له امام عبدالرازق څخه ورته مې وویل ای ابوبکره! زمونږ سره څه خلک دي دایمان په تعریف کې سره مختلف دي

ما خبر کړه په هغه عقیده چې ته یې لرې او هغه چې تا وربانديې علماء لیدلي دي؟ هغه راته ویل: چې ایمان زمونږ په نزد قول او عمل دی او یقین دی او سنتو ته رسیدل دی.پس چاچې عمل وکړ او یقین یې وستلو او سنت ته ونه رسـیدل نو دا نیمګړی ایمان دی او چاچې قول وکړ او یقین یې ونه کړ نو دا هم نیمګړی ایمان دی او په همدې عقیده مې علماء لیدلي دي.3

د امام عبدالله بن احمد بن حنبل4 په کتاب السـنه کې دامام عبدالرزاق څخه نقل دي چې امام عبدالرزاق به ویل: (كان معمر وابن جريج والثوري ومالك وابن عيينة يقولون : الإيمان قول وعمل يزيد وينقص. قال عبد الرزاق : وأنا أقول ذلك : الإيمان قول وعمل يزيد وينقص ، وإن خالفتهم فقد ضللت إذن وما أنا من المهتدين).5

ترجمه: امام معمر بن راشـد او امام ابن جریج او امام ثوري او امام مالک او امام ابن عیینه رحمهم الله دوی ټولو به ویل ایمان قول او عمل دی زیاتیږي او کمیږي. امام عبدالرزاق وویل: زه هم دا وایم چې ایمان قول او عمل دی زیاتیږي او کمیږي او که چیرې زه ددوی څخه مخالفت وکړم نو زه به دغه وخت ګمراه شـوی یم او په سـمه لار به نه یم.

## ۳-دامام عدالرزاق موقف د خوارجو په اړه:

د خوارجو په اړه دامام عبدالرزاق د موقف په اړه مو تر اوسه څه پیدانکړل، البته دده موقف دخوارجو په اړه په مصـنف کې د هغه لوی باب څخه معلومیږي چې ده لرولی دی : (باب قتال الحروراء)6 او په دې باب کې هغه د خوارجو د ذم او قباحت په اړه زیات روایات رانقل کړي دي.

---

1- هو شيخ الإسلام الحافظ المجتهد تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبد الله ابن أبي القاسم بن الخضر بن محمد بن تيمية الحراني الحنبلي.ولد بحران يوم الإثنين عاشر ربيع الأول سنة إحدى وستين وستمائة، وقدم به والده وبأخويه عند استيلاء التتار على البلاد إلى دمشق سنة 667هـ ،وتوفى سنة ثَمَان وَعشْرين وَسَبْعمائة فِي ذِي الْقعدَة . الشهادة الزكية في ثناء الأئمة على ابن تيمية لمرعي بن يوسف المقدسي الحنبلى (ص: 63)

2- درء تعارض العقل والنقل ( ٢ / ١٨ ، ٢١ ، ٢٢ ) .

3- ذم الكلام للهروي ( ٣/١٢٥ ) .

4- عبد الله بن أحمد ابن محمد بن حنبل بن هلال: الامام، الحافظ، الناقد، محدث بغداد، أبو عبد الرحمن ابن شيخ العصر أبي عبد الله الذهلي الشيباني المروزي، ثم البغدادي. ولد سنة ثلاث عشرة ومئتين، فكان أصغر من أخيه صالح بن أحمد قاضي الاصبهانيين.

روى عن أبيه شيئا كثيرا، من جملته " المسند " كله، و" الزهد " ومات سنة تسعين ومئتين. سير أعلام النبلاء (13/ 523

5- كتاب السنة لعبد الله بن أحمد ( ١/٣٤٢ )

6- مصنف عبد الرزاق (10/ 117-123)

**۴-د امام عبدالرزاق موقف د قدر په مسأله کې:**

علامه فســوي 1په المعرفة والتاريخ کې نقل کړي دي چې امام عبدالرزاق ويلي دي: (وكان مكحول يقوله وابن أبي ذئب وبكار اليمامي ، يعني القدر.)2

امام مكحول شامی 3، امام ابن ابي ذئب 4، او بكار يمامي به د قدر په اړه وينا کوله.

دامام عبدالرزاق ددې عبارت څخه معلومېږي چې د قدر د بدعت په اړه دده نظر منفي ؤ او هغه خلک يې عيبجن ګڼل چې د قدر په موضوع کې دخيل ؤ.5

**۵-دامام عبدالرزاق موقف د معتزله ؤ او اهل جدل په اړه:**

امام عبدالرزاق د معتزله ؤ په اړه خصمانه نظريه درلودله.

ابن عســاكر د امام عبدالرزاق څخه نقل کړي دي ، امام عبدالرزاق وايي: (قال لي إبراهيم بن أبي يحيى إني أرى المعتزلة عندكم كثيرا قال قلت نعم وهم يزعمون أنك منهم قال أفلا تدخل معي هذا الحانوت حتى أكلمك قلت لا قال لم قلت لأن القلب ضعيف وأن الدين ليس لمن غلب).6

ماته ابراهيم بن ابی يحيی وويل: زه ســتاســې ځای کې معتزله زيات وينم. ما ورته وويل بلی. زيات دي. او دوی ګمان کوي چې ته هم د هغوی له جملې څخه يې؟ هغه راته وويل چې آيا ته ماســره دغه دکان ته نه داخلېږې چې زه درسره خبری وکړم؟ ما ورته وويل : نه ! هغه راته وويل ولې؟ ما ورته وويل: ځکه زړه ضعيفه دی او دين دهغه چا نه دی چې غالبه وي.

## هـ: د امام عبد الرزاق رحمه الله فقهي مذهب.

فقهي مذهبونو د دوهم قرن په لومړيو کې ظهور وکړ او په دريیم قرن کې د خپل تکامل لوړی پوړی ته ورسيدل.

محدثين هم مخکې له دې چې شخصي فقهي مذهبونه تبارز وکړي ددوی فقهي نظرونه به هم يا د کوفيينو به شان وو او يا به د حجازينو په شان وو.

---

1- الفسوي الامام، الحافظ، الحجة، الرحال، محدث إقليم فارس، أبو يوسف، يعقوب بن سفيان بن جوان الفارسي، من أهل مدينة فسا، ويقال له: يعقوب بن أبي معاوية.مولده في حدود عام تسعين ومئة، في دولة الرشيد: وله " تاريخ " كبير، جم الفوائد، و" مشيخته " في مجلد، رويناها. ارتحل إلى الامصار، . ولحق الكبار. مات يعقوب بن سفيان بفسا في سنة سبع وسبعين ومئتين. سير أعلام النبلاء (13/ 180)

2- المعرفة والتاريخ (2/ 400)

3- مكحول الشـامي، أبو عبد الله مكحول بن عبد الله الشـامي، من سـبي كابل [ذكره ابن ماكولا في كتاب " الإكمال " في ترجمة شـاذل فقال في نسـبه: وهو مكحول بن أبي مسلم - واسمه شهراب - ابن شاذل بن سند بن سروان بن يزدك بن يغوب ابن كسرى.قال ابن عائشة: كان مولى لامرأة من قيس، وكان سندياً لا يفصح؛ وقال الواقدي: كان مولى لامرأة من هذيل، وقيل هو مولى سعيد بن العاص، وقيل مولى لبني ليث.قال الخطيب : كان جده شاذل من أهل هراة، فتزوج ابنة ملك من ملوك كابل، ثم هلك عنها وهي حامل، فانصرفت إلى أهلها، فولدت شهراب فلم يزل في أخواله بكابل حتى ولد له مكحول، فلما ترعرع سبي، ثم وقع إلى سعيد بن العاص فوهبه لامرأة من هذيل فأعتقته. وفيات الأعيان (5/ 280)

4- ابن أبي ذئب .محمد بن عبدالرحمن بن المغيرة بن الحارث بن أبي ذئب - واسم أبي ذئب: هشام بن شعبة - الامام، شيخ الاسلام، أبو الحارث القرشي، . العامري، المدني، الفقيه. وكان من أوعية العلم، ثقة، فاضلا، قوالا بالحق، مهيبا. مات سنة ثمان وخمسين ومئة. سير أعلام النبلاء (7/ 139)

5-المقدمة لمصنف عبدالرزاق نشر دارالتأصيل.(ص:٣٨)

6- تاريخ دمشق لابن عساكر (36/ 186)

امام جعدي رحمه الله 1 چې کله د یمن د فقهاوو طبقات بیانوي؛ نو امام عبدالرزاق یې د یمن د فقهاوو د تبع تابعینو په دوهمه طبقه کې ذکر کړی دی.بیا هغه د دری ســوه هجري طبقاتو بیانولو په ترڅ کې وایي: (كان الغالب في اليمن مذهب مالك وأبي حنيفة).

په یمن کې خلک یا دامام مالک رحمه الله په مذهب وو او یا هم د امام ابو حنیفه رحمه الله په مذهب وو. بیا د دریمې هجري پـه اواخرو کې او د څلورمې پیړۍ پـه اوائلو کې د هغو فتنې ذکر کوي چې پـه یمن کې واقع شـــوې وې.لکه يحيى بن الحسـين بن القاسـم شـيعه توب ته دعوت هغه په دې اړه لیکي:( وكان أهل اليمن صـنفين: إما مفتون بهم، وإما خائف متمسك بنوع من الشريعة؛ إما حنفي - وهو الغالب - وإما مالكي).2

دیمن خلک دوه قســمه وو: یاخو د شـیعه توب په فتنه کې مبتلاؤ او یا هم په شـریعت باندې متمسـک ؤ،یا د حنفي مذهب پیروان ؤ او یا د مالکي مذهب پیروان ؤ.

دامام جعدي رحمه الله له خبرو معلومیږي چې حنفي او مالکي مذهبونه په یمن کې موجود ؤ ، اګر چه حنفي مذهب زیات خپور ؤ په دریمه او څلورمه هجري پیړیو کې.

به یمن کې د فقهې مذهبونو د انتشـار له تاریخ څخه معلومیږي چې امام عبدالرزاق د فقهې مذهبونو د انتشـار په لومړیو وختونو کې تیرشـوی دی او مخکې له دې چې فقهې مذهبونه خپل تکامل ته ورسـیږي او دمذاهبو شخصي تقلید رامنځ ته شي امام عبدالرزاق له نړۍ سترګې پټې کړي دي.

سره ددې تاریخي واقعاتو ځینو خلکو داسې دعوه کړې ده چې امام عبدالرزاق د حنفي مذهب پیروان ؤ.

ملا علي القاري رحمه الله 3.د حنفي مذهب د پیروانو په جمله کې امام عبدالرزاق هم ذکر کړی دی.هغه په دې اړه لیکي:(ومن أهل اليمن: معمر بن راشد، وعبد الرزاق بن همام إمام أهل صنعاء أكثر الروايةعن الإمام). (4)

ممکن ملاعلي قاري داخبره ددې امله کړې وي چې امام ابوحنیفه د امام عبدالرزاق استاد ؤ.

همدا راز قاضــي عیاض رحمه الله امام عبدالرزاق د مالکي مذهب په پیروانو کې شــمیرلی دی او هغه د مالکي مذهب د مشهورو علماوو څخه ګڼلې دی.(5)

قاضي عیاض رحمه الله 6 ځکه عبدالرزاق مالکي مذهبه بللی دی چې امام مالک رح د عبدالرزاق استاد ؤ.

---

1-الجعدي، عمر بن علي بن سمرة بن الحسين ابن سمرة بن الهيثم بن أبي العشيرة، أبو الخطاب الجعدي: مؤرخ يماني، من القضاة. ولد بقرية أنامر (باليمن) وولي القضاء في عدة أماكن، منها قضاء أبين سنة 580 هـ طبقات فقهاء اليمن (ص ٦٨،٦٧).

2- الجعدي، طبقات فقهاء اليمن:( صفحة: ٦٧، ٦٨، ٦٩)

3-الملا علي القاري علي بن (سلطان) محمد، نور الدين الملا الهروي القاري: فقيه حنفي، من صدور العلم في عصره. المتوفى (1014 هـ) الاعلام للزركلى

4- الأثمار الجنية في أسماء الحنفية لملا على القارى للقارى الحنفي. (ص ١٣١)

5-قاضى عياض، عياض بن موسى بن عياض بن عمرون اليحصبي السبتي، أبو الفضل: عالم المغرب وإمام أهل الحديث في وقته(ت:٥٤٤)، ترتيب المدارك ج٢، ص: (٢٠٨)

6- عياض بن موسى بن عياض بن عمرو بن موسى بن عياض القاضى العلامة عالم المغرب أبو الفضل اليحصبي السبتى الحافظ مولده بسبته في سنة ست وسبعين وأربع مائة وأصله اندلسى تحول جده الى فاس ثم سكن سبتة. تذكرة الحفاظ (4/ 1304)

له بل پلوه ابن ابی یعلی حنبلي رحمه الله 1امام عبدالرزاق د امام احمدبن حنبل رحمه الله د لومړۍ طبقې حنابله له جملې څخه شـمېرلې دی. ځکه ابن ابویعلی هر هغه څوک چې دامام احمد بن حنبل څخه کوم روایت او یا کومه مسئله نقل کړی ده، هغه حنبلي مذهب شمېرلی دی.(2)

ولي حق خبره داده چې امام عبدالرزاق د مشهورو مذاهبو یا بل کوم مذهب پیرو او مقلد نه ؤ، بلکې عبدالرزاق د نورو محدثینو په شان خپله مسائل استنباط کول او د کوم مذهب پیروان نه ؤ. ددې خبرې دلیل د هغه کتاب( مصــنف ) دی چې عبدالرزاق په خپل کتاب کې روایات او مذاهب رانقلوي او کله ناکله په هغه موضــوع کې خپل نظر هم لیکي، لکه چې ابوبکر مســتملي وايي: (ســـألت أحمد عن عبد الرزاق كان له فقه؟ فقال: كامل الفقه في أصحاب الحديث). 3بحر الدم (ص: 99(

ماد احمدبن حنبل رحمه الله څخه پوښــتنه وکړه په باره د عبدالرزاق کې چې آیا هغه فقه درلوده؟ هغه راته وویل:کامله فقه د اصحاب الحدیثو سره ده.

هغه په خپلو لیکنوکې ددې خبرې ذکر هم نه دی کړی چې هغه د کوم استاد په مذهب دی.

---

**1**- هو: محمد بن محمد (أبي يعلى) ابن الحســين بن محمد، أبو الحســين ابن الفراء، المعروف بابن أبي يعلى، ويقال له ابن الفراء: مؤرخ، من فقهاء الحنابلة. ولد ببغداد، ومات فيها قتيلا اغتاله بعض من كان يخدمه، طمعا بماله. من كتبه (طبقات الحنابلة - ط) مجلدان، و (المجرد في مناقب الإمام أحمد) و (المفتاح) فقه، و (المفردات) في الفقه، و (المفردات) في أصول الفقه، و (تنزيه معاوية بن أبي سفيان) و (إيضاح الأدلة في الرد على الفرق الضالة المضلة) و (الاعتقاد - خ) في الظاهرية بدمشق. وهو الأخ الأكبر ل أبي خازم محمد بن محمد (المتوفى سنة 527 هـ الأعلام للزركلي (7/ 23)

2- طبقات الحنابلة ج ١، ص:( ٢٠٩)

3- بحر الدم (في من مدحه أحمد أو ذمه) ليوسف بن المبرد (ص: 99)

## دریم مبحث : دامام عبدالرزاق استاذان اوشاګردان یی.

### لومړی مطلب: د امام عبدالرزاق استاذان

د امام عبدالرزاق هغه شـیوخ او اسـتادان چې له هغوی څخه یي مرفوع احادیث نقل کړي دي د هغوی عدد (۱۰۶) استادان دي.

د امام عبدالرزاق استاذان د روایت د کثرت او قلت په اعتبار سره په دریو ډولو وېشل کېږي:[1]

الف- هغه استاذان چې امام عبدالرزاق پخپل مصنف کې د هغوي څخه ډیر روایت کوي چې دا ډول روایتونه د (۹۰۰) څخه ډیر وي.

ب) – هغه استاذان چې په نسبت ذکر شوو ته د هغوي څخه کم روایت کوي، او دا ډول روایتونه(۳۰۰) کم او د(۱۰۰) څخه ډیر وي.

ج) – هغه استاذان چې روایت یې له (۱۰۰) روایتونو څخه کم دی.([2])

الف) د هغو اسـتادانو شـهرت چې امام عبدالرزاق له هغوی څخه د(۹۰۰) څخه زیات روایات نقل کړي دي ؛ په لاندې توګه دي:

۱-معمر بن راشد. ۲- عبدالملک بن جریج. ۳- سفیان الثوري. ۴- سفیان بن عیینه.

تفصیل:

ددغو استادانو او شیوخو شهرت او د هغو علمي مرتبه په لاندې ډول ده:

1-د معمر بن راشد رحمه الله پیژندنه: معمر بن راشد، أبو عروة الأزدي ، مولاهم البصري په (۹۵هـ) هجري کې پیداشوی دی.معمربن راشد وایي ماپه هغه کال کې دعلم طلب کولو چې حسن بصري رحمة الله په کې وفات شو.

(عن معمر قال: جلست إلى قتادة وأنا ابن أربع عشرة سنة فما سمعت منه حديثا إلا كأنه ينقش في صدري).3

زه امام قتاده ته کیناستم دعلم د زده کړې لپاره او زه د څوارلسو کالو وم ، ما له هغه څخه حدیث نه اوریده مګر داسې به مې زده کیده لکه چې زما په سینه کې چې نقش شي.

امام معمر بن راشـد په (۱۵۳) هجري کې د (۵۸) کلونو په عمر په یمن کې وفات شـو. امام عبدالرزاق وایي: امام معمربن راشد زمونږ په مخکې وفات شو او مونږ دهغه وفات ته حاضر شوي ؤ.(4)

د امام معمر بن راشـد ځینې اسـتادان په لاندې ډول دي: زهري ، قتادة ، ، همام بن منبه ، ، طاوس ، ثابت بناني، أعمش او أيوب سختياني.

---

1-منهج الامام عبدالرزاق في مصنفه ص: ۴۰

(2) سیرأعلام النبلاء ج،۷،ص:۵- د زیاتو معلوماتو لپاره دې د (تهذیب التهذیب او سیر اعلام النبلاء) کتابونو ته مراجعه وشي.

3- تهذيب الأسماء واللغات للنووي (2/ 107)

4-ابن حجر، شيخ الاسلام شهاب الدين أحمد بن علي بن حجر العسقلاني المتوفي سنة 528 هـ تهذيب التهذيب ج ۱۰، ص: ۲۱۹.الطبعة الاولى 1404 هـ - 1984 م

دامام معمر بن راشـــد شـــاګردان ځيني په لاندې توګه دي: ســـفيان بن ثورى، ســـفيان بن عيينه،عبدالله بن مبارک ، عبدالرزاق، عمرو بن دينار ، هشام بن يوسف.

امام معمر بن راشـــد په يمني محدثينو کې د لوى شـــان څښـــتن ؤ او ثقه امام ؤ. يحيى بن معين وايي:( أثبت أصحاب الزهري مالك ومعمر ، كانوا عالمين به). ( 1)

امام عبدالرزاق د معمر بن راشد څخه اته (٨) کاله شاګردي کړې ده ددې وجى نه امام احمد بن حنبل وايي: (حديث عبد الرزاق عن معمر أحب لي من حديث هؤلاء البصريين كان يتعاهد كتبه وينظر فيها باليمن).(2)

د معمر بن راشد څخه د عبدالرزاق حديث ماته ډير خوښ دى نسبت دغو بصري راويانو ته ، ځكه عبدالرزاق به د هغه په کتابونو کې په يمن کې کتل.

امام عبدالرزاق وايي:( جالست معمراً ما بين الثمان إلى التسع). (3)

زه د خپل شيخ معمر سره د اتو څخه تر نهو کلونو پورې پاتې شوى يم.

2- . عبد الملك بن عبد العزيز بن جريج ، أبو خالد ، وأبو الوليد أموي كوفي رحمه الله.

ابن سـعد رحمه الله وايي : ابن جريج په (٨٠) اتياوم كال پيداشـوى دى. امام ذهبى وايي: ابن جريج څه د پاسـه په (٧٠) اوياوم هجري کې پيدا شوى دى.(4)

د امام ابن جريج استادان ځيني په لاندې توګه دي: طاووس، عطاء بن ابى رباح، مجاهد، ابن ابى مليكه، نافع مولى ابن عمر، زهرى.

دامام ابن جريج ځيني شاګردان په لاندې توګه دي: اوزاعى، سفيان ثورى، سفيان بن عيينه، ليث بن سـعد، ابن عليه ، عبدالرزاق، يحيى بن سعيد قطان اموي او وكيع.

دامام احمدبن حنبل رحمه الله څخه د هغه ځوى امام عبدالله نقل کوي : ( قلت لأبي أول من صـنف من هُوَ قَالَ بن جريج وَابْن أَبِي عرُوبَة يَعْنِي وَنَحْوهَا ولي وَقَالَ ابن جريج مَا صنف أحد الْعلم تصنيفي). (5)

پلار ته مې وويل: د لومړي ځل لپاره چې تصـــنيف کړى دى هغه څوک دى؟ هغه راته وويل: هغه ابن جريج دى او ابن ابي عربوه دى او د هغه په شان او ما ، او ابن جريج وايي هيڅا زما په څير تصنيف نه دى کړى.

امام عبدالرزاق وايي:( أول من صـــنف الكتب بن جريج وصـــنف الأوزاعي حين قدم على يحيى بن أبى كثير كتبه).6

لومړى هغه څوک چې تصـــنيف يې کړى دى ابن جريج دى او امام اوزاعي هغه وخت تصـــنيف وکړ چې کله د يحيى بن ابى کثير خواته راغى هغه يې وليکه.

---

1- تاريخ ابن أبي خيثمة (4/ 255)

2- ابن حجر ، شيخ الاسلام شهاب الدين أحمد بن علي بن حجر العسقلاني تهذيب التهذيب ج٦، ص: ٢٧٩. الطبعة الاولى 1404 هـ - 1984 م

3- الفسوي، أبو يوسف يعقوب بن سفيان الفسوي (ت: 347هـ). المعرفة والتاريخ ج ٣، ص: ١٣،المحقق : خليل المنصور. الناشر : دار الكتب العلمية - بيروت

4-ابن سعد، محمد بن سعد بن منيع أبو عبدالله البصري الزهري، الطبقات الكبرى ج ٥، ص: ٤٩٢.الناشر : دار صادر - بيروت

5- العلل ومعرفة الرجال لأحمد رواية ابنه عبد الله (2/ 311)

6- الجرح والتعديل للرازي(1/ 184)

امام عبدالرزاق وايي: کله چې ما ابن جريج په لمانځه وليده، نو پوهه شوم چې هغه د الله تعالی څخه ويريږي.

په (۱۵۰) يوسل پنځوسم هجري کې وفات شوی دی او دا مشهور او د اکثره مؤرخينو قول دی او عمر يي له (۱۰۰) سلو کلونو څخه زيات شوی ؤ.(1)

۳- سفيان بن سعيد بن مسروق ابوعبدالله ثوري کوفي رحمه الله، د بنی ثور بن عبدمناف د مضر له قبيلې څخه دی.په ( ۹۶ ) هجري کال کې په کوفه پيداشو دی او په کوفه کې لوی شوی دی.منصور عباسي ور څخه وغوښتل چې په حکومت کې دنده واخلي.همغه ؤ چې له کوفې څخه په (۱۴۴) هجري کې له کوفې څخه ووتلو او په مکه مکرمه کې ديره شو.

دامام ثوري ځينې استادان په لاندې توګه دي : دخپل والد څخه يي روايت کړی دی، زيادبن علاقه، حبيب بن ابی ثابت، ايوب سختيانی او جعفر صادق او نور.

کله چې د منصور په شان غوښتنه ورڅخه مهدي عباسي وکړه ،ځان يي پټ کړ او بصري ته ولاړ او په بصره کې په پټ حالت کې په (۱۶۱) هجري کال کې وفات شو.(2)

او شاګردان يي ځينې دادي: معمر بن راشد، اوزاعي، ابن جريج، مالک بن انس، شعبه، سفيان بن عيينه او فضيل بن عياض او نور زيات.(3)

امام شعبه حمه الله وايي: سفيان ثوری امير المؤمنين فی الحديث ؤ.

امام عبدالله بن مبارک رحمه الله وايي: ما د يوولس سوو استادانو څخه حديث ليکلي دي ما د سفيان ثوري څخه د بل بهتر شخص څخه حديث نه دي ليکلي.

دامام عبدالرزاق سماع د امام ثوري څخه په يمن کې شوی ده، ځکه امام سفيان بن عيينه وايي چې زه يمن ته په (۱۵۰) کې لام او سفيان ثوری زماڅخه يوکال مخکې يمن ته تللی ؤ.

(قال سفيان وذهبت إلى اليمن سنة خمسين ومائة وسنة اثنتين وخمسين ومائة ومعمر حي وذهب الثوري قبلي بعام). (4) سفيان بن عيينه وايي : زه يمن ته په (۱۵۰) او په (۱۵۲) هجري کې تللی وم او معمر بن راشد ژوندی ؤ او ثوري زماڅخه يو کال مخکې تللی ؤ.

علي بن المديني رحمه الله وايي چې ما د امام عبدالرزاق څخه اوريدلي دي چې داسې يي وويل: (مکث سفيان يملي علينا ثمانية وأربعين يوماً).(5)

---

1- نووي، تهذيب الأسماء واللغات، للعلامة أبی زکريا محيي الدين بن شرف النووي (ت: 676 هــ) تهذيب الأسماء (صفحة: 885). تحقيق.مصطفى عبد القادر. عطا.

2- شيرازی، أبو إسحاق الشيرازي، وهذبه محمد بن جلال الدين المكرم (ابن منظور) طبقات الفقهاء (صفحة: 84).المحقق : إحسان عباس. عنوان الناشر : بيروت - لبنان

3- سيوطي، عبد الرحمن بن أبو بكر، جلال الدين السيوطي (ت : 911ه) طبقات الحفاظ (صفحة: 16) قرشی، عبد القادر بن أبي الوفاء محمد بن أبي الوفاء القرشي أبو محمد (ت: 775 ) الجواهر المضية في طبقات الحنفية، ج۱، ص:۵۴۶

4- ابن سعد، محمد بن سعد بن منيع أبو عبدالله البصري الزهري ، الطبقات الكبرى ج۵، ص: ۴۹۷. الناشر : دار صادر - بيروت

5-الفسوي، أبو يوسف يعقوب بن سفيان الفسوي ( ت: 347هــ)، المعرفة والتاريخ ج ۱، ص: ۴۰۱، المحقق : خليل المنصور. الناشر : دار الكتب العلمية - بيروت

عبدالرحمن مهدي رحمه الله فرمايي: ما د سفيان ثوري څخه زيات حافظ نه دی ليدلی.(1)

4- سفيان بن عيينه ابو محمد کوفي رحمه الله.په (۱۰۷) هجري کې زيږيدلی دی.

د سفيان بن عيينه رحمه الله ځيني استادان په لاندې توګه دي: زياد بن علاقه، اسود بن قيس، عبيدالله بن ابی يزيد، زهری، اسحاق سبيعی، عبدالله بن دينار، زيد بن اسلم ، محمد بن منکدر، ابی زبير، هشام بن عروه عطاء بن سائب او داسې نور زيات او په (۱۹۸ه) کې وفات شوی دی.

د امام سفيان بن عيينه ځيني شاګردان په لاندې توګه دي: عبدالرزاق، اعمش، شعبه ، مسعر، ابن جريج، همام، سفيان ثوری، عبدالرحمن بن مهدی، حماد بن زيد، امام شافعي، احمدبن حنبل، علی بن مدينی، ابن معين اسحاق بن راهويه او داسې نور.

امام شافعي رحمه الله فرمايي: که چيرې مالک، او دواړه سفيانان نه وی ، نو دحجاز علم به لمنځه تللی ؤ.

احمد بن حنبل رحمه الله فرمايي: ما بل هيڅوک زيات عالم په سنتو د سفيان بن عيينه څخه نه دی ليدلی.

امام عبدالرزاق سماع د امام سفيان بن عيينه څخه په دوه دليلونو ثابت ده.يوه داچې سفيان بن عيينه په (۱۵۰) او (۱۵۲) هجري کې سفر يمن ته کړی دی. او بل داچې امام عبالرزاق مکې مکرمې ته سفر کړی دی او په هغه وخت کې سفيان بن عيينه په مکه مکرمه کې ؤ.

على بن المديني رحمه الله وايي: (حج سفيان ثنتين وسبعين وحجة،.... فلم يزل يحج إلى أن مات، وأقام بمكة سنة اثنتين وعشرين ومائة إلى سنة ست وعشرين ومائة، ثم خرج إلى الكوفة).(2)

سفيان بن عيينه په (۱۷۲) هجري کې حج وکړ....هغه به بيا تل حج کولو ترڅو چې وفات شو او په مکه مکرمه کې د(۱۲۲) څخه تر( ۱۲۶) پورې مکه کې پاتې شو ، بيا کوفې ته لاړ.

سفيان بن عيينه په مکه مکرمه کې په (۱۹۸) هجري کې وفات شوی دی. (3)

ب): هغه استادان چې امام عبدالرزاق د هغوی څخه روايات له (۳۰۰) کم او د(۱۰۰) څخه ډير وي ، شهرت يي په لاندې توګه دی:

۱- اسرائيل بن يونس. ۲- عبدالله بن عمر العمري. ۳- مالک بن انس.

تفصيل: ددغو استادانو او شيوخو شهرت او علمي مرتبه په لاندې ډول ده:

۱-اسرائيل بن يونس بن ابي اسحاق همداني سبيعي ابو يوسف کوفي رحمه الله.

امام بخاري رحمه الله وايي: اسرائيل بن يونس په (۱۰۰) سلم هجري کې پيدا شوی دی.

د امام اعمش، سماک بن حرب، يوسف بن ابی برده او عاضم الاحول څخه يې روايتونه نقل کړي دي.

او د اسرائيل بن يونس څخه امام عبدالرزاق، ابوداوود طيالسي، احمدبن ابي اياس، عبدالرحمن بن مهدي ابو نعيم ، فريابي او وکيع روايتونه کړي دي.

---

1- سيوطي، عبد الرحمن بن أبو بكر، جلال الدين السيوطي (ت : 911ه) طبقات الحفاظ (صفحة: 16)

2-الفسوي، أبو يوسف يعقوب بن سفيان الفسوي (ت: 347ه)، المعرفة والتاريخ ج۱، ص: ۵۶. المحقق : خليل المنصور. الناشر : دار الكتب العلمية – بيروت

3- نووي، شرف الدين النووى، تهذيب الأسماء (صفحة: 314)، ذهبي، الامام شمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان الذهبي (ت: 748 ه)، سير أعلام النبلاء ج ۸، ص: ۴۵۵.أشرف على تحقيق الكتاب وخرج أحاديثه :شعيب الارنؤوط. الطبعة التاسعة 1413 ه 1993 م مؤسسة الرسالة بيروت

يحيى القطان رحمه الله وايي: اســرائيل د ابوبكر بن عياش څخه اوچت دی او احمد بن حنبل د اســرائيل له حفظ څخه تعجب كولو.

احمد بن حنبل رحمه الله وايي: اسرائيل نسبت شريک ته اصح الحديث دی. اسرائيل بن يونس په( ۱۶۲) يو سل دوه شپيته هجري کې وفات شوی دی. (1)

۲- عبد الله بن عمر بن حفص بن عاصم بن عمر بن الخطاب أبو عبد الرحمن عمري مدني رحمه الله.

امام احمد بن حنبل: (صالح قد روى عنه لا بأس به) (2) او يحيى بن معين وايي:( صويلح يكتب حديثه).(3)

ابن حجر وايي: ضعيف دی، په (۷۱) هجري کې وفات شوی دی. (4)

۳- مالك بن أنس بن مالك بن أبي عامر بن عمرو بن الحارث تيمى مدني رحمه الله.

امام مالک رحمه الله په (۹۳) هجري کې په مدينه منوره کې نړۍ ته سترګې غړولي دي.

بې شــميره تابعينو څخه يي آحاديث اوريدلي دي او بې شــميره شــاګردانو ورڅخه آحاديث اوريدلي او نقل كړي دي.

په (۱۷۹) هجري كال کې په مدينه منوره کې له دې فاني نړۍ څخه يي سترګې پټې کړې.(5)

ج) هغه استادان چې امام عبدالرزاق له هغو څخه له (۱۰۰) څخه کم روايات نقل کړی دی ، تفصيل يي په لاندې توګه دي:

۱- إبراهيم بن محمد بن أبي يحيى أسلمي أبو إسحاق مدني متروك الحديث ؤ.

په يو روايت سره په (۸۴) هجري کې او په بل روايت سره په (۹۱) هجري کې وفات شوی دی.[6]

۲-ابراهيم بن يزيد الخوزی، ابو اسماعيل مکي.متروک الحديث دی.امام نسايي وايې: (متروك الحديث).([7])

3- إسماعيل بن عياش الحمصي أبو عتبة عنسي ابو عتبه حمصي رحمه الله.

يحيى بن معين او فلاس رحمهما الله دواړه وايي: (هو ثقة في ما روى عن الشاميين. قال يزيد بن هارون: ما رأيت شاميا ولا عراقيا أحفظ من إسماعيل بن عياش). ([8])

---

1- الحافظ النقاد شيخ الاسلام جبل الحفظ وإمام الدنيا أبى عبد الله محمد بن اسماعيل بن ابراهيم الجعفي البخاري (ت: ۲۵۶)التاريخ الكبير ج ۲، ص: ۵۶، تحقيق: محمد – ازهر ، السيوطي، طبقات الحفاظ (صفحة: 16، بترقيم الشاملة آليا.

2-ابن عدى، عبدالله بن عدي بن عبدالله بن محمد أبو أحمد الجرجاني (ت: (365)، الكامل في ضعفاء الرجال ج۴، ص: ۱۴۱.تحقيق يحيى مختار غزاوي الناشر دار الفكر.سنة النشر 1409 - 1988مكان النشر بيروت

3-پورته ذکر شوی مرجع.

4-ابن حجر، أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي(ت: 852) تقريب التهذيب (ص: 314)

تحقيق محمد عوامة. الناشر دار الرشيد.سنة النشر 1406 – 1986. مكان النشر سوريا

5- ذهبي، محمد بن أحمد بن عثمان الذهبی، تذكرة الحفاظ للذهبي ج۱، ص: (۱۵۷) .دراسة وتحقيق: زكريا عميرات. الناشر: دار الكتب العلمية بيروت-لبنان. الطبعة الأولى 1419هـ- 1998م ، السيوطي، طبقات الحفاظ (صفحة: (۱۶)، بترقيم الشاملة آليا.

6-ابن حجر، تقريب التهذيب (ص: 93)

7 -ابن حجر، شهاب الدين أحمد بن علي بن حجر العسقلانيالمتوفي سنة 528 هـ ، تهذيب التهذيب ج ۱، ص: ۱۵۷ الطبعة الاولى 1404 هـ - 1984 م

8-ذهبی، محمد بن أحمد بن عثمان الذهبی، تذكرة الحفاظ وذيوله ج ۱، ص: ۱۸۶-۱۸۷. دراســة وتحقيق: زكريا عميرات. الناشــر: دار الكتب العلمية بيروت-لبنان. الطبعة الأولى 1419هـ- 1998م

اســـماعیل بن عیاش رحمه الله په هغو روایتونو کې ثقه دی چې د شـــام د راویانو څخه یې ذکر کوي. یزید بن هارون وایي: ما داسې شامي او عراقي راوي نه دی لیدلی چې هغه دې د اسماعیل بن عیاش څخه زیات حافظ وي.

په صحیح روایت سره په (۱۸۲) هجري کې وفات شوی دی.

۴- ایمن بن نابل أبو عمران ویقال أبو عمرو حبشي مکي چې عسقلان کې هم اوسیدلی دی.

ابن حجر وایي: (صدوق یهم).([1])

۵- ثور بن یزید بن زیاد ابو خالد الکلاعی، رحبی، حمصی رحمه الله.

د زیاتو تابعینو لکه عطاء بن رباح، نافع ، زهري، محمد بن منکدر څخه یې روایتونه نقل کړي دي.

او له هغه څخه محمدبن اسحاق بن یسار، مالک بن انس، ثوری، ابن عیینه، ابن المبارک روایتونه نقل کړي دي.

امام نووي رحمه الله وایي: (واتفقوا علی توثیقه والثناء علیه) ټولو علماوو د هغه په ثقه توب اتفاق کړی دی او د هغه صفت یې کړی دی. په بیت المقدس کې په (۱۵۳) هجري د څه دباسه د شپیتو کلونوپه عمر وفات شوی دی.([2])

۶- سعید بن عبد العزیز ابو محمد تنوخي رحمه الله ، دمشقي ، امام او د شام فقیه.

امام احمد بن حنبل رحمه الله وایي:(لیس بالشـــام أصـــح حدیثا منه). په شـــام کې له ده څخه بل څوک په حدیثو صحیح تر نشته.

په (۱۶۷) هجري کې وفات شوی دی او ځینې مؤرخین وایي: په (۱۶۳) کې وفات شوی دی.([3])

۷- عبد الرحمن بن عمرو بن یحمد أوزاعی رحمه الله، په شام کې د مستقل مذهب امام ؤ.

د شام او مغرب خلک مخکې له دې چې دامام مالک مذهب اختیار کړي ، دامام اوزاعي په مذهب ؤ.

امام اوزاعي په (۸۸) هجري کې پیدا شوی دی او په (۱۵۷) هجري کې وفات شوی دی.

ټولو علماوو د امام اوزاعي په امامت او لوی مرتبې اجماع کړی ده. (4)

۸- وکیع بن الجراح بن ملیح بن عدی أبو سفیان کوفی رحمه الله.

امام وکیع بن الجراح تبع تابعي ؤ او په احادیثو کې مطلق امام ؤ، د لویو لویو محدثینو څخه یې آحادیث روایت کړي دي، دامام عبدالرزاق په څېر لوی لوی محدثین یې شاګردان دي.

یحیی بن معین رحمه الله وایي: (ما رأیت أحدًا یحدث لله غیر وکیع بن الجراح، وهو أحب إلیَّ من ســـفیان وابن مهدی، وهو أحب إلیَّ من أبی نعیم، وما رأیت رجلاً قط أحفظ من وکیع، ووکیع فی زمانه کالأوزاعی فی زمانه). 5

1-ابن حجر، تقریب التهذیب، صفحة: (117)

2-نووی، للعلامة أبی زکریا محیي الدین بن شرف النووي ، تهذیب الأسماء صفحة: (۱۹۵).تحقیق: مصطفی عبد القادر عطا

3- ذهبی، محمد بن أحمد بن عثمان الذهبی، تذکرة الحفاظ وذیوله ج ۱، ص:(۱۶۱-۱۶۲). دراســة وتحقیق: زکریا عمیرات. الناشــر: دار الکتب العلمیة بیروت-لبنان. الطبعة الأولی 1419هـ- 1998م

4- نووی، للعلامة أبی زکریا محیي الدین بن شرف النووي ، تهذیب الأسماء صفحة( ۴۲۳) .تحقیق: مصطفی عبد القادر عطا

5- تاریخ مدینة دمشق (63/ 76)، تهذیب الکمال (30/ 475)

ما د وکيع څخه پرته بل څوک نه دی ليدلی چې دالله تعالی د رضا لپاره حديث بيانوي او وکيع ما ته د سفيان، عبدالرحمن بن المهدي، ابو نعيم څخه غوره دی. وکيع په خپله زمانه داسې ؤ لکه امام اوزاعي په خپله زمانه کې.

امام وکيع رحمه الله په (۱۲۷) هجري کې پيداشوی دی او په (۱۹۷) هجري کې وفات شوی دی، هغه وخت چې له حج څخه راگرځيدلو.(1)

۹- نعمان بن ابی شيبة جندي يماني رحمه الله.

يحيی بن معين رحمه الله وايي: ( النعمان بن ابی شيبة الجندي الصنعانی ثقة مأمون کيس کيس).(2)

نعمان بن ابی شيبه ثقه او مأمون دی، هوښيار دی، هوښيار دی.

۱۰-امام اعظم ابوحنيفه نعمان بن ثابت کوفي رحمه الله.

امام ابو حاتم رازي رحمه الله وايي: (روی عنه هشيم وعباد بن العوام وابن المبارك ووكيع وعبد الرزاق).(3)

د امام ابو حنيفه رحمه الله څخه هشيم، عباد بن العوام، ابن المبارک، وکيع بن الجراح او عبدالرزاق روايتونه نقل کړي دي.

۱۱-همام بن نافع حميري رحمه الله د امام عبدالرزاق والد.

ابن حبان4 رحمه الله وايي:( من خيار أهل اليمن وعبادهم).(5)

د اهل يمن د غوره خلکو څخه ؤ او د يمن دعابدانو څخه ؤ.

۱۲- امام أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد بن شيبانی مروزی. رحمه الله ( 6)

۱۳-عبدالله بن المبارک ابو عبدالرحمن. رحمه الله

عبدالله بن مبارک رحمه الله په (۱۱۸) هجري کې پيدا شوی دی ، په علم او تقوا او جهاد کې يې ساری نه درلود. عراق، شام ، حجاز ، مصر او يمن ته يې سفرونه کړي دي. په (۱۸۱) هجري کې وفات شوی دی.(7)

د يادونې وړ ده چې دامام عبدالرزاق غالبه او اکثره استاذان او شيوخ ټول هغه خلک دي چې د احاديثو په باب کې ورباندې احتجاج کيږي او دامام عبدالرزاق په استادانو کې د مشهورو مذاهبو امامان هم شامل دي لکه امام ابو حنيفه ، امام مالک، امام احمدبن حنبل رحمهم الله جميعا.

---

1-نووي، تهذيب الأسماء صفحة:( ۷۰۱-۷۰۲)

2- رازي، الامام الحافظ شيخ الاسلام ابی محمد عبد الرحمن بن ابی حاتم محمد بن ادريس بن المنذر التميمي الحنظلي الرازي (ت: 327)، الجرح والتعديل ج ۸ص: ۴۴۸، الطبعة الاولی بمطبعة مجلس دائرة المعارف العثمانية - بحيدر آباد الدكن - الهند سنة 1271 هـ

3-رازي، ابو محمد عبد الرحمن بن ابی حاتم محمد بن ادريس بن المنذر التميمي الحنظلي الرازي (ت: 327). الجرح والتعديل ج ۸، ص: ۴۴۹. الطبعة الاولی بمطبعة مجلس دائرة المعارف العثمانية - بحيدر آباد الدكن - الهند سنة 1271 هـ 1952 م

4-ابن حبان الحافظ الامام العلامة أبو حاتم محمد بن حبان بن احمد بن حبان بن معاذ بن معبد بن سهيد بن هدية بن مرة بن سعد بن يزيد بن مرة بن زيد بن عبد الله بن دارم بن حنظلة بن مالك بن زيد مناة بن تميم التميمي البستي صاحب التصانيف. تذكرة الحفاظ (3/ 920)

5- بستي، الامام الحافظ ابی حاتم محمد بن حبان بن احمد التميمي البستی(ت: 354) مشاهير علماء الأمصار صفحة:( 306).حققه ووثقه وعلق عليه: مرزوق علی ابراهيم. حقوق الطبع محفوظة الطبعة الاولی 1411 هـ - 1991 م دار الوفاء للطباعة والنشر والتوزيع -

6- عيني، أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الحنفى بدر الدين العينى(ت:855هـ)، مغانى الأخيار فى شرح أسامى رجال معانى الآثار ج۱، ص: ۲۴.حققه أبو عبد الله محمد حسن محمد حسن إسماعيل الشافعى الشيخ القاهرى المصرى

7-ابن سعد، محمد بن سعد بن منيع أبو عبدالله البصري الزهري. الطبقات الکبری ج۷، ص: ۳۷۲.الناشر : دار صادر - بيروت

البته د امام عبدالرزاق په شـيوخو کې ځينې ضـعيفه او کمزوري شـيوخ هم شـته لکه إبراهيم بن محمد الأسلمي رحمه الله، إبراهيم بن يزيد الخوزي رحمه الله، بشر بن رافع رحمه الله، الحسن بن عمارة رحمه الله، داود بن قيس رحمه الله، عباد بن كثير البصـري رحمه الله، عبد الله بن زياد بن سـمعان رحمه الله، عبد الله بن محرر رحمه الله، عبد القدوس بن حبيب رحمه الله، عثمان بن مطر رحمه الله، محمد بن أبي حميد رحمه الله، محمد بن راشد رحمه الله، المثنى بن الصباح رحمه الله، يحيى بن العلاء رحمه الله.

**دويم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله شاګردان**

دشـاګردانو د تعداد په اړه مې په هغه څه باندې بسـنه کړې ده کومو کسـانو نومونه چې په تقريب التهذيب يا تهذيب التهذيب، او سيراعلام النبلاء کې ذکر شوي دي:

1 . أحمد بن أزهر بن منيع ، أبو أزهر عبدي نيسابوري رحمه الله . صدوق كان يحفظ ثم كبر فصار كتابه أثبت من حفظه - ( ت ٢٦٣ ه).

امام ذهبي د احمد بن ازهر بن منيع په استادانو کې امام عبدالرزاق ذکر کړی دی. 1

2 . أحمد بن صالح البصري ، أبو جعفر الطبري رحمه الله . ثقة ، حافظ . ( ت ٢٤٨ ه ).( 2)

3 . أحمد بن الفرات بن خالد الضبي ، الرازي رحمه الله . ثقة حافظ تكلم فيه بلا مستند - ( ت ٢٥٨ ه ).(3)

4 ــ أحمد ابن محمد ابن حنبل ابن هلال ابن أسـد الشـيباني المروزي نزيل بغداد أبو عبدالله أحد الأئمة ثقة حافظ فقيه حجة.4

5 . أحمد بن منصور بن سيار الرمادي البغدادي رحمه الله . ثقة ، حافظ . ( ت ٢٦٥ ه ).(5)

6 ـ أحمد بن يوسف المعروف بحمدان بن يوسف السلمي النيسابوري رحمه الله حافظ ثقة- ( ت ٢٦٤ هـ ). 6)

٧- إبراهيم بن محمد بن برة الصنعاني رحمه الله . ( ت ٢٨٦ ه ).(7)

٨-إبراهيم بن موسى بن يزيد التميمي الرازي رحمه الله . ثقة ، حافظ . (ت : ٢٢٠ ).(8)

---

1- سير أعلام النبلاء (12/ 364).

2-تقريب التهذيب (صفحة: 80) تحقيق محمد عوامة. الناشر دار الرشيد. سنة النشر 1406

3- تقريب التهذيب (صفحة: 83)

4- تقريب التهذيب (1/ 84)

5- تقريب التهذيب (صفحة: 85)

6- تقريب التهذيب (صفحة: 86)

7- ذهبي، شـمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان الذهبي(ت: 748)، سـير أعلام النبلاء ج ١٣،ص: ٣٥١. أشـرف على تحقيق الكتاب وخرج أحاديثه :شـعيب الارنؤوط.مؤسسة الرسالة. الطبعة التاسعة 1413 ه 1993 م

8- تقريب التهذيب (صحفة: 94)

٩ـ إسحاق بن إبراهيم بن عباد ، أبـو يعقوب الدبـري الصنعاني رحمه الله ـ ( ت ٢٨٦ هـ ). امام دارقطني رحمه الله وابي:(هو صدوق، ما رأيت فيه خلافا).1

١٠ـ إسحاق بن إبراهيم بن مخلد الحنظلي ( ابن راهويه ) المروزي ، نزيـل نيسابور رحمه الله ، ثقة ، حافظ ، مجتهد . ( ت ٢٣٨ ه).

11 . إسحاق بن منصور الكوسج ، المروزي رحمه الله . ثقة ، ثبت . ( ت ٢٥١ هـ ).(2)

12 ـ حجاج بـن أبي يعقوب يوسـف بـن حـجـاج الثقفي ، المعروف بابن الشاعر رحمه الله ـ ثقة، حافظ ـ ( ت ٢٥٩ هـ ).( 3)

13 ـ الحسن بن علي بن علي ، محمد الهذلي ، أبو علي الخـلال الحلواني رحمه الله ، ثقة ، حافظ ( ت ٢٤٢ هـ ). (4)

14 - زهير بن حرب بن شداد أبو خيثمة النسائي رحمه الله ـ ثقـة ، ثبت روى عنه مسلم أكثر من ألف حديث . ( ت ٢٣٤ هـ ).(5) ثقه او حافظ دى ، امام مسلم ورڅخه د زرو څخه زيات آحاديث نقل كړي دى.

15 ـــ عبد الله بن محمد بن عبد بن جعفر الجعفي ، أبو جعفر البخاري المعروف بالمسـندي رحمه الله - ثقة ، حافظ . ( ت ٢٢٩ هـ ).(6)

١٦ـ علي بن عبد الله بن جعفر السعدي، ابن المديني رحمه الله البصري - ثقـة ، ثبت ، إمام ،أعلم أهل عصره بالحديث وعلله حتى قال البخاري ما استصغرت نفسي إلا عند علي بن المديني . ( ت ٢٣٤ هـ ).( 7)

١٧ـ محمد بن يحيى بن عبد الله بن ذؤيب الذهلي النيسابوري رحمه الله - ثقـة ، حافظ ، جليل - ( ت ٢٥٨ هـ ).(8)

18-محمود بن غيلان العدوي المروزي رحمه الله ، نزيل بغداد . ثقة . ( ت:٢٣٩ ).(9)

19. وكيع بن الجراح بن مليح الرؤاسي الكوفي رحمه الله . ثقة ، حافظ ، عابد - ( ت ١٩٧ هـ ).(10)

20. يحيى بن معين بن عون الغطفاني البغدادي رحمه الله . ثقة ، حافظ، مشهور.( ت 33 2هـ ).(11)

---

1-ذهبى، شـمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان الذهبي(ت: 748)، سـير أعلام النبلاء ج١٣، ص: ٤١٧. الامام شـمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان الذهبي(ت: 748)

2- تقريب التهذيب (صفحة: 103)

3- تقريب التهذيب (صفحة: 153)

4- تقريب التهذيب (صفحة: 162)

5- تقريب التهذيب (صفحة: 217)

6- تقريب التهذيب (صفحة: 321)

7- سير أعلام النبلاء ط الحديث (10/ 89

8- تقريب التهذيب (صفحة: 512)

9- تقريب التهذيب (صفحة: 522)

10- تقريب التهذيب (صفحة: 581)

11- تقريب التهذيب (صفحة: 597)

د يادونې وړ ده چې د امام عبدالرزاق د صنعاء او نجران[1] څخه علاوه په مکه مکرمه ، بغداد ، کوفه [2] ، بصره [3]، ری [4]، نيشاپور، مروه [5] بخارا [6]کې هم زيات شاګردان درلودل چې دا د هغه د عمليت او امامت لوی دليل دی.

همدا رازد امام عبدالرزاق په شاګردانو کې د آحاديثو لوی لوی امامان شامل ؤ لکه احمدبن حنبل، اسحاق بن راهويه، على المديني ، يحيى بن معين ، عبد بن حميد، محمد بن رافع، محمد بن يحيى ذهلي محمود بن غيلان او داسې نور.

1-نجران: بالفتح، ثم السكون، وآخره نون، وهو فى عدّة مواضع: منها نجران من مخاليف اليمن من ناحية مكة، وبها كان خبر الأخدود؛ وإليها تنسب كعبة نجران، وكانت ربيعة بها أساقفة مقيمون «5» ، منهم السيد والعاقب اللّذين جاءا إلى النّبيّ عليه السلام فى أصحابهما، ودعاهم إلى المباهلة، وبقوا بها حتى أجلاهم عمر رضى الله عنه عنها. مراصد الاطلاع على اسماء الامكنة والبقاع (3/ 1359)

2- الكوفة: المدينة الكبرى بالعراق والمصر الأعظم وقبة الإسلام، وهي أول مدينة اختطها المسلمون بالعراق في سنة أربع عشرة، وهي على معظم الفرات ومنه شرب أهلها، ومن بغداد إلى الكوفة ثلاثون فرسخاً، وهي ثلاث مراحل، والمسافات من بغداد إلى الكوفة في عمارات وقرى عظام متصلة عامرة فيها أخلاط من العجم ونفر من العرب سميت بجبل صغير في وسطها كان يقال له كوفان وعليه اختطت. الروض المعطار في خبر الأقطار (ص: 501)

3-البصرة: بالعراق، وهي كانت قبة الإسلام، ومقر أهله، بنيت في خلافة عمر رضي الله عنه سنة أربع عشرة واختط عتبة بن غزوان المنازل بها وبنى مسجداً من قصب، ويقال بل كان ذلك سنة سبع عشرة. وعتبة أول من اختطها ونزلها في ثمانمائة رجل وهو الذي فتح الأبلة.

قال ابن الأنباري: البصرة في كلام العرب الأرض الغليظة، وقال قطرب: البصرة الأرض الغليظة التي فيها حجارة تقلع وتقطع حوافر الدوابّ. الروض المعطار في خبر الأقطار (ص: 105)، معجم البلدان (1/ 430)

4-الرى: مدينة مشهورة من أمهات البلاد وأعلام المدن، كثيرة الخيرات وافرة الغلات والثمرات قديمة البناء؛ قال ابن الكلبي: بناها هوشنج بعد كيومرث. وقال غيره: بناها راز بن خراسان لأن النسبة إليها رازي. وهي مدينة عجيبة في فضاء من الأرض، وإلى جانبها جبل أقرع لا ينبت شيئاً يقال له طبرك. قالوا: انه معدن الذهب، إلا ان نيله لا يفي بالنفقة عليه ولهذا تركوا معالجته. آثار البلاد وأخبار العباد، للقزوينى (ص: 375)

5-مروه: المرو: الحجارة البيض، تقدح بها النار، وهي مدينة في خراسان والنسبة إليها مروزي، على غير قياس والثوب: مروي:على القياس. المعالم الأثيرة في السنة والسيرة (ص: 250)

6-بخارى: مدينة عظيمة مشهورة بما وراء النهر قديمة طيبة. قال صاحب كتاب الصور: لم أر ولا بلغني أن في جميع بلاد الإسلام مدينة أحسن خارجاً من بخارى. آثار البلاد وأخبار العباد (ص: 509) و رسم ابوعبيد الاندلسى (بخاراء) بخراسان، ممدودة، كذلك وردت فى شعر الكميت، والبيت مذكور فى رسم قنديد، والنسب إليها بخارىّ، بحذف الزوائد، وإليها ينسب الإمام محمّد بن إسماعيل البخارىّ. معجم ما استعجم من اسماء البلاد والمواضع (1/ 229)

## څلورم مبحث: دامام عبدالرزاق په اړه دعلماوو څرګندونې.

امام عبدالرزاق ته ځينې انتقادات متوجه دي چې هغه عبارت دي له: اختلاط، شــيعه والى او تدليس څخه. چې هر يو يې په لاندې کرښو کې په جلاجلا ډول څېړو:

### لومړی مطلب: د امام عبدالرزاق رحمه الله اختلاط.

**د اختلاط تعريف:**

اختلاط په عربي لغت کې په عقل کې فساد او خلل راتللو ته ويل کيږي.

او د علم حديث په اصــطلاح کې د راوي دحافظې د ناکاره کيدو څخه عبارت دی چې د عمر له زياتوالي، د نظر تللو، د کتابونو د سوزيدو ، مرض او نورو غمونو له امله رامنځ ته کيږي.1

اختلاط په علم حديث کې هغه علت دی چې حديث ورباندې رد کيږي.

امام عبدالرزاق دوه ډوله اختلاط درلود: ديادو او پرته له ليکلو څخه په حديث  کې وهم او اختلاط، دويم د ړوندوالي په سبب اختلاط چې هر يو يې په لاندې ډول بيانوو:

الف) – له ليکلو پرته اختلاط:  دامام عبدالرزاق دټولو علماوو په احماع ســره ثقه محدث ؤ ، خو په ځينو مواردو کې په حديث کې وهم او اختلاط ور څخه ثابت شوی دی چې د هغې له جملې څخه ځينې يې هغه موارد دي چې کله به ده پرته له خپل کتاب څخه  روايت کولو وهم اواختلاط ورباندې راغلی دی.

امام بخاري رحمه الله وايي: عبدالرزاق بن همام کوم حديث چې په ليکلي ډول ويلی هغه صحيح دی. 2

يحيى بن معين وايي: ما چې کوم حديث ليکلی دی؛ هغه مې د عبدالرزاق د کتاب څخه ليکلی دی( يعنې هغه مې ليکلی چې ده به د ځان لپاره ليکلي وه)، يحيى زياته وي چې ما د عبدالرزاق د کتاب څخه پرته د ده د حفظ څخه يوازې يو حديث روايت کړی دی. يحيى بن معين وايي ماته عبدالرزاق وويل: پرته له يو حديث څخه نور څه زما د حافظې او ياد څخه نه دي ليکلي؟ ما ورته وويل: نه پرته له يو حديث څخه مې بل حرف هم نه دی ليکلی.(3)

امام نســائي وايي(عبد الرزاق بن همام فيه نظر لمن كتب عنه بأخره وفي رواية أخرى عبد الرزاق بن همام من لم يكتب عنه من كتاب ففيه نظر ومن كتب عنه بأخرة جاء عنه باحاديث مناكير).4

عبدالرزاق بن همام چاچې په اخر عمر کې ورڅخه ليکنه کړی ده په هغې کې خبره شـــته. په يو بل روايت کې نسـايې وايي.چاچې د عبدالرزاق بن همام له کتاب څخه ليکنه نه وي کړي  په هغې کې خبره شـته او چاچې په اخر عمر کې د هغه څخه ليکل کړي دي د منکر حديثونه يې ذکر کړي دي.

---

1- فتح المغيث 331/3، منهج الإمام أحمد في إعلال الأحاديث (1/ 401)

2-قال الامام البخارى: ما حدث من كتابه فهو أصح. التاريخ الكبير (6/ 130)

(3) ابن أبي خيثمة ،أبو بكر أحمد بن أبي خيثمة (ت: 279هـ) التاريخ الكبير المعروف بتاريخ ابن أبي خيثمة ج۶، ص: ۱۳۰. المحقق: صلاح بن فتحي هلال. الناشر: الفاروق الحديثة للطباعة والنشـــر – القاهرة،الطبعة: الأولى، 1427 هـــــ - 2006 م)،  ابن حنبل،  أحمد بن حنبل أبو عبدالله الشــيباني، العلل ومعرفة الرجال،ج۲،ص:۶۰۶. تحقيق : وصي الله بن محمد عباس. الناشر : المكتب الإسلامي , دار الخاني - بيروت , الرياض. الطبعة الأولى ، 1408 - 1988

4- تاريخ دمشق لابن عساكر (36/ 181)

امام دارقطني وايي: (ثقة يخطئ على معمر في أحاديث لم تكن في الكتاب).1 امام عبدالرزاق ثقه دی خو د معمر په حديثونو کې چې په کتاب کې نه وي خطا کيږي.

او دومره وهم او خطا ډير کم محدثين دي چې ددې نوع خطا څخه خلاص دي.

ب) – د ړوندوالي په سبب اختلاط: د دې ډول اختلاط په اړه ابوذرعة وايي:ما ته احمد وويل: مونږ ته عبدالرزاق خبر بيانولو په هغه وخت کې يې سترګې جوړې وې.

ابن حجر رحمه الله وايي: له دوه سوم(۲۰۰هـ) کال مخکې يې سترګې جوړې وې، له دې نېټې وروسته يې سترګې ړندې شوې.2

د ړندېدو وروسته به عبدالرزاق ته د احاديثو تلقين او القاء کېده، ده ته به دا سې احاديث القاء کېدل چې هغه به باطل وو، په دې اړه ابن رجب له احمد څخه داسې روايت کوي: امام احمد وايي: د عبدالرزاق څخه د ده دړوندوالي نه وروسته رانقل شوو احاديثو ته ځکه اعتبار نه ورکول کېږي چې ده ته باطل احاديث القاء او تلقين شوي دي.(3).

له دې ټولو خبرو څخه دا معلومېږي چې عبدالرزاق بن همام ته د ضعيفو، باطلو احاديثو تلقين شوی،د دې په علت کې ابي حاتم وايي: ما د خپل پلار څخه د هغه حديث په اړه چې ابو عقيل بن حاجب د عبدالرزاق او هغه د سعيد بن قماديز نه، هغه دعثمان بن ابي سليمان نه،هغه د سعيد بن محمد بن جبير بن مطعم نه، هغه د عبدالله بن حبشي نه،چې وايي: ما د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) نه اورېدلي دي چې ويلې يې دي: « لاتطرقوا الطير في اوكارها، فإن الليل لا امان لها». دی وايي: پلار مې راته وويل: دغه حديث د هغواحاديثو له جملې څخه دی چې عبدالرزاق ته تلقين شوی دی، او موضوعي حديث دی(4).

يادونه: د عبدالرزاق کتابونه صحيح دي، د ده اختلاط کوم تاثير وربانديې نه دی کړی؛ ځکه هغه يې تر ړندېدو د وړاندې ليکلي دي.او کومې خبرې چې د ده د حفظ په اړه شوې دي د هغې وجه دا ده چې د ده په حافظه کې د ړوندوالي وروسته څه پيدا شول.خو د اختلاط تر مخه د ده څخه چې کوم احاديث روايت شوي، هغه صحيح او اهل علم پکې کومه خبره نه لري.

خلاصه خبره دا چې امام عبدالرزاق ته منسوب احاديث درې ډوله دي:

يو هغه احاديث دي کوم چې په يمن کې امام عبدالرزاق د روغ صحت پر وخت په خپل مصنف کې ليکلي دي چې دا ډول احاديث صحيح احاديث دي.

دوهم ډول هغه احاديث دي چې امام عبدالرزاق د ړوند والي څخه وروسته شاګردانو ته القاء کول ؛ چې دې ډول احاديثو په ځينو کې خطاء شته.

---

1- تاريخ دمشق لابن عساكر (36/ 182)

2- عبد الرزاق قبل المائتين وهو صحيح البصر من سمع منه بعدما ذهب بصره فهو ضعيف السماع. تهذيب التهذيب (21/ 313)

(3) الكفاية في علم الرواية، ص:۲۵۹.

(4) شرح علل الترمذي،ج۱، ۱۱۲.

دريم ډول هغه احاديث دي چې په امام عبدالرزاق پورې تړل شوي دي چې اصلا ده پورې هيڅ تړاو نه لري.(1)

**دويم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله شيعه توب.**

شـيعه هغه خلک دي چې د حضـرت علي رضـي الله عنه سـره ملګرتی کړی وه او دحضـرت علي رضـي الله عنه په امامت باندې او خلافت باندې عقيده لري يا په جلي نص ســره او يا په خفي نص ســره او دوی عقيده لري چې امامت د حضرت علي کرم الله وجهه له اولاد څخه نه وځي او که که چيرې وويستل شوی نو دا پبه پهه ظلم سره ويستل شوی وي او يا به په اساس د تقيې دده له خوا ويستل شوی وي.

دوی وايي چې امامت کومه مصـلحتي خبره نه ده چې په عوامو پورې اړه ولري او امام به ددوی په اختيار ســره ټاکل کيږي ، بلکې دا يوه اصــولي قضــيه ده او ددين رکن دی ، پيغمبرانو ته دا جايز نه دي چې ددې څخه غفلت وکړي او يا يې په اړه بې پروايي وکړي او يا يې عوامو ته وســپاري. دوی ټول په دې خبره عقيده لري چې امامت واجب دی علی وجه التعيين والتنصـيص او دوی د کبيره او صـغيره ګناهونو څخه دانبياوو او امامانو په عصـمت قائل دي.

دوی پنځه فرقې دي : کيسانيه، زيديه، اماميه، غلاة او اسماعيليه.2

**د قرون اولی او نن زمانې د شيعه ګانو ترمنځ توپير:**

هر څه له مخې بايد په دې خبره باندې پوهه شو چې دامام عبدالرازق د وخت شيعه توب او د وروستنی زمانې شــيعه توب کې توپير موجوددی، ځکه چې يو د متقدمينو علماوو په اصــطلاح شــيعه ګان دي هغه شــيعه توب داســې نه ؤ لکه د اوس زمانې شــيعه ګان چې داســلام څخه منحرف دي ، او بل د متأخرينو علماوو په اصــطلاح شيعه ګان دي چې دې دواړو کې فرق موجوددی.

په لومړی قرن کې د شيعه ګانو ترمنځ د امام د عصمت او منصوصيت عقيده معروفه او شائع نه وه،بلکې دا عقيده په کوفه کې ددوهم قرن په شـروع کې رامنځ ته شـوه او په دوهم او دريم قرن کې د امامت نظريه د شـيعه ګانو په منځ کې خپره شــوه خو بيا هم امامت په کومو معينو امامانو پورې او زمانې پورې محصــوره نه وه ، بيا په څلورم قرن کې اثنا عشريه ډله راپيدا شوه او امامت يې په ځانګړو اشخاصو پورې منحصر کړ.

حافظ ابن حجر رحمه الله وايي: د متقدمينو علماوو په اصطلاح کې شيعه هغه څوک ؤ چې علي رضي الله عنه يې په حضرت عثمان رضي الله عنه باندې بهتره ګڼلو ، بل داچې د علي رضي الله عنه مخالف په خطا دی ، خو د شـيخينو په افضـليت او تقديم باندې يې عقيده لرله او ځينې وخت وايي چې علي رضي الله عنه د رسـول الله صلی الله عليه وسلم څخه وروسته تر ټول مخلوق غوره دی. که څوک داسې عقيده ولري او متقي او پرهيزګاره وي او صادقه وي او مجتهد وي ، د هغه روايت نه رد کيږي په ځانګړې توګه چې دغه شيعه توب ته داعي نه وي.

---

(1) وګورئ : شرح العلل للدارقطنى ص: ٣٢٣، شرح علل الترمذى لابن رجب الحنبلى ص: ٢٧٢، شرح العلل لابن رجب ج٢ ص:٧٧٠

2- الملل والنحل (1/ 145)

او د متأخرينو علماوو په نزد شيعه توب خالص رافضی توب دی، او د غالي رافضي روايت نه قبليږي. 1

امام ذهبي رحمه الله هم د شيعه ګانو او رافضيانو ترمنځ د توپير په اړه وايي:( ولكن من سكت عن ترحم مثل الشهيد أمير المؤمنين عثمان ، فإن فيه شيئا من تشيع ، فمن نطق فيه بِغَضّ وتنقص وهو شيعي جلد يؤدب ، وإن ترقى إلى الشيخين بذم ، فهو رافضي خبيث ، وكذا من تعرض للإمام علي بذم ، فهو ناصبي يعزر ، فإن كفره ، فهو خارجي مارق ، بل سبيلنا أن نستغفر للكل ، ونحبهم ، ونكف عما شجر بينهم).2

مګر څوک چې پر امير المؤمنين عثمان رضـي الله باندې د ترحم (رحمه الله) څخه ساكت شـو نو په ده كې د شيعه توب يو څه شته او څوک چې د هغه په اړه په كينه او نقص باندې تلفظ وكړي او هغه شيعه وي تاديباً به په جلد كيږي او كه چيرې ددې څخه هم بره لاړو شـيخينو ته (ابوبكر او عمر) يې ذم او بدي وويله نو دا خبيث رافضي دی او همدا رنګه څوک چې امام علي رضي الله عنه باندې تعرض وكړي او بدي يې بيان كړي نو دا ناصبي دي په تعزير كيږي يه او كه چيرې هغه كافر وګرځولو نو دا كس خارجي او وتلی دی داسـلام څخه ، بلكې زمونږ لار داده چې ښـنه د ټولو لپاره وغواړو او دټولو سـره محبت وسـاتو او ژبې وسـاتو د هغه څه نه چې واقع شـوي ؤ د هغوی ترمنځ.

امام عبدالرزاق رحمه الله له غالي شـيعه ګانو له جملې څخه نه ؤ او هغه د رافضـي توب څخه بري ؤ او كه فرضا د خپل وخت شيعه هم ؤ ، وروسته يې ددغه شيعه توب څخه توبه ويستلی وه.

ددې خبرې د ثبوت لپاره لاندې راويات بايد په غور سره وولو:

-امام عبدالرزاق كه چيرې شيعه هم ؤ خو غالي شيعه او رافضي نه ؤ، چې داحاديثو په راويانو كې زيات داسې ثقه راويان شته چې هغوی غالي شيعه ګان نه ؤ او روايتونه يې مقبول دي. امام عروبه رحمه الله چې منل شوی او ثقه د احاديثو امام ؤ هغه هم شيعه ؤ. امام ذهبي د هغه په اړه ليكلي:(كل من أحب الشيخين فليس بغال ، بل من تعرض لهما بشيء من تنقص فإنه رافضي غال ، فإن سب ، فهو من شرار الرافضة ، فإن كفر فقد باء بالكفر ، واستحق الخزي )3.

امام عبدالله بن احمد وايي :( سألت أبي قلت له : عبد الرزاق كان يتشيع ويفرط في التشيع؟ فقال : أما أنا فلم أسمع منه في هذا شيئًا ، ولكن كان رجلا تعجبه أخبار الناس - أو الأخبار).4

عبدالله بن احمدبن حنبل رحمه الله وايي: د خپل پلار څخه مې وپوښـتل چې عبدالرزاق شـيعه ؤ؟ او شـيعه توب كې يې غلو كوله او كنه؟ پلار مې راته وويل: ما د شـيعه توب په اړه له عبدالرزاق څخه څه نه دي اوريدلي،

1- او د حافظ ابن حجر عبارت په لاندې ډول دی: ( فالتشيع في عرف المتقدمين هو اعتقاد تفضيل علي على عثمان, وأن عليا كان مصيبا في حروبه وأن مخالفه مخطئ مع تقديم الشيخين وتفضيلهما, وربما اعتقد بعضهم أن عليا أفضل الخلق بعد رسول الله -صلى الله عليهآله وسلم-, وإذا كان معتقد ذلك ورعا دينا صادقا مجتهدا فلا ترد روايته بهذا, لا سيما إن كان غير داعية, وأما التشيع في عرف المتأخرين فهو الرفض المحض فلا تقبل رواية الرافضي الغالي).تهذيب التهذيب (3/ 86)

2- سير أعلام النبلاء (7/ 370)

3- سير أعلام النبلاء (14/ 511)

4- العلل ومعرفة الرجال » للإمام أحمد رواية عبد الله ( ٢/٥٩ )

هغه یو داسې شخص ؤ؛ چې د خلکو په خبرو باندې به يې تعجب کولو. (1) يعنی هغه روايت چې په کې ويلي چې جعفر مې خوښ شو دهغه سيرت او نور کړه وړه مې خوښ شول دا نه چې هغه د شيعه توب عقيده درلودله.

دامام عبدالرزاق څخه هيڅکله ثابت نه دي چې هغه دې حضرت علي رضي الله پر شيخينو مقدم او يا بهتره ګڼلی وي ، بلکې د هغه څخه داهل السنت والجماعت په شان عقيده نقل ده.

امام ذهبی رحمه الله وايي:( ونقموا عليه التشيع، وما كان يغلو فيه بل كان يحب عليا رضي الله عنه ويبغض من قاتله.

وقد قال سلمة بن شبيب: سمعت عبد الرزاق يقول: والله ما انشرح صدري قط أن أفضل عليا على أبي بكر وعمر.).(2)

همدا راز امام احمد بن حنبل چې دامام عبدالرزاق شاګرد ؤ له سلمه بن شبيب څخه روايت نقلوي هغه وايي:( سمعت عبد الرزاق يقول : والله ما انشرح صدري قط أن أفضل عليا على أبي بكر وعمر ، ورحم الله أبا بكر، ورحم الله عمر ، ورحم الله عثمان ، ورحم الله عليا ، ومن لم يحبهم فما هو بمؤمن). 3

ترجمه: سلمه بين شبيب وايي ماد عبدالرزاق څخه اوريدلي دي چې ويل يې: زما سينه ديته نه خلاصيږي چې زه حضرت على رضي الله عنه پر ابوبكر او عمر رضي الله عنهما باندې بهتره وګڼم. الله تعالى رحم وكړي پر ابوبكر ، الله تعالى رحم وكړي پر عمر او رحم دې وكړي الله تعالى پر علي –رضي الله عنهم- او څوک چې له دوی سره محبت ونکړي ،نو هغه مؤمن نه دی.

د امام ابو الازهر څخه چې د امام عبدالرزاق شاګرد ؤ روايت دی هغه وايي :(سمعت عبد الرزاق يقول : أفضل الشيخين بتفضيل علي إياهما على نفسه ، ولو لم يفضلهما لم أفضلهما ، كفى بي إزراء أن أحب عليا ثم أخالف قوله).4

ترجمه: ماد امام عبدالرزاق څخه اوريدلي دي چې ويل يې زه شيخين افضله ګڼم پر علي رضی الله عنه په سبب ددې چې علي رضي الله عنه هغه دواړه پر خپل ځان افضله ګڼلي ؤ که چيرې هغه شيخين په خپل ځان غوره نه ؤ ګڼلي نو مابه هم بهتره نه ؤ ګڼلي زما لپاره دومره سپکوالی بس دی چې زه د علي رضي الله عنه دمحبت دعوا کوم بيا دهغه له قول څخه مخالفت کوم.

امام عبدالرزاق رافضيان کافر ګڼي. له أبو بكر بن زنجويه څخه روايت دی هغه وايي :( سمعت عبد الرزاق يقول : الرافضي كافر). 5

ترجمه: ماد امام عبدالرزاق اوريدلي دي چې ويل يې : رافضی کافر دی.

---

(1)المسند للامام احمد ،ج ٣ ص: ٢٩٧، العلل لاحمد ص: ١٥٤٥

2- تذكرة الحفاظ وذيوله ج ١، ٢: ٢٦٧.

3- العلل ومعرفة الرجال للإمام أحمد رواية عبد الله ( ٢/٥٩ )

4- الكامل لابن عدي ( ٦ / ٥٤٠ )

5- تاريخ دمشق (36/ 190)

امام عبدالرزاق له شیعه توب څخه رجوع کړی ده. امام ابن عساکر وایي: چې هغه د شیعه توب څخه رجوع کړی ده.

بیایي دا روایت نقل کړی دی.(عبيد الله بن موسى من المتروكين ؛ تركه أبو عبد الله أحمد بن حنبل لتشيعه ، وقد عوتب أحمد بن حنبل على روايته عن عبد الرزاق فذكر أنه رجع عن ذلك ).1

ترجمه: عبیدالله بن موسی د متروکینو له جملې څخه دی، احمدبن حنبل هم ترک کړی ؤ د هغه د شیعه توب له وجی نه، او امام احمد بن حنبل په دې ملامت شو چې ده له امام عبدالرزاق څخه روایت کړی دی، نو امام احمد بن حنبل وویل چې امام عبدالرزاق له شیعه توب څخه رجوع کړی ده.

خلاصه د مطلب:

علماء د امام عبدالرزاق د شیعه توب په اړه داسې وایې:

۱-لومړی داچې امام عبدالرزاق شیعه نه ؤ بلکې په هره زمانه کې علماء خپل منځ کې منافسین لري په هغه وخت کې دا هم ده چې هغه یې په شیعه والي تورن کړی.

۲-دوهم داچې هغه یوائې د آل بیتو سره مینه او محبت درلود خو د جرح او تعدیل متشددینو علماوو هغه په دې کار سره شیعه بللو ؛ چې داسې نسبت د اهل سنتو د (۸۰) اتیا څخه زیاتو امامانو او محدثینو ته شوی دي لکه امام حاکم نیساپوري او داسې نور(2). چې داسې محبت هیڅکله شیعه توب نه دی.خپله امام شافعی رحمه الله وایې:

( إن كان رفضا حب آل محمد * فليشهد الثقلان أني رافضي) (3)

ژباړه: که چیرې د آل بیتو سره مینه کول شیعه توب وي نو ټول دې ګواه اوسئ چې زه شیعه یم. چې داسې کسان په حقیقت کې شیعه ګان نه دي.

۳- دریم داچې هغه شیعه ؤ خو افراطي شیعه نه ؤ ؛ او په شیعه توب کې افراطي او غلو کوونکی نه ؤ، د صحابه وو په اړه چې شیعه ګان کومه عقیده او نظریه لري، دی له دې څخه بري او پاک و. دهغه زمانې شیعه ګانو پرشیخینو څوک غوره نه ګڼل، امامان یې معصوم نه ګڼل، صحابه وو ته یې کنځل نه کول. دهغه وخت شیعه ګانوتوب یوائې علي رضي الله عنه پر عثمان رضی الله عنه مقدم ګڼلو. (4) ابن عدي وایي: علماء په عبدالرزاق باندې د شیعه توب عیب لګوي، خو ده په شیعه والي کې غلو نه کوله، یوازې د علي (رضي الله عنه) سره یې مینه وه، او د هغو کسانو څخه یې کرکه کوله او بد یې ګڼل چې علي (رضي الله عنه) یې په شهادت ورساوه(5).

---

1- تاريخ دمشق (36/ 189)

( 2) تسمية من تشيع أو رمي بالتشيع من رواة الكتب الستة (ص: 2) مشهور بن مرزوق بن محمد الحرازي مدينة جدة 1428هـ

(3) ابن عساكر، علي بن الحسن بن هبة الله بن عساكر الدمشقي تبيين كذب المفتري فيما نسب إلى الإمام أبي الحسن الأشعري (ص: 363) الناشر: دار الكتاب العربي – بيروت الطبعة الثالثة ، 1404،

(4) تهذيب التهذيب ج۱ ص: ۹۶، منهاج السنة للشيخ الاسلام ج۳۵ص:۳۶، مجموع الفتاوی للشيخ الاسلام ج۴ ص:۴۳۵

( 5) العلل ومعرفة الرجال،ج۲،ص:۵۹. الكامل في ضعفاء الرجال.تحقيق: عادل أحمد عبد الموجود-علي محمد معوض.(الناشر: الكتب العلمية - بيروت- لبنان، الطبعة: الأولى، 1418هـ1997م). ،ج۵،ص: ۱۹۵۲

۴-هغه دامام بخاري رحمه الله په رجالو کې شمار دی او امام بخاري د شيعه ګانو څخه روايت نه کولو.

## دريم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله تدليس.

### د تدليس تعريف:

تدليس په لغت کې تورتم او پټوالي ته ويل کيږي.

او په اصطلاح کې دی ته ويل کيږي چې راوي د خپل شيخ څخه هغه روايتونه نقل کړي چې ده له هغه څخه نه وي اوريدلی په داسې الفاظو سره چې اوريدل ورڅخه معلوميږي لکه عن، قال، حدثنا، اخبرنا.

د جمهورو محدثينو په نزد باندې تدليس مکروه دی او سم کار نه دی.

ابن حجر رحمه الله په ( طبقات المدلسين) دويمه طبقه کې ذکر کړي دي او وايي: عبدالرزاق بن همام الصنعاني مشهور حافظ او د ده څخه په روايت باندې اتفاق شوی دی، خو ځينې کسانو ده ته د تدليس نسبت کړی دی ، مګر عبدالرزاق د تدليس څخه د خپله ځان تبرئه اعلان کړې ده، او دی وايي: حج ته تللی وم، دري ورځې مې تيرې شوې ، د اهل حديثو څخه هيڅوک هم زما خواته نه راتلل، نو خپل ځان مې په کعبه پورې وتړلو، او ومې ويل: يا رب! په ما څه شوي، آيا زه دروغجن يم؟ آيا زه مدلس يم؟ له دې وروسته خپل کورته ولاړم او اهل حديث هم زما خوا ته راغلل. ابن حجر وايي: د خپل ځان څخه د تدليس نفي کول د دې احتمال لري چې ډير تدليس نفي کوي.(1)

---

(1) ابن حجر،أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر العسقلاني (المتوفى: 852هـ) تعريف اهل التقديس بمراتب الموصوفين بالتدليس.المحقق: د. عاصم بن عبدالله القريوتي(الناشر: مكتبة المنار – عمان،الطبعة: الأولى، 1403 – 1983م). عدد الأجزاء: 1/ ص:۳۴

## پنځم مبحث: دامام عبدالرزاق رحمه الله تالیفات.

امام عبدالرزاق په تصنیف کې د اوائلو علماوو څخه دی د تصنیف په باب کې او د خپلو لیکلو او کتابونو له امله یې شهرت درلود. امام ابن حبان وایې: (وکان ممن جمع وصنف وحفظ وذاکر).1

امام عبدالرزاق د هغه خلکو له جملې څخه دی چې علم یې راټول کړی او هغه یې تصنیف کړي دي او مذاکره یې کړی ده.

امام ذهبی وایي: (عبد الرزاق بن همام العلامة الحافظ أبو بكر الصنعاني صاحب المصنفات).2

امام عبدالرزاق بن همام علامه ، حافظ ، ابوبکر صنعاني د مصنفاتو څښتن.

امام عبدالرزاق رحمه الله څو مختلف کتابونه لیکلي دي چې په لاندې ډول دي:

**١-المصنف:**

امام عبدالرزاق مصنف په احادیثو کې لیکلی دی چې په د صحابه کرامو، تابعینو او تابع تابعینو اقوال او فقه په کې هم موجودده.

**٢- الجامع الكبیر یا الجامع:**

امام عبدالرزاق رحمه الله ته بل کتاب الجامع الکبیر یا الجامع منسوب دی، خو د لیکوالانو په دې کې اختلاف دی چې الجامع او مصـــنف دواړه یو کتاب دی او که جلا جلا کتابونه دي؟ که دواړه جلا کتابونه دي نو الجامع د چا کتاب دی؟د دوی د اختلاف تفصیل په لاندې ډول دی:

الف: ځینې لیکوالان وایې چې په احادیثو کې د امام عبدالرزاق یوازې (الجامع الکبیر) تصنیف دی چې مصنف هم ورته ویل کیږي او د متقدمینو په نظر دا دواړه د یو کتاب نوم دی.([3])

ب: ځینې لیکوالان وایې چې دامام عبدالرزاق تصنیف یواځې (مصنف دی او (الجامع) د امام معمر بن راشد کتاب دی چې د امام عبدالرزاق له لارې روایت شوی دی او د مصنف په آخر کې له مصنف سره ضم شوی دی. له دې دواړو اقوالو څخه دا څرګندیږي چې دا دواړه( مصنف ، او الجامع) ، دوه مختلف کتابونه دي او د مختلفو کسانو دي.

جـــــ : خو ځینې لیکوالان چې دا متأخرینو علماوو نظر دی دوی وایې چې دا دواړه کتابونه د امام عبدالرزاق کتابونه دي. او وایي: عبدالرزاق په احادیثو کې دوه کتابونه لري چې یو یې (مصـــنف ) او بل یې (الجامع) دی، د ا خبره زرکلي په (الاعلام) کې ذکر کړې ده.(4).

---

1- الثقات لابن حبان (8/ 412)

2- العبر في خبر من غبر (1/ 360)

(3) الحاج خليفة،مصطفى بن عبد الله كاتب جلبي القسطنطيني المشهور باسم حاجي خليفة أو الحاج خليفة (المتوفى: 1067هـــ) كشف الظنون عن أسامي الكتب والفنون.(الناشر: مكتبة المثنى – بغداد،تاريخ النشر: 1941م). عدد الأجزاء: 6/ ج١،ص:٥٦٧.

(4) الزركلي،خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الزركلي الدمشقي (المتوفى: 1396هـ) الأعلام.(الناشر: دار العلم للملايين،الطبعة: الخامسة عشر - أيار / مايو 2002 م). ج٣،ص:٣٥٣

يعنې د زركلي له آنده دغه دوه جلاجلا كتابونه دي، يوازې په نوم كې مشـــابهت لري، همدا خبره علامه كتاني هم تائيد كړې ده، او وايي: په احاديثو كې ځينې داســې كتابونه دي چې د فقهي ابوابو موافق ترتيب شـــوي او په سـننو مشـتمل دي، چې ځينې ته يې مصـنف او ځينې ته يې جامع ويل كېږي، چې له دې جملې څخه د عبدالرزاق بن همام الصنعاني مصنف دی، او د مصنف څخه پرته د عبدالرزاق جامع كتاب ډير شهرت لري، چې د جامع كبير په نوم سره هم يادېږي او شيخانو او سنن اربعه ورڅخه ډيری احاديث تخريج كړي دي.([1]).

مونږ كولای شـــو ووايو چې وروســـتنی نظريه راجح نظريه ده او هغه داچې مصـــنف او الجامع دواړه د امام عبدالرزاق جلا جلا كتابونه دي.

د كتاني له خبرو معلوميږي چې دا الجامع الكبير كتاب چاپ شوی دی.

**۳- كتاب التفسير:** د دغه كتاب د توصيف په اړه علام كتاني وايي: په تفسير كې ځينې داسې كتابونه دي چې په هغه كې احاديث او آثار په سند سره ذكر شوي دي، چې يو له هغو څخه د عبدالرزاق تفسير دی.([2]).

ټول مؤلفين دده د تفسير په اړه اتفاق لري او له امام عبدالرزاق څخه دوه شاګردانو روايت كړی دی.3

دامام عبدالرزاق تفسير چاپ شوی دی او له بازار څخه ترلاسه كيدای شي

**۴- الامالي في آثار الصحابة:** ددی كتاب نسبت امام عبدالرزاق ته ابن حجر او سيوطي كړی دی او په مصر كې چاپ شوی هم دی.4 مراجع وايي چې الامالي په مصر كې يوځل چاپ شوی دی.

**۵- كتاب المغازي:** ددې ذكر ابن النديم، ابو سعد السمعانی كړی دی.5

امام سخاوی وايی:( الامام عبدالرزاق فيمن جمع المغازي كموسى بن عقبة، وابن اسحاق والواقدي).6

امام عبدالرزاق دهغه چا په جمله كې ؤ چې مغازي يې ليكلي ؤلكه د موسـی بن عقبه، ابن اسـحاق او واقدي په شان.

**۳- السنن في الفقه:** ابن النديم وايي: دا كتاب هم په احاديثو كې د عبدالرزاق كتاب دی.

**۶- كتاب الصـلاة:** ددې كتاب په اړه ابن ناصـرالدين الدمشـقي وايي: (حدث أَبُو عبد الله مُحَمَّد بن الْحُسَـيْن الاصبهاني هَذَا بِكِتَاب الْمَغَازِي لعبد الرَّزَّاق بن همام وبكتاب الصَّلَاة لَهُ ايضا عَن النقوي هَذَا -).7

ابو عبدالله محمد بن الحســين اصــفهاني دامام عبدالرزاق بن همام كتاب المغازی او دهغه كتاب الصــلاة له نقوي څخه روايت كړي دي.

---

(1)الكتاني،أبو عبد الله محمد بن أبي الفيض جعفر بن إدريس الحسني الإدريسي الشهير بـــ الكتاني (المتوفى: 1345هـــ) الرسالة المستطرفة لبيان مشهور كتب السنة المشرفة،المحقق: محمد المنتصر بن محمد الزمزمي(الناشر: دار البشائر الإسلامية،الطبعة: السادسة 1421هـ-2000م). عدد الأجزاء: 1/ ص:۳۰- ۳۱.

(2) مجلة أخبار التراث الاسلامي، العدد السابع عشر- (۱۴۰۹هـ ۱۹۸۹ص:۷.

3-كشف الظنون لحاجی خليفه ۴۵۲/۱، المعجم المفهرس لابن حجر(ص: ۱۰۷)

4-المعجم المفهرس، (ص: ۳۱۹)، اللألي المصنوعة في الآحاديث الموضوعة ۱۰۱/۱

5-الفهرست (ص: ۲۷۹)، التحبير فی المعجم الكبير للسمعانی (۱۸۳/۱).

6-الاعلان بالتوبيخ لمن ذم التاريخ (ص:۱۴۶)

7- توضيح المشتبه (5/ 234)

خو ځينې ليكونكي وايي چې دا كوم مســتقله ليكنه نه ده بلكې د مصــنف كتاب الصــلاة دى او مســتقل چاپ شوى دى.

٧-**تاريخ الامام عبدالرزاق:** امام جعدي رحمه الله په طبقات فقهاء اليمن كې د امام عبدالرزاق په ترجمه كې وايي: ( وروى عنه الامام احمد بن حنبل رحمه الله تاريخه.)1 امام احمدبن حنبل د امام عبدالرزاق څخه د هغه تاريخ روايت كړى دى.

٨-**السنن في الفقه:** ابن النديم او اسماعيل البغدادي ذكر كړى دى.2

٩-**المســـند:** امام قزويني د ثابت بن محمد بن على بن ثابت ثابتي په ترجمه كې ليكي: (ثابت بن محمد بن علي بن ثابت الثابتي، سـبط الحافظ أبي القاسـم علي ابن ثابت البغدادي، سـمع مسـند عبد الرزاق من أبي عبد الله القطان).3

ثابت بن محمد بن على بن ثابت ثابتي د حافظ ابو القاســم على بن ثابت البغدادي لمســى دى چې دامام عبدالرزاق مسند يې له ابو عبدالله القطان څخه اوريدلى ؤ.

امام ابن كثير دامام عبدالرزاق د وفات په اړه ليكي: (صاحب المصنف والمسند).4

د امام قزويني د عبارت څخه په واضحه توګه نه معلوميده چې د مسند څخه كوم كتاب مراد دى مصنف يا بل كتاب، خو د ابن كثيرله عبارت څخه په واضـحه توګه معلومه شــوه چې مســند د مصــنف څخه علاوه بل مستقل كتاب دى.

---

1-طبقات فقهاء اليمن للجعدي(ص: ٦٨)

2-الفهرست (ص: ٢٧٩) ، هدية العارفين (١/٥٦٦).

3- التدوين في أخبار قزوين (1/ 288)

4- البداية والنهاية (10/ 265).

# دوهم فصل

# دامام عبدالرزاق تګلاره په مصنف کې

## لومړی مبحث: دمصنفاتو پېژندنه

### لومړی مطلب: د مصنف معنی او مفهوم

د مصنف لغوي معنا: مصنف له تصنيف څخه اخيستل شوی او تصنيف د يو شي جلا کول د بل شي څخه دي.([1]).

د مصنف اصطلاحي معنا: محدثينو مصنف په لاندې ډول تعريف کړی دی: ( هو الكتاب المرتب على الابواب الفقهية، والمشتمل على الاحاديث المرفوعة والموقوفة والمقطوعة([2]) أي: فيه الأحاديث النبوية، وأقوال الصحابة، وفتاوى التابعين، وفتاوى أتباع التابعين أحيانًا).3 يعني مصنف هغه کتاب دی چې د فقه د بابونو په ترتيب مرتب شوی وي، په هغه کې مرفوع، موقوف او مقطوع احاديث را جمع شوي وي. کله داسې هم کېدای شي چې په مصنف کې نبوي احاديث، د صحابه وو اقوال، د تابعينو فتاوی، همدارنګه د تبع التابعينو فتاواوې را جمع شوې وي.

### دوهم مطلب: د مصنفاتو او سننو او د احاديثو د نورو کتابونو تر منځ توپير

د مصنفاتو او سنن او موطآتو او جوامعو توپير په دې کې دی چې په سننو کې يوازې مرفوع احاديث راوړل کيږي او د فقهي بابونه په ترتيب ليکل شوي وي او د موطآتو د مصنفاتو په شان په مرفوع او غير مرفوع دواړو احاديثو باندې مشتمل دي، لکه د امام مالک موطا.

او هر چې جوامع دي د محدثينو په اصطلاح کې: (جمع جامع وهو: كل كتاب يجمع فيه مؤلفه جميع الأبواب المحتاج إليها في الدين من العقائد، والعبادات، والمعاملات، والسير، والمناقب، والرقائق،والفتن، والتفسير).4

جوامع جمع د جامع ده او جامع هر هغه کتاب ته ويل کېږي چې مؤلف په کې ټول ابواب چې په دين کې ورته اړتياوې راجمع کړی وي لکه : عقايد، عبادات، معاملات، سير او مغازي، مناقب ، رقائق، فتن او تفسير.

---

(1) الأفريقي، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى (المتوفى: 711هـ) لسان العرب. (الناشر: دار صادر – بيروت،الطبعة: الثالثة - 1414 هـ). عدد الأجزاء: 15/ ،ج۹،ص:۱۹۸

(2) التخريج ودراسة الأسانيد للدكتور محمد الطحان، ص:۱۳۴.

3- شرح كتاب: أصول التخريج ودراسة الأسانيد لفضيلة الشيخ الدكتور: بدران العيَّاري الأستاذ المساعد بقسم الحديث وعلومه بكلية الدراسات الإسلامية والعربية بجامعة الأزهر. (ص: 5)

4- الرسالة المستطرفة للكتاني: 32،المفصل في أصول التخريج ودراسة الأسانيد لعليُّ بنُ نايفَ الشَّحُّودَ (1/ 8)

هر چې مصـــنفات دي په هغو کې يوازې د فقهي بـابونو اړونـد احـاديث پکې را جمع شـــوي وي. لنـډه دا چې مصـنفات د سـننو سـره په تبويب کې مشـترک دي او د جوامع سـره په دې کې مشـترک دي چې مرفوع او غير مرفوع دواړه ډوله احاديث پکې را جمع شوي وي.

د مصـنفاتو په بابونوکې د بابونو تر منځ ارتباط شـتون لري. په مصـنف کې چې د کومې جزيې په اړه چې بابونه ذکر کېږي هغه يو په بل پسې ذکر کېږي، او دا کار د تحقيق کوونکي لپاره دا آساني راولي چې په آسانی سره کولای شي دغه بابونه په مختلفو عناوينو باندې وويشي. د دېلګې په ډول: په مصـنف کې وايي: (ابواب المساجد، ابواب الاذان، ابواب القراءة)، تر دغو بابونو لاندې موضوعات په آسانی سره مختلفو عنوانونو ته وېشل کېدی شي.

له همدې وجهې مونږ ويل شـو چې عبدالرزاق بن همام د خپل شـيخ معمر بن راشـد څخه د بابونو په ترتيب او تبويب کې مخکې دی؛ ځکه ده خپل مصـــنف په بابونو وېشـــلی او بل دا چې د بابونو تر منځ يې ارتباط هم موجود دی، خو شيخ يې(معمر) دا کار نه دی کړی نو له همدې وجهې په خپل شيخ باندې يې فوقيت حاصل دی.

په مصنف کې چې کوم موضوعات راوړل شوي دي، هغه يوازې فقهي موضوعات دي، او هر چې جامع دی؛ د هغه موضوعات د فقهي او غير فقهي موضوعات په کې شـتون لري لکه: فضائل، علم، عقايد، اخلاق، تفسير، مناقب، علامات القيامة، تفسـير الرؤيا.... په دې لحاظ چې جامع کې د دين اړوند ټول احاديث راوړل شــوي او په مصنف کې يوازې د فقهي موضوعاتو اړوند؛ نو جوامع نسبت مصنفاتو ته ترجيح لري.

په مصنفاتو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم احاديث او د صحابه کرامو اقوال ، د تابعينو او تابع تابعينو فتواګانې او اقوال موجود وي، خو په جوامعو کې يواځې د رسول الله صلى الله عليه وسلم احاديث وي او کله ناکله مرسل حديث هم په کې موجود وي.

### دريم مطلب: د مصنفاتو شمېر

کوم مصنفات چې احاديثو په کې ذکر شوي او تاليف شوي دي نومونه يې په لاندې ډول دي:

١- مصنف حماد بن سلمة رحمه الله (متوفى: ١٦٧هـ).

٢- مصنف وكيع بن الجراح رحمه الله (متوفى:١٩٧هـ).

٣- مصنف سفيان بن عيينه رحمه الله (متوفى: ١٩٨هـ).

٤- مصنف عبدالرزاق بن همام رحمه الله ( متوفى:٢١١هـ).

٥-مصنف سعيد بن منصور رحمه الله (المتوفى: ٢٢٧هـ).

٦- مصنف سليمان بن داود العتكي رحمه الله (متوفى:٢٣٤هـ).

٧- مصنف ابي بكر بن ابي شيبه رحمه الله (متوفى:٢٣٥).

٨- مصنف بقي بن مخلد القرطبي رحمه الله (متوفى:٢٧٦هـ). [1]

---

1-تدريب الراوي (1/ 110)، توجيه النظر إلى أصول الأثر، لطاهر الجزائري الدمشقي (1/ 353)، منهج الإمام البخاري لأبي بكر كافي (ص: 12)

## دوهم مبحث: د د امام عبدالرزق الصنعاني دمصنف پېژنده

### لومړی مطلب: د مصنف د ليکلو لاملونه

د يو کتاب د ليکلو اسـباب د ليکل شـوي کتاب د مقدمې او سـرېزې څخه څرګندېږي.متاسـفانه د عبدالرزاق دمصـنف مقدمه ورکه شـوې او د علماوو لاسـته نه ده ورغلې. مونږ کولاي شـو د دې کتاب د ليکلو اسـباب او لاملونه په لاندې ډول ذکر کړو:

۱- په کوم وخت کې چې عبدالرزاق ژوند کاوه، هغه وخت د تدوين او ليکلو وخت و، نو د ده د مصنف د ليکلو يو سبب د نبوي احاديثو ساتنه او حفاظت دی.

۲- دا چې مصـنف د فقهې د بابونو په ترتيب ليکل شـوی، دويم سـبب يې دا کېدی شي چې د دغه بابونو اړوند احاديثو ته مراجعه آسانه شي.

۳- د علم او علماؤ د لمنځه تللو د وېرې له امله هم کېدای شي دغه کتاب يا مصنف ليکل شوی وي.1

### دوهم مطلب: د مصنف عبدالرزاق رحمه الله د ليکلو پړاوونه

پـه دې اړونـد چې کوم معلومات تر مونږ پورې را رسـېدلي دي، هغـه دا دي چې امـام عبـدالرزاق بن همـام خپـل مصـنف مخکې له دې چې دی د سـترګو په مرض مبتلاشي او هغه د لاسـه ورکړي، ليکلی دی.ځکه د ده مصـنف د علم ذخيره ګڼل کېږي،او علماؤ ده ته د علم زده کړې لپاره د مختلفو ځايونو څخه سـفرونه کړي دي او دا ټول د (۲۰۰هـ) کال څخه د مخه وو.او دا هغه وخت و چې عبد الرزاق په يمن کې اوسېده.2

داچې د مصنف ليکلو څومره وخت اخيستی دی ، په دې اړه کوم معلومات نشته او نه مراجعو په دې اوه څه ليکلي دي.

### درېيم مطلب: د مصنف اسانيد او راويان

د امام عبدالرزاق د مصـنف له مخطوطاتو څخه معلومېږي چې د مصـنف په څلورو سـندونو سـره روايت شـوی دی.

چې تفصيل يې په لاندې توګه دی:

۱-د ابويعقوب اسـحاق بن ابراهيم بن عباد دَبري رحمه الله روايت، چې دا تر ټولو مشـهور روايت دی کوم چې په هند کې مصنف په همدې روايت سره چاپ شوی دی.

۲- محمد بن على النجار رحمه الله روايت.

۳-محمد بن يوسف حذاقي رحمه الله روايت.

۴-محمد بن عمر السمسار رحمه الله روايت.

1-منهج الحافظ عبدالرزاق الصنعانى فى مصنفه، آسماء ابراهيم سعود عجين، ص:۱۰۸

2- مخکې ذکر شوي مرجع.

لومړی: ابو يعقوب بن ابراهيم بن عباد دبری يماني ، صنعاني رحمه الله ترجمه:

اسحاق بن اسحاق بن ابراهيم بن عباد دَبري -ددال په فتحې سره د صنعاء په ښارکې ديوځای نوم دی-.1

دا د يمن د صنعاء اوسيدونکی دی چې په (۱۹۵هـــ) يوسل پنځه نوي هجري کې په د يمن په صنعاء ښار کې پيدا شوی دی.

امام ابن عدي دده په اړه ليکي:(أحضـره أبوه عنده وهو صـغير جدا فكان يقول قرأنا على عبد الرزاق أي قرأ غيره وحضر صغيرا).2

امام دَبري خپل پلار د امام عبدالرزاق ددرس حلقې ته راوستلو په داسې حال کې چې هغه ډير وړوکی ؤ، هغه به ويل: چې مونږ په امام عبدالرزاق قراءت کړ يعنې نورو خلکو په امام عبدالرزاق مصـنف قراءت کړ، ځکه هغه په هغه وخت کې وړوکی ؤ.

دابن عدي رحمه الله 3د خبرې څخه معلوميږي چې امام دبري په وړوکوالي کې دامام عبدالرزاق د احاديثو درس ته حاضر شوی دی.

د تراجمو علماء وايي چې دَبري پلار ابراهيم به عباد د امام عبدالرزاق څخه احاديث اوريدلي دي او د هغه څخه د هغه کتابونه روايت کړي دي په داسې حال کې چې د هغه زوی اسحاق بن ابراهيم وړوکې ؤ چې مصـنف هم په هغو کتابونو په جمله کې دی چې امام ابراهيم بن عباد د امام عبدالرزاق څخه روايت کړی دی او د هغه څخه وروسته د هغه زوی اسحاق دبري مصنف روايت کړی دی.

امام ابراهيم حربي رحمه الله وايي چې کله امام عبدالرزاق وفات کيده په دغه وخت کې اســحاق دبري شــپږ کلن يا اووه کلن ؤ او امام اسحاق دبري په (۲۷۴) هجري کې وفات شوی دی.[4]

د امام عبدالرزاق مصنف د امام اسحاق دبري څخه په درى سندونو سره روايت شوی دی:

الف: د أبو سعيد أحمد بن محمد بن زياد بن بشر الاعرابی رحمه الله روايت، چې دا روايت په مصنف کې ځای پرځای ذکر شوی دی او د (مراد ملا) په نسخه کې زيات ذکر شوی دی.

ب: أبو القاسم عبد الأعلى بن محمد بن الحسن بن عبد الأعلى البوسي رحمه الله چې په صنعاء کې قاضي ؤ. دا روايت هم د (مراد ملا) په نسخه کې ځای پر ځای ذکر شوی دی.

ج: أبوعبد الله محمد بن أحمد بن عبد الله النقوي رحمه الله روايت ، چې بيا دده څخه أبو عبد الله محمد بن الحسين بن يوسف أصبهاني ثم صنعاني روايت کړی دی، دا روايت په ابن نقيب په نسخه کې ذکر دی او هم د الظاهريه په نسخه کې ذکر دی.

---

1- کندي، بهاء الدين محمد بن يوســف بن يعقوب الجندي الكندي(732ه) الســلوك في طبقات العلماء والملوك ج ۱، ص: ۱۴۳، تحقيق محمد بن علي بن الحسين الأكوع الحوالي. الناشر مكتبة الإرشاد سنة النشر 1995م. مكان النشر صنعاء

2-ابن عدی، الکامل في ضعفاء الرجال ج اول، ص: ۳۴۴.)

3- ابن عدي عبد الله بن عدي بن عبد الله بن محمد ابن مبارك بن القطان الجرجاني المتوفى - 365 هـ الأعلام للزركلي (4/ 103)

4-ابن الكيال، أبو البركات محمد بن أحمد المعروف بـــ ابن الكيال، الكواكب النيرات في معرفة من الرواة الثقات(ص: 273). المحقق : عبد القيوم عبد رب النبي.الناشر : دار المأمون . بيروت.الطبعة : الأولى . 1981م

دوهم: محمد بن علي النجارصنعاني رحمه الله ترجمه:

دده پوره نوم محمد بن علي بن سفيان أبو عبد الله صنعاني نجار يماني دى.

ده د عبدالرزاق له وروعبد الوهاب بن همام، څخه، او د محمد بن محرز البغدادي او د أحمد بن ياسين البغدادي څخه روايتونه کړي دي. او د محمد بن علي بن سفيان څخه محمد بن حمدون الأعمشي روايت کړی دی او هم ابوعوانه په خپل مسند کې ورڅخه روايت نقل کړي دي.

د محمد بن على بن نجار رحمه الله څخه مصنف دوه کسانو روايت کړی دی يو محمد بن الحسين بن إبراهيم بن هشام الطوسي رحمه الله او بل أبو الحسن علي بن أحمد الأصبهاني رحمه الله د (مراد ملا) په نسخه کې ځای پر ځای ذکر شوی دی.

دريم: محمد بن يوسف حذاقي ترجمه:

پوره نوم يي محمد بن يوسف حذاقي صنعاني رحمه الله دی. محمد بن يوسف هم د يمن د صنعاء ښار اوسيدونکی ؤ.

حذاقي د امام عبدالرزاق څخه هم روايتونه نقل کړی دي او دعبد الملك بن صباح او د محمد بن عبد الرحيم بن شروس او دعبد الملك ذماري او د يعلى بن عبيد څخه يي هم روايتونه نقل کړي دي.

د حذاقي څخه لاندې کسانو روايتونه نقل کړي دي: عبيد بن محمد كشوري صنعاني ، أبو عمر أحمد بن خالد بن يزيد المعروف بابن جباب ، وإبراهيم بن حجاج الصنعاني.

څلورم: روايت د محمد بن عمر سمسار رحمه الله دی، چې له هغه څخه امام عبيد بن محمد كشوري دا مصنف روايت کړی دی.

دا روايت د النقيب په نسخه کې چې د فيض الله مکتبې په نسخه کې شتون لري.

## څلورم مطلب: د مصنف موضوعات او محتويات

### الف: د مصنف موضوعات:

د عبدالرزاق مصنف په (۳۱) بابونو باندې مشتمل دي، چې ده دکتاب په نوم سره نومولي دي او لړ ليک يې په لاندې ډول دی:

۱-کتاب الطهارة، ۲- كتاب الحيض، ۳- كتاب الصلاة، ۴- كتاب الجمعة،۵- كتاب صلاة العيدين، ۶- كتاب فضائل القرآن، ۷- كتاب الجنائز، ۸- كتاب الزكاة، ۹- كتاب الصيام، ۱۰- كتاب العقيقة، ۱۱- كتاب الاعتكاف، ۱۲- كتاب المناسک. ۱۳- كتاب الجهاد، ۱۴- كتاب المغازي. ۱۵- كتاب اهل الكتاب. ۱۶- كتاب النكاح. ۱۷- كتاب الطلاق. ۱۸- كتاب البيوع. ۱۹- كتاب الشهادات. ۲۰- كتاب المكاتب. ۲۱- كتاب الايمان والنذور. ۲۲- كتاب الولاء. ۲۳- كتاب الوصايا. ۲۴- كتاب المواهب. ۲۵- كتاب الصدقة. ۲۶- كتاب المدبر. ۲۷- كتاب الاشربة. ۲۸- كتاب الديات(العقول). ۲۹- كتاب اللقطة. ۳۰- كتاب الفرائض. ۳۱- كتاب اهل الكتابين.

د مصنف په اخر کې د معمر بن راشد- کتاب الجامع هم راوړل شوی دی.کتاب الجامع د معمر بن راشد کتاب دی چې عبدالرزاق پخپل مصـــنف کې د دین د نورو بابونو د تکمیل په موخه ذکرکړی دی، او موضـــواعات يې په لاندې ډول دي:

۱- باب الاســـتيذان.۲- باب تشـــميت العاطس.۳- باب الدعاء.۴- باب حديث النبي عليه الســـلام.۵- الصـــباح والمســـاء.۶- باب الســـلام. ۷- باب ما اصـيب من ارض الرجل. ۸- باب الطهور. ۹- باب الخاتم.۱۰- باب سـقي الماء. ۱۱- باب ذكرالله.۱۲- باب الركوب.۱۳- باب الاجراس. ۱۴- باب الاســـماء والكنى. ۱۵- باب التماثل. ۱۶- باب الكبائر. ۱۷- باب اسم النبي عليه السلام وكنيته. ۱۸- باب الطيرة_ اللعن _ ۱۹- باب القتل. ۲۰- باب الميتة. ۲۱- باب اللعب. ۲۲- باب لا يقول احد ربي ولا ربتي. ۲۳- باب السـواک. ۲۴- باب الجن. ۲۵- باب سـفر الصحابة. ۲۶- باب الكلام. ۲۷- باب القبائل. ۲۸- باب قتل الكلاب والحية. ۲۹- باب الغناء.۳۰- باب حب المال. ۳۱- باب الحمى. ۳۲- باب العتق وصـلة الرحم. ۳۳- باب قطع الارض. ۳۴- باب قطع السـدر. ۳۵- باب اسـماء الله تعالى. ۳۶- باب المعادن. ۳۷- باب اســـماء النبي عليه الســـلام. ۳۸- باب النشـــر، الرقى والعين.۳۹- باب الهداية. ۴۰- باب آداب المجلس. ۴۱- باب هدية المشرک. ۴۲- باب الكلام. ۴۳- باب هدية الاعراب. ۴۴- باب الجماعة.

دا د دین د مختلفو مسائلو اړوند احادیث دي چې په دې کتاب کې را ټول شوي دي.

د عبدالرزاق د مصـنف د ابوابو موضـوعات په لاندې ډول ذکر شـوي دي: د بېلګې په ډول په لومړي جز کتاب الصلاة کې د لمانځه اړوند مسائل په لاندې ترتيب سره ذکر کړي دي:

(ا) اللباس في الصـــلاة : باب مايكفي الرجل من الثياب. باب الصـــلاة في القميص. باب الصـــلاة في القباء والســراويل. باب الصـلاة في الثوب. باب لايدري اطاهر ام لا؟ باب الصـلاة في السـيف والقوس. باب السـدل.باب الثوب يصيبه المني. باب المني يصيب الثوب ولا يعرف مكانه. باب الدم يصيب الثوب. باب بول الخفش. باب خرء الدجاج وطين المطر. باب ابواب الدواب وروثها. باب بول الصبي. باب ما جاء في الثوب يصبغ بالبول. باب الصلاة في النعلين. باب تعاهد الرجل نعليه عند باب المسـجد. باب الرجل يصـــلي في المضـــربة والحلق. باب الرجل ومعه الورق والغزل. باب الرجل يصلي في السيف المحلي.

(ب) - مواضـع الصـلاة : باب الصـلاة على الصـفا والتراب. باب الصـلاة في بيته لا يدري اطاهر ام لا؟باب اتخاذ الرجل في بيته مسجدا، والصلاة. باب الصلاة على الخمرة، والبسط. باب الرجل يصلي في المكان الحار او في الزحام. باب السجود على العمامة. باب الرجل يسجد ملتحفا لا يخرج يديه.

(ج) ابواب المساجد: باب الصلاة على البرادع. باب الصلاة على الطريق. باب الصلاة على القبور. باب الصلاة في مراح الدواب، ولحوم الإبل هل يتوضا منها؟ باب الصلاة في البيعة. باب الجنب يدخل المسجد. باب المشرك يدخل المسـجد. باب الصـلاة في المكان الذي فيه العقوبة. باب الكلب يمر في المسـجد. باب الحائض تمر في المسـجد. باب هل يدخل المسـجد غير طاهر. باب الوضـوء في المسـجد. باب الحدث في المسـجد. باب البول في المسـجد. باب ما يقول إذا دخل المسجد وخرج منه. باب الركوع إذا دخل المسجد. باب النخامة في المسـجد. باب الرجل يبصـق في المسجد، ولا يدفنه. باب الرجل يبصق عن يمينه في غير صلاة. باب هل تقام الحدود في المسجد. باب اللغط، ورفع

الصوت، وإنشاد الشعر في المسجد. باب هل يتخلل او يقلم الاظافر في المسجد؟ باب إنشاد الضالة في المسجد. باب البيع، والقضاء في المسجد، وما يجنب المسجد. باب السلاح يدخل به المسجد. باب اكل الثوم، والبصل، ثم يدخل المسجد. باب المسجد يطين فيه بطين فيه روث. باب المسجد يطين فيه بطين فيه روث.

**ب: د مصنف محتويات:**

د امام عبدالرزاق بن همام مصنف په لاندې اقوالو مشتمل دی:

۱- د نبي عليه السلام اقوال په مرفوع ډول.

۲- په موقوف ډول دصحابه کرامو اقوال.

۳- د تابعينو اقوال په مقطوع ډول.

۴- د عبدالرزاق د شيوخو اقوال.

۵- خپله د عبدالرزاق اقوالو باندې.

دا چې د عبدالرزاق د کتاب موضـــوع په عام ډول ســـره فقه ده، نو له همدې وجهې يې په دې اړوند مختلف اقوال را جمع کړي دي، او دکتاب د تاليف غرض هم همدا دی چې فقه بيان کړي.

## پنځم مطلب: د مصنف د احاديثو شمېر

محدثينونو د احاديثو د طرقو د اختلاف له وجهې د احاديثو په شـــمېر کې هم اختلاف کړی دی، ځينې متابعات هم مسـتقل حديث شـماري او ځينې يې بيا داسـې نه کوي، عبدالرزاق هم لومړی طريقه خپله کړې، په دې معنا چې کله يې شـيخ مختلف کېږي نو د هغه لپاره منفصل او جلا حديث په سـند سـره ذکر کوي، او بيا د حديث متن ته اشاره کوي،او تر ډيره حده په مصنف کې د احاديثو رقم په همدې ډول ذکر شوی دی.

خو ما يې تعداد دا ډول نه دی ذکر کړی بلکې د لاندې طريقې څخه مې پکې کار اخيستی دی:

- د شيوخو د احاديثو د تعداد څخه يې د کتاب د اجمالي احاديثو تعداد معلومول، چې په لاندې ډول دي:

۱- معمر بن راشـد رحمه الله: داحاديثو تعداد په مصـنف کې(۶۲۵۵). او په جامع کې:(۱۵۵۲). دمعمر څخه د ټولو احاديثو شمېر په اجمالي ډول:(۷۸۰۷).

۲- دعبدالملک بن جريج، رحمه الله څخه: (۴۸۶۰) حديثونه.

۳- د سفيان الثوري رحمه الله څخه:(۴۳۰۵) حديثونه.

۴- د سفيان بن عيينه رحمه الله څخه: ( ۹۶۹) حديثونه.

۵- د اسرائل بن يو نس رحمه الله څخه: (۲۳۲) حديثونه.

۶- د عبدالله بن عمر العمري رحمه الله څخه: (۲۲۸) حديثونه.

۷- مالک بن انس رحمه الله څخه: (۲۰۷) حديثونه.

همدارنګه ځينې معلقات هم دی چې د احاديثو شـــمېره يې تر ســـلو(۱۰۰) حديثونو کمه ده، لکه: د لاندې اشخاصو څخه:

۱- محمد بن راشد المکحولي رحمه الله څخه (۸۴) حدیثونه.

۲- الحسن بن عماره رحمه الله څخه (۷۱) حدیثونه.

۳- ابوحنیفة النعمان الامام رحمه الله څخه: (۶۷) حدیثونه.

۴- عثمان بن مطر رحمه الله څخه: (۴۵) حدیثونه.

۵- د داود بن قیس رحمه الله څخه: ( ۳۷) حدیثونه.

او د نورو شیخو څخه یې له دې عدد څخه کم روایت کړي دي، نو په لنډ ډول ویلی شو چې د عبدالرزاق بن همام مصنف په (۱۹۲۰۲) احادیثو باندې مشتمل دی.عبدالرزاق پخپل مصنف کې بل ډیر مهم کار دا کړی دی چې لومړی یې مرفوع بیا موقوف او بیا مقطوع احادیث ذکر کړي دي، د ده کتاب په علم کې یوه لویه علمي پانګه بلل کېږي.

### شپږم مطلب: د مصنف په اړه د علماوو نظرونه

علماؤ د عبدالرزاق د مصنف ستاینه کړېده، امام ذهبي رحمه الله وایي: عبدالرزاق ډیر څه لیکلي دي، او داسې جامع کتاب یې لیکلی دی چې د علم خزانه ده(1).

علامه کتاني رحمه الله وایي: د عبدالرزاق جامع د مصنف څخه پرته بل مشهور کتاب او لوی جامع دی، چې ډیری احادیث یې شیخینو او سنن اربعه روایت کړي دي، زما په آند دا دواړه جلا جلا کتابونه دي(2).

خپله مرکز البحوث وتقنیة المعلومات دارالتأصیل د کتاب ناشر هم د کتاب اهمیت بیان کړی او ویلي یې دي: کوم کتاب چې مونږ تاسو ته وړاندې کوو دعلم لویه پانګه او دیوان دی، د احادیثو او آثارو لویه مجموعه او بحر دی، له دې څخه د احادیثو امامان، لکه: بخاري او مسلم، ابن راهویه، او د فقهې فقهاء لکه : احمد بن حنبل، همدارنګه د اصولو امامان ټول سرابه شوي دي، او امام ذهبي د علم خزانه ورته ویلې ده، په الله قسم چې ذهبي په دې خبره کې مبالغه نه ده ګړې، د دې دېوان د مضامینو ثروت ته په کتو سره، او د ډیرو علمي موادو په درلودو سره د دې وړ دی چې د احادیثو او آثارو موسوعه ونومول شي.(3).

همدارنګه د عبدالرزاق څخه په روایت شوو احادیثو باندې هم علماء کرامو ثناء ویلې ده، چې بېلګې یې په لاندې ډول دي:

۱- محمد بن اسماعیل الفرازي رحمه الله وایي: په صنعاء کې ما ته داسې خبر راورسېد چې احمد او یحیی د عبدالرزاق احادیث پرې ایښي دي، نو په دې خبر سره زه ډیر غمجن شوم، له دې وروسته د ابن معین سره مې ملاقات وشو او دا خبره مې ورته یاده کړه، هغه راته وویل: اي ابا صالح که چېرې عبدالرزاق مرتد هم شي مونږ د هغه احادیث نه پرېږدو.(4).

---

(1) میزان الاعتدال،ج۲،ص:۶۰۹.

(2) الرسالة المستطرفة،ص:۳۰.

(3) مقدمة المصنف.

(4) میزان الاعتدال،ج۲،ص:۶۱۲.

۲- احمد بن صالح مصري وايي: احمد بن حنبل ته مې وويل: د عبدالرزاق بن همام څخه د بل چا کس په احاديثو کې ليدلی دی؟ رته يې وويل: نه! ابوذرعه وايي: احمد بن حنبل ته مې وويل: ايا د عبدالرزاق د معمر احاديث حفظ وو؟ ده راته وويل هو([1]). او دا خبره ځکه صحت لري چې د مصنف درېيمه برخه احاديث د معمر څخه را نقل شوي دي.

**اووم مطلب: د مصنف مخطوطې او چاپ شوې نسخې**

د امام عبدالرزاق د مصنف په اړه ويلی شو چې تر دې دمه پورې د مصنف درې ډوله خطي نسخې موجودې دي: دمرادملا نسخه، د ابن النقيب نسخه او د المكتبة الظاهريه نسخه.

۱-يوه د مراد ملا نسخه.دا هغه نسخه ده چې په استانبول کې د محمد مراد په مکتبه کې ده چې په (مراد ملا) شهرت لري پره ته ده. او د مصنف اعظمي برخه تشکيلوي يعنې په دې نسخه کې د مصنف اکثره جلدونه او زيات کتابونه او بابونه شتون لري. ددې نسخې عنوان ( مصنف عبدالرزاق) په نامه سره ده.

ددې نسخې شروع او پيل کې په لاندې څلورو راويانو سره شوی دی:

-(اخبرنا ابوسعيد احمد بن محمد بن زياد بن بشر الاعرابی قال: (حدثنا قرأنا على عبدالرزاق بن همام اسحاق بناابراهيم بن عباد الدبرى قال قرأنا على عبدالرزاق بن همام).

-(حدثنا ابو القاسم عبدالاعلى بن محمد بن الحسن بن عبدالاعلى البوسى القاضى بصنعاء، قال حدثنا ابويعقوب اسحاق بن ابراهيم بن عباد الدبرى قال ).

-(حدثنا أحمد بن خالد ، قال حدثنا أبويعقوب ، قال قرأنا على عبدالرزاق بن همام).

-(حدثنا أبوالحسن على بن أحمد الأصبهانى بمكة قال: حدثنا محمد بن الحسين بن ابراهيم بن هشام الطوسى، قال قرأت على محمد بن على النجار، قال : حدثنا عبدالرزاق بن همام.)

دا نسخه په پنځو لويو جلدونو مشتمله ده چې په ځينو ځايونو کې د مصنف يوڅه برخه په کې حذف شوی ده.

.۲-د ابن النقيب نسخه او دهغې متعلقات.

د ابن نقيب نسخه په اصل کې ددوه ټوټو څخه مرکبه ده چې يوه ټوټه يې په دارالکتب المصريه څخه ده.

او بله ټوټه يې د فيض الله د مکتبې څخه ده چې په استانبول کې د المكتبة السليمانية کې ده.

په دې ټوټه باندې د شيخ الاسلام فيض الله آفندي مهر لږيدلی دی.

---

(1) سير أعلام النبلاء ج۹، ص:۵۶۹.

او کومه ټوټه چې په دارالکتب المصـــرية کې ده نســـخه ددوه کتابونو څخه عبارت دی چې یو کتاب يي (کتاب المصـنف) او بل کتاب يي د کتاب (الجامع) څخه عبارت دی چې دا په حقيقت کې د معمر بن راشـد کتاب دی چې د مصنف دوهمه برخه تشکيلوي.

دا نسخه هم د مخکې ذکر شوو راويانو څخه روايت شوی ده او په یوه برخه کې دا سند هم ذکر دی:

-(حدثنااحمد بن خالد ، قال حدثنا عبيد بن محمد الکشوری الصنعاني، قال حدثنا محمد بن يوسف الحذاقي الصنعاني قال اخبرنا عبدالرزاق بن همام).

-(حدثنا الکشوري ، قال حدثنا محمد بن عمر السمسار قال حدثنا عبدالرزاق.).

۳-د المکتبة الظاهرية نسخه: دا نسخه په دارالکتب الظاهرية دمشق کې موجود ده.

دا نسـخه په دار الکتب الظاهرية کې په ضـمن د مجاميع المدرسـة العمرية (۳۸۳۰) برخه کې موقعيت لري.

دا نسـخه د کتاب لومړنی برخه په کتاب الصـلاة پيل شـوی ده د ابويعقوب اسـحاق الدبری په روايت سره.

سـند ددې نسـخې داسـې دی (عن أبي عبدالله محمد بن أحمد بن عبدالله النقوي. رواه عنه محمد بن الحسين بن يوسف الأصبهاني ثم الصنعاني).

مصـــنف عبدالرزاق د لومړي ځل لپاره په هند کې د المجلس العلمي له خوا د حبيب الرحمن الأعظمي په تحقيق سره نشر شو او بيا همدغه نسخه دار المکتب الإسلامي – بيروت ددوهم ځل لپاره ۱۴۰۳ هجري کې په يولسو (۱۱) ټوکو کې نشر کړه.

همدا راز د مصـــنف عبدالرزاق مصـــنف د دارالتأصـيل مرکز البحوث وتقنية المعلومات له خوا په ۱۴۳۶هجري موافق ۲۰۱۵ ميلادي کې په دولس ټوکه کې نشر شوی دی.[1]

### اتم مطلب: : د امام عبدالرزاق رحمه الله د مصنف مصادر

د عبدالرزاق بن همام د کتاب (مصـنف) مصـادر کولای شـو د هغه روايتونو څخه معلوم کړو د کومو کسـانو څخه چې ده روايت کړی دی. او کېدای شي په لنډ ډول ووايو چې د عبدالرزاق د مصنف مصادر له لاندې مصادرو څخه عبارت دي:

۱- عبدالرزاق د معمر بن راشـــد جامع په مکمل ډول د خپل کتاب(مصـــنف) په پای کې راوړی دی، نو مهم مصدر يې همدا دی.

۲- د همام بن منبه تقريبا نيمائي صحيفه يې په مصنف کې ذکر کړې ده، نو دويم مصدر يې دغه صحيفه ده.

1-د امام عبدالرزاق د مصنف د دارالتأصيل مرکز البحوث وتقنية المعلومات د چاپ له مقدمې څخه. مجلة البيان (136 /6)، خزانة التراث - فهرس مخطوطات (62/ 772)

۳- د عبدالله بن عمرو رحمه الله څخه روایت کوي، هغه یې دریم مصدر ګڼل کېږي.

۴- د جابر بن عبدالله رحمه الله احادیث یې بل مصدر ګڼل کېږي.

۵- د مجاهد بن جبر رحمه الله څخه هم روایت کوي، نو دا یې بل مصدر ګڼل کېږي.

دا وو د عبدالرزاق بن همام د مصنف مصادر. والله تعالی اعلم.

## دریم مبحث په مصنف کې د امام عبدالرزاق تګلاره

### لومړی مطلب: د امام عبدالرزاق شروط په مصنف کې

اول: دآحادیثو په کتابونو کې د مصنف د شرطونو پیژندل د علم الحدیث له موضوعاتو څخه مهمه موضوع ده.

په علم حدیث کې د مؤلف شـرط پیژندل ډیره مهمه موضـوع ده او علمای کرامو دحدیثو د شـپږو کتابونو د شـروطونو په پیژندلو کې کتابونه لیکلي دي(شـروط الصحاح السـتة)؛ خو هغه کتابونه چې ددغو شـپږو (صحاح سـته) څخه مخکې تیر شـوي دي په دې اړه چا مسـتقله لیکنه نه ده کړې؛ البته ددوی په کتابونو کې ژور غور او فکر کولو کې د مؤلفینو شـروط ممکن وپیژندل شي. مونږ به کوښـښ وکړو ترڅو په مصـنف کې د امام عبدالرزاق له شرط سره اشنا شو.

په کارده چې د امام عبدالرزاق د شـیوخو تحقیق او څیړنه وشـي، ترڅو دا معلومه شـي چې امام عبدالرزاق په خپل مصنف کې د څه ډول راویانو څخه روایت کړی دی چې مونږ به یې په اړه مفصل معلومات وړاندې کړو.

په علم حدیث کې شـــروط د مؤلف هغه ځانګړې طریقې او طرز تالیف څخه عبارت دی چې د هغې په رڼا کې مؤلف د حدیثو راویان او د راویانو روایتونه انتخابوي او د هغوی آحادیث په خپل کتاب کې ځای پر ځای کوي. ځینې وخت دعلم حدیث مصـنفین او مؤلفین ددغو شـروطو یادونه د تصـنیف او کتاب په شـروع کې او یا یې په کومه ځانګړې لیکنه کې یادونه کوي، لکه امام ابوداوود چې د خپل کتاب د شـروطو یادونه په یوه ځانګړې رسـاله کې کړې ده، خو اکثره وخت د احادیثو مؤلفین د خپلو شروطو یادونه نه کوي؛ بلکې د مصنف او مؤلف شـروط او کړنلاره په کتاب کې د ډیر تعمق او تدبر او څیړنې څخه معلومیږي.

امام عبدالرزاق په خپل مصـــنف کې د خپلو شـــروطو کې څخه هیڅ یادونه، نه ده کړې او نورو علماوو هم په دې اړه څه نه دي ذکر کړي، البته ځینو علماوو د امام عبدالرزاق د مصـــنف د درجه بندۍ په برخه کې یو څه یادونه کړې ده چې د محدثینو ددغو یادونو څخه مونږ کولای شو چې یو څه ووایو.

همدا راز مونږ کولای شو چې د امام عبدالرزاق په مصنف کې د لیکل شوو او ترتیب شوو آحادیثو په باب فکر وکړو او هم د هغه راویانو او رجالو په باب فکر او څیړنه وکړو چې ده ورڅخه روایتونه نقل کړي دي ، ممکن په دې کړنې سره د امام عبدالرزاق د شروطو په اړه یو څه په لاس راوړو.

دامام عبدالرزاق د شروطو په اړه د علماوو نظرونه:

علماوو صراحةً د امام عبدالرزاق د شروطو په اړه څه نه دي ویلي؛ مګر د hحادیثو د مصنفاتو د درجه بندۍ او مقام په اړه چې کومې لیکنې شـوي ، ددې څخه د هغه د شرطونو په اړه یو څه اشارې شـتون لري.

امام خطیب بغدادي 1وایي:( ومن الطبقة التي بعد هؤلاء ما یوجد من مســند یعقوب بن شــيبة الســدوسـي وإسـماعيل بن اسـحق القاضـي ومحمد بن ایوب الرازي ومسـند الحسـن بن سـفيان النسـوي وأبي يعلى أحمد بن علي الموصلي. ثم الكتب المصنفة في الأحكام الجامعة للمسـانيد وغير المسـانيد مثل كتب ابن جريج وسـعيد بن أبي

1- أحمد بن علي بن ثابت البغدادي، أبو بكر، المعروف بالخطيب: أحد الحفاظ المؤرخين المقدمين. الأعلام للزركلي (1/ 172)

عروبة وعبد الله بن المبارك وسفيان بن عيينة وهشيم بن بشير وعبد الله بن وهب والوليد بن مسلم ووكيع بن الجراح وعبد الوهاب بن عطاء وعبد الرزاق بن همام وسعيد بن منصور وغيرهم). ([1])

په دې طبقه کې د پورتنيو کتابونو پسې وروسته په صحت کې ديعقوب بن شيبه سدوسي مسند دی، د اسماعيل بن اسحاق قاضي مسند دی، د محمد بن ايوی رازي مسند دی، د حسن بن سفيان نسوي مسنددی، د ابويعلى موصلي مسند دی او ددې څخه وروسته هغه کتابونه دي چې په احکامو مشتمل دي او د مسانيدو او غير مسانيدو جمع کوونکي دي لکه د ابن جريج کتاب، د سعيد بن ابی عروبه کتاب ، د عبدالله بن مبارک کتاب ، دسفيان بن عيينه کتاب ، د هشيم بن بشير کتاب ، د د عبدالله بن وهب کتاب ، د وليد بن مسلم کتاب ، د وکيع بن جراح کتاب، د عبدالله بن وهاب کتاب ، د عبدالرزاق بن همام کتاب او د سعيدبن منصور کتاب او داسې نور.

امام ابن حجر رحمه الله د امام ابن صلاح په دې عبارت باندې تعليق او استدراک کوي چې وايي:(كتب المسانيد غير ملتحقة بالكتب الخمسة وما جرى مجراها في الاحتجاج بها والركون إلي ما يورد فيها مطلقا كمسند أحمد وغيره... فهذه عادتهم أن يخرجوا في مسند كل صحابي ما رووه من حديثه غير متقيدين بأن يكون حديثا محتجا به أم لا). ([2])

ثم قال: (الحافظ)فظاهر كلام المصنف أن الأحاديث التي في كتب الخمسة يحتج بها جميعا وليس كذلك؛ فإن فيها شيئا كثيرا لا يصلح للاحتجاج به، بل وفيها ما لا يصلح للاستشهاد به من حديث المتروكين) قال: "ولم أر للمصنف سلفا في أن جميع ما صنف على الأبواب يحتج به مطلقا ولو اقتصر على الكتب الخمسة لكان أقرب من حيث الأغلب لكنه قال مع ذلك: "وما جرى مجراها) فيدخل في عبارته غيرها من الكتب المصنفة على الأبواب كسنن ابن ماجه بل ومصنف ابن أبي شيبة وعبد الرزاق وغيرهم فعليه في إطلاق ذلك من التعقب ما أوردناه".3

د امام ابن الصلاح رحمه الله د خبرې څخه ظاهرا داسې معلوميږي چې کوم احاديث چې په کتب خمسه کې دي په ټولو حجت نيول درست دي، حال داچې دا سې نه ده. ځکه په دغو کتب خمسه وو کې زيات داسې آحاديث دي چې قابل د احتجاج نه دي ؛ بلکې ځينې داسې احاديث هم په کې شته چې د استشهاد قابليت هم نلري او دمتروکينو روايات دي. بيا وروسته ليکي: او مخکې مې د مصنف عليه الرحمه لره داسې نه دي اوريدلي چې ګوندې ټولو هغه کتابونه چې په ابوابو مرتب شوي دي مطلقاً به وربانديې حجت نيول کيږي. بهتره داوه چې په کتب خمسه باندې اکتفاء کړی وای دا به ښه ځکه اغلبا قابل د احتجاج دي مګر ددی سره يې داسې وليکل (وماجرى مجراها) او هغه چې ددې کتب خمسه وو په شان دي چې په دې عبارت کې نور هغه کتابونه هم

---

1 -الخطيب، أحمد بن علي بن ثابت الخطيب البغدادي أبو بكر الجامع لأخلاق الراوي وآداب السامع ج ٤، ص: ٢٩٧ الناشر : مكتبة المعارف - الرياض ، 1403تحقيق : د. محمود الطحان

2 -ابن حجر، أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر العسقلاني (المتوفى : 852هـ)، النكت على كتاب ابن الصلاح ج١، ص:٧٣ .المحقق : ربيع بن هادي عمير المدخلي الناشر : عمادة البحث العلمي بالجامعة الإسلامية، المدينة المنورة، المملكة العربية السعودية

عدد المجلدات : 2الطبعة : الأولى، 1404هـ/1984م

3- النكت على كتاب ابن الصلاح لابن حجر (1/ 73)

شامليږي چې په ابوابو مرتب شوي دي لکه سنن ابن ماجه ، کصنف ابن ابی شیبه، دامام عبدالرزاق مصنف او داسې نور.

همدا راز شـــاه ولی الله رحمه الله محدث دهلوي د احاديثو د کتابونو د طبقاتو د بيانولو پرمهال وايي:( دريمه طبقه کتابونه: مســـانيد دي، جوامع دي او مصـــنفات دي چې امام بخاري او امام مســـلم څخه مخکې يا مخکې تصنيف شـوي دي او يا هم ددوی پروخت کې تصنيف شـوي دي. په دې کتابونو کې صحيح ، حسـن، او ضـعيف راټول شوي دي ، معروف ، غريب، شاذ، منکر، خطاء او سم ، ثابت او مقلوب روايتونه راټول شوي، او د په دغو زمانو کې د علماوو ترمنځ مشهور نه ؤ ، ولو که مطلق نکارت نوم ورڅخه لری شوی ؤ، او د خلکو ترمنځ د فقهاوو تفردات زيات متداول نه ؤ او دوغو کتابونو صحت او سـقم محدثينو زيات څيړلي نه ؤ ، او ځيني داسـې کتابونه هم ؤ چې لغويونو يې دغريب لغت د څيړلو خدمت کړی وي او نه کوم فقيه د هغه فقهي مسائل د سلفي مذاهبو ســـره ســـر ورکړی وي او نه کوم محدث د دغو کتابونو مشـــکلات حل کړي وای او نه کوم مؤرخ د هغو د رجالو تراجم ذکر کړی وی. زما مقصـــود هغه متأخرين متعمقين نه دي بلکې مقصـــد مې هغه متقدمين ائمه دي ، دوی هماغســې د پردې شــاته پټ پاتې دي لکه د ابو علی مســند، دامام عبدالرزاق مصــنف، د ابوبکر بن ابی شــيبه مصنف او د عبدبن حميد مسند، د طيالسي مسند، د بيهقی کتابونه او د طحاوي کتابونه او د طبراني کتابونه ولو که ددوی مقصد د هغه څه راجمع حکول ؤ چې دوی موندل، نه هغه خلاصه کول ، تهذيبول او مختصرول).([1])

دوهم: مونږ کولای شو چې د امام عبدالرزاق شرطونه د هغه د رجالو او شيوخو د پيژندلو څخه معلوم کړو او د هغه د رجالو پيژندل په لاندې کړنو سره پيژندلی شو:

الف: دامام عبدالرزاق په مصنف کې د ثقه او موثقو راويانو او صحيح روايتونو پيژندل.

ب: دامام عبدالرزاق په مصنف کې د ضعيفه راويانو پيژندل.

ج: دامام عبدالرزاق په مصنف کې د مبهم راويتونو پيژندل.

د: د امام عبدالرزاق په مصنف کې د منقطع روياتونو پيژندل.

**الف:دامام عبدالرزاق په مصنف کې ثقه او موثوق راويان او صحيح روايتونو پيژندل:**

دامام عبدالرزاق په مصـنف کې هم صـحيح بلکې د لوړې درجې صـحيح روايتونه او حسـن روايتونه شـته. داسـې صحيح او حسـن روايات چې د صحت تر ټولو په اعلی درجه کې قرار لري، دا هغه حديثونه دي چې امام بخاري او امام مســلم روايت کړي دي.بيا هغه حديثونه دي چې يواځې امام بخاري ذکر کړي دي ، بيا هغه حديثونه دي چې يواځې امام مسلم روايت کړي دي.

هرچې په لومړي جلد کې صحيح سندونه دی مونږ تر ټولو په صحيح تر رواياتو اکتفاء کړی ده چې نتيجه يې په لاندې توګه ده:

---

1 -الدهلوي، الإمام أحمد المعروف بشـاه ولي الله ابن عبد الرحيم الدهلوي. حجة الله البالغة (صـفحة: 284)تحقيق سـيد سـابق الناشـر دار الكتب الحديثة - مكتبة المثنى مكان النشر القاهرة – بغداد.

( ۳۸) اته دیرش هغه روایتونه دي چې بخاري او مسلم دواړو روایت کړي دي.

( ۲۲ )دوه ویشت هغه روایتونه دي چې یواځې امام بخاري روایت کړي دي.

(۳۷) اووه دیرش هغه روایتونه دي چې یواځې امام مسلم روایت کړي دي.

**ب: دامام عبدالرزاق** رحمه الله **په مصنف کې د ضعیفه راویانو او ضعیفه روایتونو پېژندل.**

مونږ کوښښ کړی دی چې د هرې موضوع دتحقیق او څېړنې لپاره د مصنف په لومړي جلد یا کتاب الصلاة باندې اکتفاء وکړو، ځکه په ټولو مصنف کې د موضوع لټون او څېړنه د توان څخه پورته ده.

امام عبدالرزاق د هغو شیوخو څخه چې ضعیف دي (۹۱) یو نوي حدیثونه نقل کړي دي چې تفصیل یې په لاندې توګه دی:

| شمیره | شیخ | د حدیثونو تعداد |
|---|---|---|
| 1. | إبراهيم بن محمد الأسلمي رحمه الله | 31 |
| 2. | إبراهيم بن يزيد الخوزي رحمه الله | 2 |
| 3. | بشر بن رافع رحمه الله | 1 |
| 4. | الحسن بن عمارة رحمه الله | 9 |
| 5. | داود بن قيس رحمه الله | 2 |
| 6. | عباد بن كثير البصري رحمه الله | 1 |
| 7. | عبد الله بن زياد بن سمعان رحمه الله | 3 |
| 8. | عبد الله بن محرر رحمه الله | 8 |
| 9. | عبد القدوس بن حبيب رحمه الله | 2 |
| 10. | عثمان بن مطر رحمه الله | 2 |
| 11. | محمد بن أبي حميد رحمه الله | 3 |
| 12. | محمد بن راشد رحمه الله | 11 |
| 13. | المثنى بن الصباح رحمه الله | ۱ |
| 14. | يحيى بن العلاء رحمه الله | ۱۲ |
| 15. | أبو بكر بن أبي سبرة عدد روايته رحمه الله | ۵ [1] |

1-عجین، منهج عبدالرزاق في مصنفه لاسماء ابراهیم سعود عجین، صفحة:۱۶۳، المکتبة الاسلامیة للنشر والتوزیع -القاهرة

د ذکر شوو شیوخو څخه (۷) اووه کسان شدید ضعف لري چې ددوی په اړه د جرح او تعدیل علماوو داسې فرمایلي دي:

1 - إبراهيم بن يزيد الخوزي رحمه الله : [1]

امام ابن سعد وایې : (ضعيف). امام ابن معین وایي: (ليس بشيء). امام بخاري وایې: (سکتوا عنه).

امام نســایي وایي: (متروك الحديث). امام ابن حبان وایي:( روى عن عمرو بن دينار ، وأبي الزبير ، ومحمد بن عباد بن جعفر مناكير كثيرة ، وأوهاماً غليظة ، حتى يسبق إلى القلب أنه المتعمد لها وكان أحمد بن حنبل سيء الرأي فيه ).([2])

۲ . بشر بن رافع ( النجراني ) رحمه الله:

امام احمدبن حنبل فرمایي: (ليس بشيء ، ضعيف في الحديث). ابن عدي وایي : (ولبشر بن رافع غير هذا من الأحاديث مما يرويه عنه عبد الرزاق وغيره ، وهو مقارب الحديث ، لا بأس بأخباره ولم أجد لـه حديثاً منكرا). امام نســایي وایي: (ليس بالقوي). ابن حبان وایي : (يروي عن يحيى بن أشــياء موضــوعة ، يعرفها من لم يكن الحديث صناعته كأنه كان المعتمد).([3])

3 . حسن بن عمارة رحمه الله:

ابن ســعد وایې: (كان ضــعيفاً في الحديث). ابو حاتم وایې: (متروك الحديث). امام نســائي وایي: (متروك الحديث). ابن حبان وایي: (كان بلية الحســـن بن عمارة أنه كان يدلس عن الثقات ما وضع عليهم الضعفاء ، كان يسمع من موسى بن مطير ، وأبي العطوف ، وأبان بن أبي عياش وأضرابهم ، ثم يسقط أسماءهم ، ويرويها عن مشايخهم الثقات ، فلما رأى شعبة تلك الأحاديث الموضوعة التي يرويها عن أقوام ثقات أنكرها عليهم).([4])

4 . عباد بن كثير الثقفي البصري رحمه الله.

امام عثمان الدارمي د ابن معین څخه روایت کوي ، هغه وایي : ليس بشيء في الحديث ، وكــان رجــلاً صالحاً. احمدبن حنبل فرمایي: هو أسوأ حالا من الحسن بن عمارة ، روى أحاديث كذب لم يسمعها ، وكان صالحا. امام

1 -ابراهیم الخوزی په دې بحث کې دوه ځای ذکر شوی دی یو دلته او بل د امام عبدالرزاق حدیثی صناعت کې دلته د امام عبدالرزاق د ضعیفه شیوخو په کتار کې ذکر شوی دی او وروسته په هغو کسانو کې ذکر شوی دی چې خپله ضعیف خو په ثقه راوي باندې عطف شوی دی.

2 -ابن حجر، شهاب الدين أحمد بن علي بن حجر العسقلانيالمتوفي سنة 528 هـ ، تهذيب التهذيب ج ۱، ص: ۱۵۷ الطبعة الاولى 1404 هـ - 1984 م دار الفكر. للطباعة والنشر والتوزيع

3 -الذهبی، الامام شمس الدين أبوعبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قَايْماز الذهبي (المتوفى : 748هـ)، ميزان الاعتدال في نقد الرجال ج۱، ص:۳۱۷. تحقيق على البجاوي

4 -البستي؛ محمد بن حبان بن احمد ابى حاتم التيميى البستى المتوفى سنة 354 هـــ، المجروحين من المحدثين والضعفاء والمتروكين ج۱، ص:۲۲۹، تحقيق: محمود ابراهيم زايد. المزى، يوسف بن الزكي عبدالرحمن أبو الحجاج المزي تهذيب الكمال، ج۶، ص:۲۷۰، الناشر : مؤسسة الرسالة – بيروت الطبعة الأولى

تحقيق : د. بشار عواد معروف

بخاري وايي: تركوه. امام ابو حاتم وايي: ضعيف الحديث ، وفي حديثه عن الثقات إنكار. امام ابو زرعه رازى وايي: لا يكتب حديثه ، كان شيخاً صالحاً ، وكان لا يضبط. امام نسايي وايي : متروك الحديث. ([1])

٥ـ عبد القدوس بن حبيب شامي رحمه الله : امام عبد الرزاق وايي: ما رأيت ابن المبارك يفصح بقوله كذاب إلا لعبد القدوس.امام فلاس وايي: أجمعوا على ترك حديثه.امام نسـائي وايي: ليس بثقة.ابن عدى وايي: أحاديثه منكرة الاسناد والمتن. ([2])

6 . عثمان بن مطر بصري رحمه الله :

ابن معين وايي: (ضعيف). ابوحاتم او ابوزرعه وايي:(ضعيف الحديث).

ابن حبان وايي: (يروي الموضوعات عن الأثبات ، لا يحل الاحتجاج به).

ابن عدي وايي:(متروك الحديث ، وأحاديثه عن ثابت خاصـة مناكير ، وسـائر أحاديثه فيها مشـاهير ، وفيها مناكير).(3)

7 . يحيى بن العلاء البجلي الرازي رحمه الله :

ابوحاتم رازي وايي: (ليس بالقوي). ابوزرعه رازي وايي: (في حديثه ضعـف). نسائي وايي: (متروك الحديث). ابن حبان وايي: (ينفرد عن الثقات بالمقلوب ، لا يجوز الاحتجاج به).([4])

**ج: مبهم راويان او د مبهمو راويانو پېژندل:**

په لومړي جلد کې امام عبدالرزاق (١٣) ځله د مبهمو راويانو څخه روايت کړې دی چې اکثره مبهم راويان په بل راوي باندې عطف شوي دي. تفصيل يې په لاندې توګه دی:

| شماره | مبهم راوي | د حديثو تعداد |
|---|---|---|
| 1. | عن رجل | ٢ |
| 2. | عن رجل من اهل مصر | ١ |
| 3. | عن رجل من اهل البصرة | ١ |
| 4. | شيخ من اهل مكة | ١ |
| 5. | صاحب له | ١ |
| 6. | الثورى وغيره | ١ |

1 - ابن عدى، الامام عبدالله بن عدي بن عبدالله بن محمد أبو أحمد الجرجاني، (ت: 365)، الكامل في ضـعفاء الرجال ج ٤، ص: ٣٣٣ تحقيق يحيى مختار غزاوي الناشر دار الفكر سنة النشر 1409 – 1988، كتاب المجروحين - ابن حبان ج٢، ص: ١٦٧،، تهذيب التهذيب ج٥، ص: ٨٨

2 -الذهبى، الامام شمس الدين أبوعبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قَايْماز الذهبي (المتوفى : 748هـ)، ميزان الاعتدال في نقد الرجال ج٢، ص:٦٤٣

3- المقريزى، تقي الدين أحمد بن علي المقريزي (ت: 845هـ)، مختصر الكامل في الضعفاء (صفحة: 552)، تحقيق أيمن بن عارف الدمشقي الناشر مكتبة السنة سنة النشر 1415هـ - 1994م مكان النشر مصر / القاهرة .

4 -ابن حجر، تهذيب التهذيب ج١١، ص: ٢٢٩

| | | |
|---|---|---|
| 7. | معمر ورجل | ۱ |
| 8. | معمر وغیره | ۲ |
| 9. | مالک وغیره | ۱ |
| 10. | مقاتل ورجل | ۱ |
| 11. | جعفربن سلیمان وغیره | ۱ [1] |

**د: دامام عبدالرزاق په مصنف کې د انقطاع او منقطع روایتونو پېژندل:**

غواړو د امام عبدالرزاق مصنف په لومړي جلد کې انقطاع ولټوو. مصنف په لومړي جلد کې د انقطاع معلوملو لپاره موکوښښ کړی چې د راوي او مروي عنه ترمنځ د انقطاع په اړه دعلماوو اقوال راجمع کړو او که چیرې په دي اړه د علماوو اقوال پیدا نشول؛ کولای شو انقطاع د راوی او مروی عنه د وفات له نیټې څخه معلومه کړو چې حاصل د مطلب په لاندې ډول دی:

| شماره | د حدیث شمیره | راوي | د وفات نیټه | راوی عنه | د وفات نیټه | سبب دانقطاع |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1. | ۱۴۳ | ابوموسی اشعری | ۵۰هـ | الزهری | ۱۲۴هـ | د وفات نیټو لری والی |
| 2. | ۴۱۰ | بره بنت صفوان | ۴۵هـ | عمرو بن شعیب | ۱۱۸هـ | د وفات نیټو لری والی |
| 3. | ۴۳۱ | عبدالله بن مسعود | | سعید بن جبیر | | ابوبکر هیثمی وایي: سعید بن جبیر له عبدالله بن مسعود څخه سماع نه ده کړی.[2] |
| 4. | ۴۸۹ | علی او ابن مسعود | | عبدالکریم ابی امیه | | ابوبکر هیثمی وایی: دعبدالکریم ملاقات له علي او ابن مسعود سره نه دی شوی.[3] |
| 5. | ۵۱۱ | عائشه | | ابراهیم بن یزید التیمی | | امام ترمذی وایي: د ابراهیم التیمی سماع د عائشې رض څخه ثابت نه ده.[4] |

1 -منهج عبدالرزاق الصنعاني في مصنفه، اسماء ابراهیم سعود صفحة:۱۶۷

2 -الهيثمي، الحافظ نور الدين علي بن أبي بكر الهيثمي (ت: 807)، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد ج۱، ص: ۲۴۴

3 -مخکنی مرجع ج۱، ص: ۲۴۸

4 -الترمذی، الامام محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي، أبو عيسى (ت: 279هـ) سنن الترمذی ج۱، ۱۳۸

تحقيق وتعليق: أحمد محمد شاكر ومحمد فؤاد عبد الباقي

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 6. | ۱۷۳۲ | جابر | | سلیمان بن موسی الاموی | | ابن حجر وایي: سلیمان بن موسی د جابر رض څخه ارسال کوی.[1] |
| 7. | ۱۹۱۴ | علی وابن عباس | ۴۰هـ<br>۶۸هـ | ابن جریج<br>ابراهیم بن یزید الخوزی | ۱۵۰هـ،<br>۱۵۱هـ | د وفات د نیټو لری والی. |
| 8. | ۱۹۱۸ | عائشه | ۵۷هـ | مسعر | ۱۵۲هـ | د وفات د نیټو لری والی.[2] |

د مطلب خلاصه:

۱-د امام عبدالرزاق مصنف پر صحیح، حسن او ضعیفه روایتونو مشتمل دی.

۲- لومړی جلد مجموعا په (۲۲۴۴) حدیثونو مشتمل دی چې:

-د پورتني عدد څخه (۲۱۹۲) صحیح آحادیث دي چې د صحت په لوړه کچه کې قرارلري او د کتاب زیاتره برخه تشکیلوي چې ددې صحیحو آحادیثو له جملې څخه ( ۹۸) اته نوي حدیثونه ، هغه حدیثونه دي چی امام بخاری ددغه روایتونو څخه یوازې مرفوع روایتونه نقل کړي دي او امام عبدالرزاق په مصنف کې مرفوع او غیر مرفوع روایتونه ذکر کړي.

- امام عبدالرزاق د خپلو ضعیفو او متروکو شیوخو څخه جمله(۱۹) روایتونه نقل کړي دي.

-او د مبهمو راویانو څخه یې جمله (۱۳) روایتونه نقل کړي دي.

-تقریبا (۲۰) روایتونه یې منقطع دي.

مونږ د نمونې په توګه د مصنف په لومړي جلد کې ضعیفه روایتونو او منقطع روایتونو په څېړنه اکتفاء کړی ده او نور روایتونه لکه صحیح او حسن روایتونه مو نه دي څېړلي؛ ځکه دداسې روایتونو څېړنه ډیر مشکل کار دی.

## دوهم مطلب: په سندونو کې دامام عبدالرزاق تګلاره.

امام عبدالرزاق په خپل مصنف کې د سندونو صحت شرط نه دی ګرځولی؛ مګر بیاهم غالبا او اکثره سندونه دده صحیح دي.

داخبره دده په شیوخو کې د استقراء او تتبع څخه معلومیږي.دا خبره د امام عبدالرزاق د راویانو په طبقاتو کې د هغه د تګلارې او څخه معلومیږي.

مونږ کولای شو چې امام عبدالرزاق د راویانو د طبقاتو په اړه تګلاره او منهج د امام حازمي د تقسیماتو څخه معلوم کړو.

امام حازمي رحمه الله په (شروط الأئمة الخمسة )کتاب کې راویان په پنځو طبقو ویشلي دي:

لومړۍ طبقه: دلومړۍ طبقې راویان په صحت کې ترټولو لوړې درجې راویان دي.

1 -ابن حجر، تهذیب التهذیب ج ۴، ص:۱۹۸

2 -منهج عبدالرزاق الصنعاني في مصنفه صفحة:۱۷۰

دوهمه طبقه: دا هغه طبقه ده چې د لومړۍ طبقې سره په عدالت کې یوشان وي خو د لومړۍ طبقه کې راویان حفظ او اتقان دواړه لري او د شــیخ ســره په ملازمت کې زیات طول لري او ددوهمې طبقې راویان هغه دي چې د شیخ سره یې کمه موده ملازمت کړی وي او نسبت لومړۍ طبقې ته یې اتقان هم کم وي.

دریمه طبقه: د دریمې طبقې راویان هغه دي چې د شـیخ سـره یې ملازمت زیات وي لکه دلومړۍ طبقې ؛ مګر د جرح څخه خالي نه وي ، نو ددې طبقې روایت کله مقبول وي او کله مردود.

څلورمه طبقه: دا هغه راویان دي چې ددریمې طبقې راویانو ســره مســاوي وي په جرح او تعدیل کې لکن ځینې تفردات لري؛ ځکه دوی د شیخ سره ملازمت کم کړی وي او د شیخ منهج څخه سم اګاه نه وي.

پنځمه طبقه: دا هغه ضعیفه او مجهول راویان دي چې روایتونه یې د امام ابوداود په نزد یواځې حیث د اعتبار او شاهد لیکل کیږي.1

د مطلب خلاصه:

د امام عبداالرزاق تګلاره په طبقاتو کې داده چې د امام عبدالرزاق اکثره د لومړۍ طبقې راویان دي او هغه په ټول کتاب کې د لومړی طبقې راویانو څخه راویت کړی دی چې دا ډول رویات أصح الأساینید روایات دي.

امام عبدالرزاق د پنځمې طبقې روایانو څخه کم روایتونه نقل کړي دي او د پنځمې طبقې راویان چې فیصـدي یې کمه ده هغه راویان دي چې ضــعیفه دي او یا مجهول دي؛ خو روایتونه یې د شـــاهد او اعتبار په حیث لیکل کیږي.2

## دریم مطلب: د امام عبدالرزاق حدیثي صناعت

ذهن تـه دا خبره راځي چې د امـام عبـدالرزاق رحمـه الله پـه وخـت کې علمـاوو یواځې حـدیثونـه را ټولول او کوم حدیثونه چې دوی جمع کول، احادیثو د باب ســره هیڅ تړاو نه درلود او په دې باره کې هیڅ منهج شــتون نه درلود په ځانګړی توګه د حدیثي صــناعت په برخه کې. د صــناعة الحدیث څخه زمونږ مراد د احادیثو د ســند تتبع او پلټنه ده او د هغو تخریج شـوو احادیثو هراړخیز تتبع او لټون دی چې په باب کې ذکر شـوي دي.

ددې بحث څخه مراد دادی چې آیا امام عبدالرزاق په صناعة الأسانید(د سندونو جوړښت) کې کوم منهج لري او که نه؟ که چیرې امام عبدالرزاق په دې اړه کوم منهج لري نو هغه څه ډول منهج دی؟

**لومړی:-د امام عبدالرزاق د احادیثو په طرقو او اسانیدو کې تګلاره:**

امام عبدالرزاق یواځې په یو باب کې د احادیثو جمع کول غرض نه ؤ؛ بلکې داحادیثو د سـندونو په برخه کې هغه ځانګړې تګلاره لري ؛ چې دامام عبدالرزاق منهج په اسانیدو کې په لاندې توګه دی:

1-د شیوخو یو پر بل عطف کول.

---

1- شروط الأئمة الخمسة للحازمي ، ص: (۴۲-۴۴-)، تدریب الراوي (1/ 130_131)

2-دا هغه ډول روایان دي چې خپله د صـدق په مرتبه کې وي خو مغفل وي او وهم او خطا او سـهوه ورباندې غالبه وي ، دداسـې راویانو حدیث په ترغیب او ترهیب باب کې لیکل کیږي خو په حلالو او حرامو کې یې حدیث نه لیکل کیږي. الخلاصة في علم الجرح والتعدیل.جمع وإعداد:الباحث في القرآن والسنة علي بن نایف الشحود(1/ 66)

۲-د سندونو عطف کول.

۳-د متابعاتو ذکر کول.

۴-د دسندونو مربوط نور کارونه.

**(۱)-د شیوخو عطف کول.1**

محدثین شیوخ یو پر بل عطف کول ددوه غرضونو په خاطر کوي :

الف: اختصار.

ب: تقویه.

الف: کوم محدثین چې د اختصـار لپاره شـیوخ یو پر بل عطف کوي عموما دوی د یوې درجې شـیوخ یو پر بل عطف کوي لکه امام بخاري چې دا کار کوي.2

ب: محدثین د سند دتقویت لپاره شیوخ یو پر بل عطف کوی، ددې لپاره محدثین د دوه متفاوتو مرتبو شیوخ یو پر بل عطف کوي او دټیټې مرتبې شیخ د لوړې مرتبې پر شیخ باندې عطف کوي لکه دا کار چې امام مسلم کوي او کله ناکله د یوې مرتبې شـیوخ یو پر بل عطف کوي. خو د یادونې وړه ده چې امام عبدالرزاق چې یو شـیخ په بل شـیخ کوي له دواړو څخه حدیث اوریدلی وي او داسـې نه وي لکه تدلیس العطف چې د لومړي شـیخ څخه یې حدیث اوریدلی وي او له دوهم څخه یې نه وي اوریدلی، خو تدلیسا دوهم په اول عطف کوي.

امام عبدالرزاق جمله ( ۳۷۸۸) آحادیثو کې شیوخ یو پر بل عطف کړي دي.

په لومړي جزء کې یي مثالونه:

۱ . ۱۳۶۴ شمیره حدیث کې وايي: (معمر و ابن عیینة) چې ابن عیینه یې په معمر باندې عطف کړی دی.

2. ۱۴۳۹ شمیره حدیث کې وايي: (الثوري و ابن عیینة) چې ابن عیینه یي په ثوري عطف کړی دی.

۳. ۱۵۸۶ شمیره حدیث کې وایی( معمر و الثوري) چې ثوري یې په معمر عطف کړی دی.

۴- ۱۷۱۰شمیره حدیث کې وايي( یحیـی بـن العـلاء ومحمد بن مسلم) محمد بن مسلم یې په یحیی ین العلاء باندې عطف کړی دی.

۵ـ ۱۸۴۲شمیره حدیث کې وايي( معمر و مالك) مالک یې په معمر عطف کړی دی.

۶-۲۰۴۹ شمیره حدیث کې وایي ( ابن جریج ومعمر) معمر یي په ابن جریج عطف کړی دی.

۷ . ۲۰۹۹شمیره حدیث کې وايي( معمر و ابن جریج) ابن جریج یې په معمر عطف کړی دی.

عموما امام عبدالرزاق خپل ثقه شـیوخ یو پر بل عطف کوي، مګر داسـې هم کیږي چې ددوهمې طبقې شیوخ(هغه شیوخ چې ضعف په کې وي ) یې په خپلو ثقه شیوخو هم عطف کړي دي لکه:

۱-په ابن عیینه باندې چې یې محمد بن مسلم الطائفي عطف کړی دی.

---

1-دشیوخو یو پر بل عطف کولو مثالونه په راتلونکې صفحه کې ذکر شوي دي.

2-منهج الامام عبدالرزاق فی مصنفه ص: ۲۱۵

٢ – په ابن جريج باندې چې يې إبراهيم بن يزيد الخوزي عطف کړی دی.

3 . په امام ثوری چې يې أبو بكر بن عبد الله بن أبي سبرة عطف كړی دی.

4 . په امام مالک چې يې عبد الله بن عمر العمري عطف كړی دی.

5 . په امام ابن جريج چې يې زمعة بن صالح اليماني عطف كړی دی.

6 . په امام مالک چې يې عبد الرحمن بن زيد بن أسلم عطف كړی دی.

7 . امام التيمي يې په إبراهيم بن محمد الأسلمي عطف کړی دی.

٨ – په ابن عيينه چې يحيى بن العلاء ( الرازي) عطف کړی دی.[1]

په کارده چې ددغو راويانو په اړه د جرح او تعديل علماوو اقوال ذکر کړو:

١-محمد بن مسلم الطائفي رحمه الله :

يحيى بن معين وايي:(لم يكن به بأس وكان سفيان بن عيينة أثبت منه ومن أبيه ومن أهل قريته كان إذا حدث من حفظه يقول كأنه يخطىء وكان إذا حدث من كتابه فليس به بأس).[2]

محمد بن مسلم طائفي باک نلري خو سفيان بن عيينه له ده نه زيات قوي ؤ او دده له پلار څخه او دده له کلي څخه، کله به چې يې د يادو حديث ويلو خطاکيدو به او کله به يې چې له خپل کتاب څخه حديث ويلو بياېې باک نه درلود.

ابن عدى وايي: (أحاديثه حسان غرائب ، وهو صالح الحديث لا بأس به ، ولم أر له حديثا منكرا ).[3]

دده حديثونه حسن دي خو غريب دي او دی صالح الحديث دی په ده کې کوم باک نشته او ما دده کوم منکر حديث نه دی ليدلی.

٢- إبراهيم بن يزيد الخوزي رحمه الله :[4]

امام نسايي وايي: (متروك الحديث) [5] امام يحيى بن معين وايي:( ليس بثقة وليس بشئ) امام ابو زرعة او ابو حاتم وايي: ( منكر الحديث ضعيف الحديث) امام بخاري وايي:(سكتوا عنه) امام ابن عدى وايي:( هو في عداد من يكتب حديثه وإن كان قد نسب إلى الضعف).[6]

٣- أبو بكر بن عبد الله بن ابى سبرة المدنى رحمه الله.

---

1-منهج الامام عبدالرزاق الصنعاني فى مصنفه ص:٢١۶

2-ابن معين، تاريخ ابن معين، يحيى بن معين أبو زكريا برواية الدوري، ج٣، ص: ٧۶، الناشر: مركز البحث العلمي وإحياء التراث الإسلامي - مكة المكرم الطبعة الأولى ، 1399 – 1979 تحقيق : د. أحمد محمد نور سيف

3 - المقريزى، تقي الدين أحمد بن علي المقريزي (ت: 845هـ)، مختصر الكامل في الضعفاء (صفحة: ۶۵۵)، تحقيق أيمن بن عارف الدمشقي الناشر مكتبة السنة سنة النشر 1415هـ - 1994م

4 -دلته د امام خوزي ترجمه ددې امله په تكراري توګه راغلی ده چې امام خوزي خپله ضعيفه دی او په ثقه شيخ ابن جريج باندې عطف شوی دی.

5 - النسائي، للامام أبى عبد الرحمن أحمد بن شعيب النسائي . الضعفاء والمتروكين (ص: 147)، المحقق : بوران الضناوي + كمال يوسف الحوت دار النشر : مؤسسة الكتب الثقافية .البلد : بيروت الطبعة : الأولى

6 -ابن حجر، تهذيب التهذيب لابن حجر العسقلانى ج١، صفحة: ١۵٧

امام بخاري وايي:(ضعيف).[1] يحيى ابن معين وايي: (يقول أبو بكر بن أبى سبرة ليس بشيء). امام نسائي وايي:(أبو بكر بن عبد الله بن أبى سبرة متروك الحديث) [2]

۴-عبدالله بن عمر العمرى رحمه الله :

امام احمد وايي: (صـــالح الحديث). امام ابن معين وايي:(صـــويلح يكتب حديثه) ابن عدى وايي: ( لا بأس به) نسائي وايي:( ليس بالقوي). [3]

۵- زمعة بن صالح اليماني رحمه الله :

عبدالله ابن احمد رحمه الله وايي چې ما د خپل پلار څخه د زمعه بن صـــالح په اړه پوښـــتنه وکړه هغه راته وويل:( ضــعيف)[4] امام ابوزرعة: ( لين واهى الحديث). امام بخاري وايي:(يخالف في حديثه، تركه ابن مهدى أخيرا). امام نسائي: ( ليس بالقوى، كثير الغلط، عن الزهري). امام ابو داود:(ضعيف).[5]

۶- عبد الرحمن بن زيد بن أسلم رحمه الله :

امام ابن سعد رحمه الله وايي:( وكان كثير الحديث ضعيفا جدا) [6]

عبدالله ابن احمد وايي زما پلار به عبدالرحمن بن زيد ضعيف ګڼلو( كان أبي يضعف عبد الرحمن بن زيد). 7

امام ابن عدى وايي:(له أحاديث حسان).[8]

7 -إبراهيم بن محمد الأســلم رحمه الله : يحيى بن ســعيد وايي: دده په باره کې مې د امام مالک څخه پوښــتنه وکړه چې آيا هغه ثقه ؤ:(لا ولا ثقة في دينه) نه ، او نه ؤ ثقه په خپل دين کې. عبدالله بن احمد د خپل پلار امام احمد څخه روايت کوي هغه وايي چې ابراهيم اســـلمي قدري، معتزلي جهمي ؤ هره بلاء په هغه کې وه. ابو طالب د امام احمد څخه روايت کوي هغه وايي:(لا يكتب حديثه ترك الناس حديثه كان يروي أحاديث منكرة لا أصـــل لها وكان يأخذ أحاديث الناس يضعها في كتبه). نه ليکل کيږي دهغه حديثونه ، خلکو دهغه احاديث پريښي دي، هغه به منکر حديثونه چې اصل به يې نه درلود بيانول د خلکو خبرى به رااخيستې او په کتابونو کې به يې ليکلی.

۸- يحيى بن العلاء رازي:

1 -البخاري، شيخ الاسلام جبل الحفظ وإمام الدنيا أبى عبد الله محمد بن اسماعيل بن ابراهيم الجعفي البخاري (ت: 256هـ)، التاريخ الكبير ج۹، ص:۹

2 -ابن عدي، الكامل في ضعفاء الرجال ج۷، ص: ۲۹۶.

3 -الذهبي، محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي أبو عبد الله (ت: 748هـــ)، ذكر من تكلم فيه وهو موثق (صـــفحة: 112) تحقيق: محمد شـــكور أمرير الميادينى .الناشر مكتبة المنار .سنة النشر 1406 .مكان النشر الزرقاء .

4 - العقيلى، الحافظ ابي جعفر محمد بن عمرو بن موســى بن حماد العقيلي المكي. كتاب الضـــعفاء الكبير ج۲، ص: ۹۴ ، حققه ووثقه: الدكتور عبد المعطى أمين قلعجي منشورات محمد علي بيضون دار الكتب العلمية بيروت – لبنان الطبعة الثانية 1418 هـ - 1998 م دار الكتب العلمية بيروت -

5 - الذهبي، محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي أبو عبد الله (ت: 748هـ)، ميزان الاعتدال ج ۲، ص: ۸۱

6 - ابن سعد، محمد بن سعد بن منيع أبو عبدالله البصري الزهري. الطبقات الكبرى ج۵، ص: ۴۱۳. الناشر : دار صادر - بيروت

7-العلل ومعرفة الرجال أحمد بن حنبل أبو عبدالله الشيباني (2/ 135)

8 -المقريزى، مختصر الكامل في الضعفاء (صفحة: 486)

امام نسـائي وايي: (يحيى بن العلاء متروك الحديث، يروي عنه عبد الرزاق).[1] امام يحيى بن معين وايې: ( ليس بثقة ).([2])

پورتني راويان ضعيفه دي مګر احاديث يې ليکل کيږي ما سوا د إبراهيم بن يزيد الخوزي او محمد بن ابراهيم اسـلمي څخه چې ددوی په باره کې امام نسـائي وايي چې دوی متروک الحديث دي خو مونږ امام نسـائي په خبره عمل ونکړ؛ ځکه چې امام نسائي متشدد دی او د نسائي په مقابل کې مو د ابن عدي په خبره عمل وکړ ځکه ابن عدي وايي ددوی حديثونه ليکل کيږي.([3])

دمطلب خلاصه:

١-دامام عبدالرزاق د عطف څخه يواځې اختصـار مراددی ؛ نه تقويه ؛ ځکه چې امام عبدالرزاق په خپل مصنف کې د حديث صحت شرط لازم نه دی ګرځولی.

٢-همدا راز امام عبدالرزاق يو ضعيف په بل ضعيف باندې نه عطف کوي؛ بلکې ضعيف په خپل هغه شيخ باندې عطف کوي چې هغه ثقه وي او يا په دومره اندازه ثقه وي چې حديث يې ليکل کيږي.

٣-همدا رنګه امام عبدالرزاق کله ناکله دوه او درې شـيوخ په يو شـيخ باندې عطف کوي لکه: په (١٧٦٠٧)شميره حديث کې عبد الرزاق عن ابن جريج ومعمر والثوري.

حديث (٨٢١٤): عبد الرزاق عن معمر ومالك عن أبي الزبير عن جابر.

(2)- د دوه او يا ددوو څخه زياتو سندونو عطف کول:

کله ناکله امام عبدالرزاق دوو څخه زيات سندونه عطف کوي لکه د لومړي جلد په لاندې حديثونو کې:

١-په (٦٢١) حديث کې.

٢-(٨٨٢) شميره حديث کې.

٣-٨٨٤) شميره حديث.

٤- (٩٧٢) شميره حديث.

٥-(١١٨٦) شميره حديث.

٦-(١٢٠٩) شميره حديث.

٧-(١٢١٠) شميره حديث.

٨-(١٢٨٦) شميره حديث.

٩-(١٢٨١) شميره حديث.

١٠-(١٢٨٢) شميره حديث کې يو پر بل عطف کړي دي.

مثالونه:

1 -النسائي، الضعفاء والمتروكين(ص: 248)

2 -المقريزى، مختصر الكامل في الضعفاء (ص: 813)

3 - قال ابن عدي: (وهو في جملة من يكتب حديثه). مختصر الكامل في الضعفاء للمقريزى (ص: 119)

الف: په لومړی شمیره حدیث کې او په لسم شمیره حدیث کې دوه متابعات یو پر بل عطف شوي دي چې دا د تحویل یو شکل دی لکه امام مسلم چې یې کوي.

لکه په لاندې مثالونو کې:

حدیث ١- عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ عَمْرٍو، عَنِ الْحَسَنِ، وَعَنِ الثَّوْرِيِّ، عَنْ هِشَامٍ، عَنِ الْحَسَنِ قَالَ: «تَغْتَسِلُ».1

حدیث.١٠- عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ عَطَاءٍ، وَعَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ، عَنْ مَالِكِ بْنِ مِغْوَلٍ قَالَ: سَأَلْتُ عَطَاءً: أَمْسَحُ عَلَى الْجَبَائِرِ؟ قَالَ: «نَعَمْ».2

ب: باقي مثالونو کې دوه متغائر سندونه عطف شوي دي.ځینې وخت نفس فتوا د مختلفو کسانو وي هغه په یوځای کې راجمع کوي او په منځ کې عطف کوي.

مثلا:

حدیث ٣- عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ قَتَادَةَ، وَعَنْ رَجُلٍ، عَنِ الْحَسَنِ فِي الرَّجُلِ يَسْتَيْقِظُ فَيَجِدُ الْبِلَّةَ؟ قَالَا: «يَغْسِلُ فَرْجَهُ وَيَتَوَضَّأُ». 3

په اسانیدو کې د عطف کولو پروخت دا شرط نه ده چې دا دې د دوه صحابه وو قول وي او یا دا دې د دوه تابعینو قول وي.

همدا راز ځینې وخت امام عبدالرزاق درې سندونه عطف کوي لکه په دې (١٣٠٢٧) شمیره حدیث کې عبدالرزاق عن عبدالله بن عمر عن نافع، والثوری عن عبدالله عن نافع، والثوری عن عبیدالله عن نافع عن ابن عمرقال:...

**خلورم مطلب: د امام عبدالرزاق نور مختلف منهجونه:**

**(1)د اسانیدو او احادیثو متابعات ذکر کول:4**

1- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (1/ 335). الأثر صحيح، وله طريقان، أما الطريق الأول فإسناده صحيح مقطوع، وأما الطريق الثاني فإسناده ضعيف مقطوع، فيه هشام بن حسان روايته عن الحسن مقال .تقريب التهذيب (ص :٥٧٢) .وعليه فالأثر صحيح مقطوع.

2- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (1/ 161). الأثر صحيح، وله طريقان، أما الأول فإسناده ضعيف مقطوع، فيه رجلاً مبهماً، وأما الثاني فإسناده صحيح مقطوع . وعليه فالأثر صحيح مقطوع.

3- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (1/ 253). الأثر ضعيف ، فيه رجل مبهم.

4- أما المتابعة، فهي أن يوافق راوي الحديث على ما رواه من قبل راو آخر فيرويه عن شيخه أو عمن فوقه.

وتنقسم المتابعة إلى قسمين: تامة، وقاصرة.

په دويم جلد کې د متابعاتو ذکرکول په لاندې توګه دي:

**الف: د تامو متابعاتو ذکرکول.**

١-حديث:(٣٢٣۶).٢-حديث:(٣٢۴٧).٣-حديث:(٢۵۶٧).۴-حديث:(۴۴٣٢).

مثال:

١- عَبْدُ الرَّزَّاقِ،عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ أَبَانَ، عَنْ أَنَسٍ قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو وَالزِّمَامُ بَيْنَ إِصْبَعَيْهِ، فَسَقَطَ الزِّمَامُ، فَأَهْوَى لِيَأْخُذَهُ، وَقَالَ بِإِصْبَعِهِ الَّتِي تَلِي الْإِبْهَامَ فَرَفَعَهَا» وَذَكَرَ ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ أَنَسٍ نَحْوَهُ).1

٢-حديث: عَبْدُ الرَّزَّاقِ،عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَأْتِي أَحَدَكُمُ الشَّيْطَانُ فَيَلْبِسُ عَلَيْهِ فِي صَلَاتِهِ أَزَادَ أَمْ نَقَصَ، فَإِذَا وَجَدَ ذَلِكَ فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ».2 وَذَكَرَ ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ. 3

داسې ذکرکړي دي :عبدالرزاق عن معمرعن الزهری عن أبي سلمة عن أبی هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الخ. او ابن أبي ذئب داسې ذکرکړی دی عن الزهري عن أبي سلمة عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم مثله.

**ب: دناقصو متابعاتو ذکرکول:**

امام عبدالرزاق ناقص متابعات هم ذکرکړي دي، لکه په لاندې حديثونو کې:

حديث:(٢۵١٩) ، حديث:(٢۵۵٠) ، حديث:(٢۵۶٧) ، حديث:(٢٨٢۴) ، حديث:(٢٨٩٢)، حديث:(٢٩٠٠) ، حديث:(٣١٠۴) ، حديث:(٣٣٢٢)، حديث:(٣۴١٣)، حديث:(٣۵٩۶) او حديث:(٣۶۶١) حديثونو کې.

مثال:

---

فالمتابعة التامة: هي التي تحصل للراوي نفسه بأن يروي حديثه راو آخر عن شيخه. والمتابعة القاصرة "أي الناقصة" هي التي تحصل لشيخ الراوي بأن يروي الراوي الآخر الحديث عن شيخ شيخه، وكذا التي تحصل لمن فوق شيخ الراوي.

فالمتابعة التامة: ما رواه الشافعي عن مالك عن عبد الله بن دينار عن ابن عمر أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: "الشهر تسع وعشرون لا تصوموا حتى تروا الهلال ولا تفطروا حتى تروه، فإن غم عليكم فأكملوا العدة ثلاثين."

هذا الحديث بهذا اللفظ ظن قوم أن الشافعي تفرد به عن مالك، فعدوه في غرائبه، لأن أصحاب مالك رووه عنه بهذا الإسناد بلفظ "فإن غم عليكم فاقدروا له" لكن وجدنا للشافعي متابعا عند البخاري في صحيحه فقد قال فيه: حدثنا عبد الله بن مسلمة حدثنا مالك عن عبد الله بن دينار عن عبد الله بن عمر رضي عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: "الشهر تسع وعشرون ليلة، فلا تصوموا حتى تروه فإن غم عليكم فأكملوا العدة ثلاثين."

وهذه متابعة تامة للإمام الشافعي، فقد روى عبد الله بن مسلمة الحديث عن مالك شيخ الشافعي بالسند والمتن.

ومثال المتابعة القاصرة: ما رواه ابن خزيمة في صحيحه من حديث عاصم بن محمد عن أبيه محمد بن زيد عن جده عبد الله بن عمر، "فأكملوا ثلاثين."

ورواه مسلم في صحيحه، حدثنا أبو بكر بن أبي شيبة حدثنا أبو أسامة حدثنا عبيد الله بن عمر عن نافع عن ابن عمر... الحديث بلفظ "فاقدروا ثلاثين". فهذه متابعة قاصرة لأن الموافقة للشافعي وقعت في رواية الحديث عمن فوق شيخه، وهو هنا الصحابي. منهج النقد في علوم الحديث - دار الفكر - الرقمية (ص: 418)

1- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (2/ 247). الحديث فيه أبان بن أبي عياش وهو ضعيف. الكامل في الضعفاء (1/ 381)

2- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (2/ 305). إسناده صحيح على شرط الشيخين. قاله شعيب الأرنؤوط .

3- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (2/ 305). اسناده صحيح.

ـ عَبْدُ الرَّزَّاقِ،عَنِ الثَّوْرِيِّ قَالَ: وَسَـــمِعْتُ أَوْ أَخْبَرَنِي مَنْ سَـــمِعَهُ يُحَدِّثُ، عَنْ حَمَّادٍ قَالَ: سَـــأَلْتُ إِبْرَاهِيمَ: مَتَى يُكَبِّرُ الْإِمَامُ؟ إِذَا فَرَغَ الْمُؤَذِّنُ أَوْ قَبْلَ أَنْ يَفْرُغَ؟ قَالَ: «أَيُّ ذَلِكَ فَعَلْتَ فَلَا بَأْسَ».1

قَالَ: وَأَخْبَرَنِي الْأَعْمَشُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ: " أَنَّهُ كَانَ يُكَبِّرُ حِينَ يَقُولُ الْمُؤَذِّنُ: قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ ".2

د متابعاتو د ذكر كولو نور مثالونه:

١ – حديث: ١٥٤١ : عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ مِقْسَـــمٍ قَالَ: «صَـــلَّى ابْنُ عَبَّاسٍ عَلَى طَنْفَسَةٍ3 قَدْ طَبَّقَ بَيْتَهُ».4

٢ – حديث: ١٥٤٢ : عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ سَـــعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ مِثْلَهُ. 5

٣ – حديث: ١٥٤٣ : عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ خَلَّادِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ سَـــعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ مِثْلَهُ. 6

٤ ــ حديث: ١٥٤٤ : عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنِ الثَّوْرِيِّ، عَنْ حَمَّادٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ: «صَلَّى ابْنُ عَبَّاسٍ عَلَى طَنْفَسَةٍ طَبَّقَ الْبَيْتَ».7

5ـــ حديث : ١٥٤٥: أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبِي، عَنْ خَلَّادِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جُنْدَةَ، عَنْ سَـعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ: «أَمَّهُمْ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ مُخَالِفًا بَيْنَ طَرَفَيْهِ عَلَى طَنْفَسَـةٍ قَدْ طَبَّقَتِ الْبَيْتَ».8

6 – حديث: ١٥٤٦: عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَـــنِ قَالَ: «لَا بَأْسَ أَنْ يُصَـــلَّى عَلَى الطَّنْفَسَةِ وَالْخُمْرَةِ».9

٧ – حديث: ١٥٤٧ : عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنِ الثَّوْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ قَالَ: كَانَ ابْنُ عُمَرَ: «يَغْسِـــلُ قَدَمَيْهِ الْحَائِضُ، وَكَانَ يُصَلِّي عَلَى الْخُمْرَةِ».10

٨ - حديث :١٥٤٨ : عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ مِثْلَهُ.11

---

1- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (2/ 7 ). الاثر مقطوع فيه رجل مبهم.

2- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (2/ 7). الاثر صحيح سندا.

3-بكسر الطام وفتح الفاء على الأفصح بساط صغير له خمل ويجوز ضمهما وكسرهما وفتحهما وفتح الطاء مع كسر الفاء فتح الباري- تعليق ابن باز (1/ 150)

4- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (1/ 395). وهذا إسناده ضعيف موقوف، فيه يزيد بن أبي زياد، ضعيف .تقريب التهذيب : ص :٦٠

5- المرجع السابق. إسناده صحيح موقوف.

6- المرجع السابق.إسناده صحيح موقوف.

7-المرجع السابق. الأثر صحيح، وهذا إسناده حسن موقوف، فيه حماد بن أبي سليمان، صدوق .تقريب التهذيب : ٣١٩/١

8- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (1/ 396).إسناده صحيح موقوف.

9- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (1/ 396).إسناده صحيح مقطوع.

10- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (1/ 396).إسناده صحيح موقوف.

11- المرجع السابق. إسناده صحيح موقوف.

٩ – حديث: ١٥٤٩ : عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنِ الثَّوْرِيِّ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ1، أَنَّ ابْنَ مَسْعُودٍ: «صَلَّى عَلَى مِسْحٍ»2.

١٠ – حديث: ١٥٥٠: عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ قَالَ: رَأَيْتُ أَبِي، «بُسِطَ لَهُ بِسَاطٌ فَصَلَّى عَلَيْهِ، فَظَننتُ أَنَّ ذَلِكَ لِقَذَرِ الْمَكَانِ»3.

11 – حديث: ٢٠٣٥: عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ الرِّيَاحِيِّ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، كَتَبَ إِلَى أَبِي مُوسَى: «أَنْ صَلِّ الظُّهْرَ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ عَنْ بَطْنِ السَّمَاءِ، وَصَلِّ الْعَصْرَ إِذَا تَصَوَّبَتِ الشَّمْسُ وَهِيَ بَيْضَاءُ نَقِيَّةٌ، وَصَلِّ الْمَغْرِبَ إِذَا وَجَبَتِ الشَّمْسُ، وَصَلِّ الْعِشَاءَ إِذَا غَابَ الشَّفَقُ، إِلَى حِينِ شِئْتَ، فَكَانَ يُقَالُ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ دَرْكٌ، وَمَا بَعْدَ ذَلِكَ إِفْرَاطٌ، وَصَلِّ الصُّبْحَ وَالنُّجُومُ بَادِيَةٌ مُشْتَبِكَةٌ، وَأَطِلِ الْقِرَاءَةَ، وَاعْلَمْ أَنَّ جَمْعًا بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ مِنَ الْكَبَائِرِ». 4

١٢- حديث: ٢٠٣٦: عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَمِّهِ أَبِي سُهَيْلِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، كَتَبَ إِلَى أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ: «أَنْ صَلِّ الظُّهْرَ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ وَالْعَصْرَ وَالشَّمْسُ بَيْضَاءُ نَقِيَّةٌ قَبْلَ أَنْ تَدْخُلَهَا صُفْرَةٌ، وَالْمَغْرِبَ إِذَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ، وَأَخِّرِ الْعِشَاءَ مَا لَمْ تَنَمْ، وَصَلِّ الصُّبْحَ وَالنُّجُومُ بَادِيَةٌ مُشْتَبِكَةٌ5، وَاقْرَأْ فِيهَا سُورَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ مِنَ الْمُفَصَّلِ»6.

13-حديث: ٢٠٣٧ :عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: كَتَبَ عُمَرُ إِلَى أَهْلِ الْأَمْصَارِ «أَنْ صَلُّوا الظُّهْرَ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ إِلَى أَنْ يَكُونَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَهُ، وَالْعَصْرَ وَالشَّمْسُ بَاقِيَةٌ قَدْرَ مَا يَسِيرُ الرَّاكِبُ فَرْسَخَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً، وَالْمَغْرِبَ حِينَ تَغْرُبُ الشَّمْسُ وَتَدْخُلُ اللَّيْلَ، وَالْعِشَاءَ إِذَا غَابَ الشَّفَقُ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ، لَا تَشَاغَلُوا عَنِ الصَّلَاةِ، فَمَنْ نَامَ فَلَا نَامَتْ عَيْنُهُ، فَمَنْ نَامَ فَلَا نَامَتْ عَيْنُهُ»7.

14 – حديث: ٢٠٣٨: عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ كَتَبَ إِلَى عُمَّالِهِ: «إِنَّ أَهَمَّ أُمُورِكُمْ عِنْدِي الصَّلَاةَ، مَنْ حَفِظَهَا وَحَافَظَ عَلَيْهَا حَفِظَ دِينَهُ، وَمَنْ ضَيَّعَهَا فَهُوَ لِسِوَاهَا أَضْيَعُ»، ثُمَّ كَتَبَ: «أَنْ صَلُّوا الظُّهْرَ إِذَا كَانَ الْفَيْءُ ذِرَاعًا إِلَى أَنْ يَكُونَ ظِلُّ أَحَدِكُمْ مِثْلَهُ، وَالْعَصْرَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ بَيْضَاءُ نَقِيَّةٌ قَدْرَ مَا يَسِيرُ الرَّاكِبُ فَرْسَخَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً، وَالْمَغْرِبَ إِذَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ، وَالْعِشَاءَ إِذَا غَابَ

---

1- هكذا هنا، وفي دار التأصيل ط ١ برقم ) ١٥٦١( ، والمعجم الكبير٩/ ٢٥٥ ) عن الدبري، به .قلت :أبو وائل شقيق بن سلمة لم يدرك زمنه الثوري .تقريب التهذيب(ص : ٢٦٨) وأخرج البيهقي في كتابه شعب الإيمان ٢٩١/٨ من طريق سفيان الثوري، عن ابن وائل قال :أ ريت عبد الله بن عمر معتما قد ...الأثر. وعلق عليه محققه فقال :ابن وائل هو كليب بن وائل التيمي، البكري،... ، في الأصل عن أبي وائل وفي" ن "عن ابن أبي وائل. كلاهما خطأ والتصويب من" ل." قلت : من الواضح أنَّ الصواب] ابن وائل [كما صوبه محقق شعب الإيمان، أو يوجد هنا انقطاع بين الثوري عن أبي وائل شقيق بن سلمة، والله أعلم،

2- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (1/ 396) الأثر ضعيف،لجهالة ابى وائل هل هو أبى وائل أو هو ابن أبى وائل.

والمِسح هو بكسر الميم وإسكان السين المهملة وبالحاء المهملة، وهو ثوب من الشعر غليظ معروف، ويقال له البلاس بفتح الباء الموحدة .تهذيب الأسماء (ص: 1407)

3- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (1/ 396)إسناده صحيح مقطوع.

4- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (1/ 535).إسناده صحيح موقوف. وأبوالعالية الرياحى اسمه رفيع بصرى تابعي ثقة من كبار التابعين .الثقات للعجلي (2/ 412)

5- أي يظهر جميعها ويختلط بعضها ببعض .مرقاة المفاتيح (3/ 65)

6- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (1/ 536). الأثر صحيح، وهذا إسناده ضعيف موقوف، فيه إرسال والد أبي سهيل عن عمر بن الخطاب .انظر :أحاديث إسماعيل بن جعفر (ص :٥١٧ ) عن أبي سهيل، عن أبيه، عن ربيعة بن محرز كاتب عمر بن الخطاب :أن عمر كتب إلى أبي موسى الأشعري ...الأثر .وهو صحيح بهذا، والله أعلم.

7- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (1/ 536). الأثر صحيح، وهذا إسناده ضعيف موقوف، فيه عبد الله العمري، ضعيف .تقريب التهذيب (ص :٣١٤ )

الشَّــفَقُ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ، فَمَنْ نَامَ فَلَا نَامَتْ عَيْنُهُ، فَمَنْ نَامَ فَلَا نَامَتْ عَيْنُهُ، وَالصُّــبْحَ وَالنُّجُومُ بَادِيَةٌ مُشْتَبِكَةٌ».1

١٥ . حديث: ٢٣٩: عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ مِثْلَهُ.2

وهذه كلها متابعات ، جاءت كأحاديث منفصلة ، ولم ترد في التعقيب.

**(2)-دامام عبدالرزاق په نزد دتحمل او اداء صيغې:**

دامام عبدالرزاق د سندونو په ذکرکولو کې يوه تګلاره د اداء او تحمل صيغو ذکرکول دي.

د محدثينو په نزد د اداء او تحمل صيغې ډيرى دي.امام عبدالرزاق دسماع لپاره د(اخبرنا) صيغه استعمالوله.

امام عبدالرزاق چې پخوانيو محدثينو له جملې څخه دى، ده په خپل کتاب کې دتحمل او اداء لاندې صـــيغې کارولي دي: (اخبرنا، انا، حدثنا، اخبرني، حدثت، سمعت، قال، ذکر ، عن).

په دې صيغو کې د قوت او ضعف درجې شته.

امام خطيب بغدادى وايى: (ارفع العبارات ســمعت، ثم حدثنا وحدثنى، وقد كان جماعة من اهل العلم لايكادون يخبرونه عما ســمعوه من الشــيخ الا بقولهم : اخبرنا، ومنهم حماد بن ســلمة، وابن المبارک، وهشــيم بن بشير، وعبيدالله بن موسى، ويزيد بن هارون وعبدالرزاق وغيرهم).(3)

ترجمه: د لوړې درجې صيغې لومړى د(سمعت) صيغه ده بيا د(د حدثنا) او (حدثنى) صيغه ده. او د ځينو اهل علمو عادت دا وو چې هغوى به چې له خپل شــيخ څخه څه واوريدل هغوى په (اخبرنا) ورڅخه تعبيرکولو چې د هغوى له جملې څخه حماد بن ســلمه دى او ابن المبارک دى او هشــيم بن بشــيردى او عبيدالله بن موســى دى او يزيد بن هارون دى او عبدالرزاق دى.

دامام عبدالرزاق په وخت کې (حدثنا) او (اخبرنا) د دواړه صـيغو ترمنځ توپيرنه ؤ او دواړو صـيغو دشـيخ څخه په ســـماع باندې دلالت کولو او دواړه صـــيغې زياتې کارول کيدلې؛ خو امام عبدالرزاق به (اخبرنا) صـــيغه زياته کاروله.

امام احمد بن حنبل چې دامام عبدالرزاق شــاګرد دى، هغه فرمايې کله به چې زه او اســحاق بن راهويه دواړه دامام عبدالرزاق په مجلس کې ناست ؤ امام عبدالرزاق به (حدثنا) ويلې ځکه چې مونږ به د (حدثنا) صيغه غوره ګڼله خو کله به چې مونږ ورڅخه جدا شو هغه به بيا د(اخبرنا) صيغه کاروله.

ددې ترڅنګ امام عبدالرزاق په روايت کې له ډير دقت څخه کار اخيســـته چې د هغې له جملې څخه امام عبدالرزاق هغه روايتونه چې ابهام په کې دى مبهم روايت کړى دي او په هغه روايتونو کې چې شــک دى هغه يې په

---

1- مصــنف عبد الرزاق الصــنعاني (1/ 536).إســناده صــحيح موقوف، مع أنَّ في الإســناد الأول إرســال نافع مولى ابن عمر عن عمر بن الخطاب .انظر جامع التحصــيل: ص :( ٢٩٠ ) لقول البيهقي في كتابه معرفة الســنن والآثار ٢٩٥/١٢(إن كان مرســلا فنافع مولى ابن عمر كان مشــهور ا بالرواية عن الثقات ، وبالعناية بأخبار آل عمر).

2- المرجع السابق. إسناده صحيح موقوف.

3 - الخطيب؛ أبو بكر أحمد بن علي بن ثابت بن أحمد بن مهدي الخطيب البغدادي (ت: 463هـ)،الكفاية فى علم الرواية.صفحة:٤١٣-٤١٤. المحقق: أبو عبدالله السورقي , إبراهيم حمدي المدني . الناشر: المكتبة العلمية - المدينة المنورة .

مشـکوک لفظ سـره روایت کړي دي او دهغه روایتونو ترمنځ يې هم فرق کړی دی کوم چې هغه يواځې يې اوريدلي دی او هغه روايتونه چې د نورو سره يې په شريکه اوريدلي دي.

**(3)د امام عبدالرزاق** رحمه الله **په روايت کې دقت:**

امام عبدالرزاق په روایت کې زيات دقت ددې څخه معلوميږي چې هغه مبهم روايتونه نقل کړي دي او هم يې په شک باندې بنا روايتونه نقل کړي دي. همدا شان د يواځې (سماع) او د نورو سره د شريکې (سماع) ترمنځ په فرق باندې قائل ؤ.

همدا رازد امام عبدالرزاق په احاديثو کې دقت ددې څخه معلوميږي چې هغه ځينې وخت روايت په ابهام سره هم رانقلوي چې او ځينې وخت په شک سره هم روايت را نقلوي.

مثال:

په حديث:(۴۳۸۹) کې وايي: (وسئل الثوري وأنا أسمع).

نص الحديث: (قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: وَسُـــئِلَ الثَّوْرِيُّ، وَأَنَا أَسْـــمَعُ عَنِ الْعَبْدِ، يُصِـــيبُ الصَّـــيْدَ؟ قَالَ: «يَصُـــومُ»، فَقِيلَ لَهُ: فَإِنْ أَعْطَاهُ مَوْلَاهُ مَا يَذْبَحُ؟ قَالَ: «الصَّـــوْمُ أَحَبُّ إِلَيَّ» ثُمَّ قَالَ: أَخْبَرَنِي لَيْثٌ عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ: «لَيْسَ عَلَى الْمَمْلُوكِ إِلَّا الصِّيَامُ».1

داسې يې ونه ويل چې (سـألنا الثوري) ځکه چې ده ورڅخه پوښـتنه نه وه کړې. که چيرې ده ورڅخه پوښـتنه کړې وای نو داسې به يې ويلي ؤ( سألت الثورى).لکه په نورو روايتونو کې چې داسې وايي.

**(۴) په ابهام سره د روايت نقلول:**

امام عبدالرزاق په دوه ډوله روايت په ابهام سره نقلوي:

الف: يو داچې د مبهم شيخ څخه روايت نقلوي.

ب: بل داچې دداسې مبهم شيخ څخه روايت نقلوي چې په معروف شيخ باندې عطف وي.

مخکې مو وويل چې امام عبدالرزاق د مصـــنف په لومړي جلد کې په (۱۵) ځايه مبهم روايتونه نقل کړي دي.يا خو داچې امام عبدالرزاق يې په اړه کامل ضبط نه درلود او له ده څخه هغه څوک هيرشـوی دی چې دا روايت يې ورڅخه نقل کړی دی او يا داچې په حقيقت کې هغه راوي مبهم دی.

همدا رازکله چې امام عبدالرزاق د بل ثقه راوي سـره د مبهم راوي ذکرکول هم دده په دقت باندې دلالت کوي.

**(۵)-د حديث نورو طريقو ته اشاره کول:**

حديث:(۴۶۹۳) عبد الرزاق عن معمرعن شيخ عن مسروق قال : إذا نـام على وترثم استيقظ صلى شـفعاً حتى يصبح. وحديث عمار، ورافع بن خديج ، وأبي هريرة ، وأبي بكرمثل هذا.

توضيح: امام عبدالرزاق ددې حديث په آخرکې وايي(وحديث عمار، ورافع بن خديج ، وأبي هريرة ، وأبي بكر مثل هذا)چې دا دحديث نورو طرقو ته اشاره کول دي بې له دې چې په هغې تصريح وکړي.

---

1- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (4/ 394). سنده متصل.

**(۶)-سند اختصارول:**

امام عبدالرزاق کله ناکله د سند اختصارته اشاره کوي پرته له دې چې هغه ذکرکړي او يا هم هغه مختصرا ذکر کوي چې د هغه دا عادت دی چې دحديث اختصارپه عطف سره کوي، لکه په لاندې شماره حديثونو کې:

-حديث:(۱۱۰۶۴)، حديث:(۳۲۳۶)، حديث:(۳۲۴۷)، حديث:(۶۰۴۹) حديث:(۱۷۰۸۹).

مثال:

۱-حديث:(2909 ) عبد الرزاق قال : أخبرنا معمرعن الزهري عن أنس.

2-حديث:(۲۹۱۰) عبدالرزاق عن ابن جريج مثله بهذا السند.

**(۷): د سند علو بيانول:**

امام عبدالرزاق په لاندې آحاديثو کې د سند علو بيان کړی ده:

حديث:( ۸۰۹)حديث:(۱۱۳۵) ، حديث:(۸۱۴۶) ، حديث:(9424)، حديث:(۹۵۴۳)

مثال:

حديث۱ـ (عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنِ الثَّوْرِيِّ، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنِ الْحَسَنِ قَالَ: «كُنَّا نَمْسَحُ عَلَيْهِمَا ثُمَّ نَقُومُ فَنُصَلِّي» قَالَ: وَقَدْ سَمِعْتُهُ أَنَا مِنْ هِشَامٍ).1

توضيح: په پورتني لومړي سند کې امام عبدالرزاق د ثوری نه روايت کوي بيا ثوري د هشام بن حسان څخه روايت نقل کړی چې په بل سند سره امام عبدالرزاق مستقيما د هشام نه روايت کوي چې دا د سند علو ده.

حديث ۲ : ( عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: وَقَدْ سَمِعْتُهُ أَنَا أَيْضًا، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أُمِّ كُلْثُومٍ قَالَتْ: أَمَرَتْنِي عَائِشَةُ فَطَلَيْتُهَا بِالنُّورَةِ، ثُمَّ طَلَيْتُهَا بِالْحِنَّاءِ عَلَى إِثْرِهَا، مَا بَيْنَ فَرْقِهَا إِلَى قَدَمِهَا فِي الْحَمَّامِ مِنْ حِصْنٍ كَانَ بِهَا قَالَتْ: فَقُلْتُ لَهَا: أَلَمْ تَكُونِي تَنْهِيَ النِّسَاءَ؟ فَقَالَتْ: «إِنِّي سَقِيمَةٌ وَأَنَا أَنْهَى الْآنَ أَلَّا تَدْخُلَ امْرَأَةٌ الْحَمَّامَ إِلَّا مِنْ سَقَمٍ).2

توضيح: په لومړني سند کې عبدالرزاق د ابراهيم څخه روايت کوي او ابراهيم د محمد بن عبيدالله څخه روايت کوي په بل سند سره عبدالرزاق مستقيما د محمد بن عبيدالله څخه روايت کوي چې داد سند علو ده.

پوښتنه دلته ده چې د څه لپاره دواړه سندونه ذکرکوي او په عالي سند باندې اکتفاء نه کوي؟

ځواب : شايد داد امام عبدالرزاق د زيات دقت نښه وي.داسې چې لومړنی سند دهغه لومړنی سماع ده او عالي سند هغه څخه وروسته دی، لکه په لاندې سند کې : (عبد الرزاق عن ابن جريج عن عبيد الله بن عمرعن نافع عن ابن عمر- قال عبد الرزاق : ثم سمعته من عبيد الله).

**(۸) د علم علل الحديث مربوط قضاياوې:**

1- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (1/ 210).ليس هذا واضحاً، فلعله سقط" ثم نخلعهما "قبل قوله" :ثم نقوم ."وفي حاشية دار التأصيل ط ۱( برقم ( ۸۱۷ ) لعل بعده" :ثم نخلعهما"؛ فقد أخرج ابن أبي شيبة،...، من طريق يونس ومنصور، عن الحسن، أنَّه كان يقول" :إذا مسح على خفيه بعد الحديث ثم خلعهما، أنه على طهارة فليصل"، ولا بد من تقديم ذلك لمناسبة الباب الذي وضع تحته الأثر، وإلا فلا فائدة من إی ا رده هنا."

2- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (1/ 295).لهذاالأثر طريقان، كلاهما منكر موقوف، فيهما محمد بن عبيد الله العرزمي، متروك .تقريب التهذيب : (ص :٤)

امام عبدالرزاق په مصـــنف کې مختلف نوری اســـنادي قضـــایا ذکرهم کړي دي چې هغه دده تکلاره نه حسابیږي؛ ځکه چې کمې دي، ولې داچې هغه قضایاوې په سند پورې تړلې حکمونه دي په کارده چې ورڅخه یادونه وکړو لکه بیان العلو، بیان المبهم ، بیان العلة او سندونو اختصارته اشاره کول.

**الف:په سندکې د مبهم راوي بیانول:**

په امام عبدالرزاق په کتاب کې په سندونو په پنځو ځایونو کې مبهم راوي ذکرشوی دی:

١-(١٣۴۶) شمیره حدیث کې.

٢-(٣۴٢۵) شمیره حدیث کې.

3-:( ۶٠۴٩) شمیره حدیث کې.

۴-:(٩٢٨١) شمیره حدیث کې.

۵-:(١٧۶۶١) شمیره حدیث کې.

مثالونه:

1 : (عبد الرزاق عن شـيخ من أهل مكة قال سـمعت سـفيان العصـفري يقول رأيت سـعيد بن جبيربال ثم غسل وجهه ثم أخذ المصحف فقرأ فيه. قال أبو بكر وسمعته من مروان بن معاوية الفزاري). 1

توضیح: په پورتني سند کې (شيخ من اهل مكة) مبهم دی چې بیا امام عبدالرزاق وایې چې د غه (شيخ من اهل مكه) مروان بن معاوية الفزاري دی.

2 : (عَبْدُ الرَّزَّاقِ،عَنْ رَجُلٍ، عَنْ مَكْحُولٍ: أَنَّهُ كَانَ يَسْـتَقْبِلُ الْقِبْلَةَ، ثُمَّ يَحْلِفُ عَشَـرَةَ أَيْمَانٍ أَنَّ الْغَزْوَ لَوَاجِبٌ عَلَيْكُمْ، ثُمَّ يَقُولُ: «إِنْ شِـئْتُمْ زِدْتُكُمْ» قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: وَسَـمِعْتُ الْأَوْزَاعِيَّ أَوْ أُخْبِرْتُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَهُ مِنْ مَكْحُولٍ).2

توضـــیح: په پورتنی روایت کې امام عبدالرزاق د( عن رجل) راوي مبهم دی چې بیا عبدالرزاق په بل روایت کې ذکرکړی دی چې دغه(عن رجل) امام اوزاعي دی.

**ب- په حدیث کې د علت په شتون تصریح کول:**

امام عبدالرزاق په دوه لارو سره په سند کې د علت تصریح کوي :

١: د(سماع ) په اړه پوښتنه کول.

٢: دحدیث د اسناد په اړه پوښتنه کول.

١: د(سماع) په اړه پوښتنه:

حدیث:(٨٢٨١) :( عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنِ الثَّوْرِيِّ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «فِي الْوَحَظِيِّ أَوْ شِبْهِهِ، وَالدُّبْسِيِّ، وَالْقَطَاةِ، وَالْحُبَارَى، وَالْقَمَارِيِّ، وَالْحَجَلِ شَاةٌ شَاةٌ» قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: أَمَّا ابْنُ جُرَيْجٍ فَذَكَرَ عَنْ عَطَاءٍ أَنَّهُ قَالَ: " فِي كُلِّ طَيْرٍ حَمَامَةٍ فَصَـــاعِدًا شَـــاةٌ شَـــاةُ، قَمَرِيٍّ أَوْ دُبْسِـــيٍّ،

---

1- الأثر صحيح، وله طريقان، أما الطريق الأول فإسناده ضعيف مقطوع، فيه رجلاً مبهماً .وأما الطريق الثاني فإسناده صحيح مقطوع .فعليه فالأثر صحيح مقطوع.

2- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (5/ 173) لهذا الأثر سندان ففي سند الأول مقطوع ضعيف لوجود رجل مبهم وبالسند الثاني صحيح مقطوع.

وَالْحَجَلَةِ، وَالْقَطَاةِ، وَالْحُبَارَى، يَعْنِي الْعُصْفُورَ وَالْكَرَوَانَ، وَالْكُرْكِيَّ، وَابْنَ الْمَاءِ وَأَشْبَاهَ هَذَا مِنَ الطَّيْرِ شَاةٌ، قُلْتُ: أَسَمِعْتَهُ؟ قَالَ: لَا، إِلَّا فِي الْحَمَامَةِ ".1

توضـيح: دلته دوه سـندونه دي چېږه لومړي کې عبدالرزاق، عن الثورى عن بن ابي ليلى عن عطاء عن ابن عباس دى او په دوه سـند کې عبدالرزاق وايي چې دا روايت ابن جريج د عطاء څخه روايت کوي چې بيا امام عبدالرزاق وايي چې ما ابن جريج ته وويل چې دا حديث مکمل تا دعطاء څخه اوريدلى دى؟ هغه وويل : نه. يواځې د په کفتره کې مې اوريدلى دى.

په دې حديث کې عبدالرزاق ددې علت ذکر کوي چې امام ابن جريج په روايت کې دراج کړى دى.

**٢ . د سند په اړه پوښتنه مطرح کول:**

حديث:( 19229).( أَخْبَرَنَاعَبْدُ الرَّزَّاقِ، سَمِعْتُ أَبَا حَنِيفَةَ قَالَ: رُفِعَ إِلَى عَلِيٍّ يَهُودِيٌّ , أَوْ نَصْرَانِيٌّ تَزَنْدَقَ , قَالَ: «دَعُوهُ تَحَوَّلَ مِنْ كُفْرٍ إِلَى كُفْرٍ» قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: فَقُلْتُ لَهُ: عَمَّنْ هَذَا؟ فَقَالَ: عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ , عَنْ قَابُوسِ بْنِ الْمُخَارِقِ , أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ أَبِي بَكْرٍ كَتَبَ فِيهِ إِلَى عَلِيٍّ، فَكَتَبَ إِلَيْهِ عَلِيٌّ بِهَذَا).2

توضيح: امام عبدالرزاق وايي چې ما د امام ابوحنيفه څخه اوريدلي دي چې هغه وفرمايل چې حضرت على كرم الله وجهه ته د يهودي قضيه وړاندې کړل شوه بيا هغه وفرمايل چې هغه پرېږدئ.

بيا امام عبدالرزاق وايي چې ما د امام ابوحنيفه رح څخه بوښتنه وکړه چې ددې حديث سند کوم دى؟

امام ابوحنيفه رحمه الله راته دا سـند ذکر کړ.په دې حديث کې عبدالرزاق دا علت ذکر کوي چې دا معضـل حديث دى او زيات راويان په کې على التوالى حذف شوي دي.

**ج- په حديث باندې حکم کول:**

حديث:(٧٢٨٥) : عَبْدُ الرَّزَّاقِ، قَالَ: سَمِعْتُ الثَّوْرِيَّ قَالَ: «خُنْهُمْ وَاحْلِفْ لَهُمْ، وَاكْذِبْهُمْ، وَامْكُرْ بِهِمْ، وَلَا تُعْطِهِمْ شَيْئًا إِذَا لَمْ يَضَعُوهَا فِي مَوَاضِعِهَا»، قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: وَلَمْ يَصِحَّ هَذَا الْحَدِيثِ.3

توضيح: په دې حديث کې امام عبدالرزاق د حديث په عدم صحت باندې حکم کوي چې هغه د حديث د متن نکارت دى.

**د-د حديث تفرد بيانول:**

1- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (4/ 417).الأثر الأول صحيح موقوف، والثاني منقطع و مدلس.

2- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (10/ 318).الأثر منقطع ومعضل.

3- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (4/ 150(

١-حديث:(٤٠٥).(عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ: «مَنْ مَسَّ إِبِطَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ» قَالَ: «وَلَمْ أَسْمَعْ هَذَا الْحَدِيثَ إِلَّا مِنْهُ).1

توضيح: امام عبدالرزاق وايي:(لم اسمع هذ الحديث الا منه) چې دا د حديث په تفرد باندې تصريح ده.

2-حديث: (٤٤٠٥).(عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ: أَخْبَرَنِي حُسَيْنُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، وَعَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: أَلَا أُخْبِرُكُمْ عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السَّفَرِ؟ قُلْنَا: بَلَى قَالَ: «كَانَ إِذَا زَاغَتْ لَهُ الشَّمْسُ فِي مَنْزِلِهِ جَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ قَبْلَ أَنْ يَرْكَبَ، وَإِذَا لَمْ تَزُغْ لَهُ فِي مَنْزِلِهِ سَارَ حَتَّى إِذَا حَانَتِ الْعَصْرُ نَزَلَ فَجَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ، وَإِذَا حَانَتْ لَهُ الْمَغْرِبُ وَهُوَ فِي مَنْزِلِهِ جَمَعَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْعِشَاءِ، وَإِذَا لَمْ تَحِنْ لَهُ فِي مَنْزِلِهِ رَكِبَ حَتَّى إِذَا حَانَتِ الْعِشَاءُ نَزَلَ فَجَمَعَ بَيْنَهُمَا» [ص:549]. قَالَ: وَقَالَ لِيَ الْمِقْدَامُ: «مَا سَمِعْنَا هَذَا مِنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، وَلَا جَاءَ بِهِ غَيْرُكَ».2

امام عبدالرزاق دا حديث ذكر كړی دی او بيا وايي چې( وقال لي المقدام : ما سمعنا هذا من ابن جريج ، ولا جاء به غيرك).چې په دې عبارت سره له يوې خوا د حديث تفرد بيانوي او له بلې خوا دا بيانوي چې په دې حديث چا عمل نه دی كړی.

**هـ په شک باندې د روايت نقلول:**

په دوهم جلد كې به دې ترتيب سره هغه روايتونه ذكر شوي دي چې په شک سره روايت شوي دي:

| شماره | حديث شميره | صيغه دشک |
|---|---|---|
| 1. | ٢٧٩٤ | معمر او غيره |
| 2. | ٣٢٧١ | أخبرنى من رأى القاسم أو سالما |
| 3. | ٣٨٩٧ | اسماعيل أو غيره |
| 4. | ٣٩٧٤ | هشيم أو غيره |
| 5. | ٤٠٦٢ | عبدالله بن عمر وابن أبى رواد أو أحدهما |

د ټول مطلب خلاصه:

د امام عبدالرزاق په حديثي صناعت كې تكلاره :

١-د شيوخو عطف كول چې ددې څخه يې هدف اختصار دی.هغه څوک چې په خپلو شيوخو يې عطف كوي هغه يا ثقه وي او يا هغه څوک وي چې حديث يې د ليكلو قابليت لري.

1- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (1/ 111)، إسناده ضعيف جداً موقوف، فيه إبراهيم بن محمد بن أبى يحيى، متروك .تقريب التهذيب (ص :٩٣) (وفيه رجلاً مبهماً.)

2- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (2/ 548) اسناده ضعيف تفرد به حسين بن عبد الله بن عبيد الله بن عباس المدني تكلم فيه غيرواحد من الأئمة . قال أبو بكر الأثرم عن أحمد : له أشياء منكرة . وقال أبو بكر بن أبي خيثمة عن يحي بن معين : ضعيف . تنقيح تحقيق أحاديث التعليق (2/ 58)

۲-په نفس حدیث کې د اسـایندو عطف کول چې یاخو عطف دمتابعو وي او یا هم عطف د متضـادو سـندونو وي.

۳-د حدیث د متابعاتو ذکر کول.

۴-د حدیث د دمختلفو د اداء او تحمل د صـیغو ذکر کول چې(اخبرنا) د سـماع لپاره اسـتعمالوي. او دیواځې سماع او د نورو سره د سماع په توپیر باندې قائل دی.

۵-په روایتونو کې ډیر دقت څخه کار اخلي لکه :

-بیان د سند علو.

-د سند اختصار ته اشاره.

(۶) د علم حدیث علل پروې مربوط قضایاوې:

-د مبهم روایتونو ذکر کول.

- د مبهم راوي بیانول.

-په سند کې د علت بیانول.

-په شک سره ذکر کول.

## پنځم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله فقهي تګلاره.

د امام عبدالرزاق مصنف لکه د نورو سننو او جوامعو کتابونو په څیر پر کتابونو او بابونو مشتمل مصنف دی او داسـې نه ده چې امام عبدالرزاق یواځې حدیثونه راټول کړي دي او د فقهي مسـائلو سـره تړاو نلری ، بلکې امام عبدالرزاق فقه او تراجم الابواب ته په کې ځای ور کړی دی.

د امام عبدالرزاق په مصـنف کې دامام عبدالرزاق فقهي تګلاره چې (فقه التراجم) څه ډول ده؟ ددې سـوال ځواب په دې لیکنه معلومولوی شو.

د آحادیثو پـه کتـابونو کې (فقـه تراجم الابواب) پیژنـدل ډیره مهمـه موضـوع ده او د (فقـه التراجم) پـه اړه مؤلفینونو کتابونه لیکلي دي لکه چې دصحیح البخاري د (تراجم الابواب) په اړه علماوو کتابونه لیکلي دي. دمثال په ډول: المتواري على تراجم البخاري د على بن المنیر کتاب، ترجمان التراجم د ابن رشید کتاب ، تراجم البخاري د ابن جماعه کتاب ، شرح تراجم صحیح البخاري د شاه ولي الله دهلوي کتاب او الابواب والتراجم للبخاري د محمد زکریا کاندهلوي کتاب.

ددې څخه معلومیږي چې آحادیثو د کتاب د پیژندلو لپاره دهغه کتاب(فقه التراجم) پیژندل ضروري خبره.

فقه التراجم په حقیقت کې هغه استنباطي فقه ده چې د باب د آحادیثو څخه په لاس راځي.

د فقه التراجم پیژندل چې (فقه الحدیث) اوو (درایة الحدیث) هم ورته ویل کیږي چې ډیر اړین کار دی.

امام علي بن المديني ويلي دي:(التفقه في معاني الحديث نصف العلم و معرفة الرجال نصف العلم).1

همدا راز امام خطابي په معالم السنن کې وايي:( بعد معرفة صحة الحديث، يجب الاشتغال بفهمه، اذ هو ثمرة هذا العلم، فان الأساس بدون البناء بيت خرب).2

دامام عبدالرزاق په مصنف کې د فقه التراجم پېژندل لپاره د لاندې موضوعاتو پېژندل ضروري بولو.

لومړی: د لاندې خبرو پېژندل ضروري دي:

۱-ددې خبرې پېژندل ضروري دي چې د امام عبدالرزاق په مصنف کې تراجم دامام عبدالرزاق له خوا ليکل شوي دي، نه د بل چا.

۲-په کتاب الصلاة کې چې د مصنف لويه برخه تشکيلوي د فقه التراجم لټول او څېړل.

3-په تراجمو کې دامام عبدالرزاق او امام بخاري د منهجونو او تګلارو مقايسه او مقارنه.

۱-د هرڅه نه لومړی بايد په دې پوهه شو چې په مصنف عبدالرزاق کې فقه التراجم خپله دامام عبدالرزاق له خوا ليکل شويدي او د بل چا کار نه دی؛ ځکه چې د امام عبدالرزاق د مصنف اکثره بابونه (الدبري) له خوا روايت شوي دي او ځينې نور يې د نورو طريقو څخه روايت شوي دي چې په ټولو روايتونو کې فقهي بابونه شتون لري او يو شان دي او د ټولو روايتونو اتفاق ددې دليل دی چې دا د امام عبدالرزاق له خوا تأسيس شوي دي او د بل چا لخوا نه دي تاسيس شوي لکه دامام مسلم ابواب چې د امام نووي له خوا وضع شوي دي.

د محدثينو په نزد تراجم او ابواب په څلور ډوله دي:

**۱: ښکاره او ظاهر تراجم.**

ظاهر او ښکاره تراجم هغې ته ويل کيږي چې د باب د حديث سره په ښکاره توګه مطابقت لري او فکر او تدبر ته په کې اړتيا نه وي.

**۲:استنباطي تراجم.**

استنباطي تراجم هغه دي چې په فکر او تدبر سره د حديث او باب ترمنځ مطابقت معلوميږي.

**۳: مرسله تراجم.**

مرسله تراجم هغه دي چې په کتاب کې يواځې (باب) وي او د (باب) سره نور څه نه وي ذکر شوي.

**۴-مفرد تراجم.**

مفرد تراجم هغه دي چې عنوان موجود وي خو د عنوان او ترجمې لاندې کوم حديث ذکر شوی نه وي.

۱-ښکاره او ظاهر تراجم، چې ښکاره ترجمه هم په دوه ډوله ده:

**الف: خبري ترجمه.**

**ب:استفهامي ترجمه.**

---

1 -الذهبي، الامام شمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان الذهبي (ت: 748 هـ) سير اعلام النبلاءج١١، ص: ١٨.أشرف على تحقيق الكتاب وخرج أحاديثه :شعيب الارنؤوط. مؤسسة الرسالة. الطبعة التاسعة 1413 هـ 1993 م مؤسسة الرسالة بيروت -

2 -الخطابى، أبو سليمان أحمد بن محمد الخطابي البستي( ٢٨٨هـ) معالم السنن شرح سنن ابي داوود (ص: ٧٨) .الناشر: المطبعة العلمية – حلب. الطبعة الأولى 1351 هـ - 1932 م

د بحث او څیړنې څخه وروسته معلومه شوی ده چې د امام عبدالرزاق په مصنف کې د ښکاره خبري تراجمو تعداد: (۳۱۲) دری سوه او دولس دي.

همدا راز خبري تراجم کله اتفاقي وي هغه داسې چې په دغه ډول مسائلو کې د مجتهدینو اتفاق وي او اختلاف په کې نه وي، لکه :(باب فضل الأذان ، باب فضل الصلاة في جماعة...) کله داسې تراجم او مسائل وي چې په هغې کې اختلاف وي یا د مؤلف له خوا اختلافي ګرځول شوی وي او په کې نورو علماوو اختلاف موجود وي، لکه په دغو تراجو کې:( باب من سمع النداء ، باب الرخصة لمن سمع النداء ، باب القول إذا سمع الأذان...).

د امام عبدالرزاق په مصنف کې په استقراء سره معلومه شوی ده چې په مصنف کې هغه مسائل ذکر شوي دي چې د یو څخه زیات حمکونه لري چې ځینې یې فرعي هغه قضایاوې دي چې د علماوو اختلاف په کې زیات مشهور نه دی او ځینې یې داسې واضحه هغه قضایاوې دي چې د علماوو اختلاف په کې واضحه دی.

په داسې اختلافي مسائلو کې ترجیح دامام عبدالرزاق په قول په کارده او که چیرې دامام عبدالرزاق قول نه وي بیا دامام ترمذي قول او د هغه چا قول راجح ګڼل په کاردي چې په مسائلو کې د صحابه وو اقوال رانقلوي لکه امام بغوي.

مثالونه:

1 ــ (بَابُ قَتْلِ الْحَيَّةِ، وَالْعَقْرَبِ فِي الصَّلَاةِ)1 : امام بغوي وايي: ( باب قتل الحية والعقرب في الصلاة ) : ورخص عامة أهل العلم من الصحابة فمن بعدهم في قتل الأسودين في الصلاة إلا إبراهيم النخعي ، فإنه لم يرخص. فالراجح الرخصة. 2

۲ - ( باب جمع الصلاة في الحضر)، امام ترمذی هم داسې باب په خپل کتاب کې ایښی دی او وایي:( باب ما جاء في الجمع بين الصلاتين في الحضر. والعمل على هذا عند أهل العلم ، أن لا يجمع بين الصلاتين إلا في السفر أو بعرفة ، ورخص بعض أهل العلم من التابعين في الجمع بين الصلاتين في المرض، وقال بعضهم: يجمع في المطر).(3)

په دې موضوع کې راجح داده چې په حضر کې دلمونځونو جمع کول درست نه دي،ځکه چې دا نظر د اکثره اهل علم او فقهاوو څخه نقل دی.

3 ــ (باب صلاة الوسطى) ، امام ترمذی هم داسې باب لګولی دی او داسې وایي: (باب صلاة الوسطى أنها العصر أو الظهر: إنها العصر ، وهو قول أكثر العلماء من أصحاب النبيﷺ ، ومن بعدهم ، وقال زيد بن ثابت وعائشة صلاة الوسطى صلاة الظهر. وقال ابن عباس وابن عمر: صلاة الوسطى صلاة الصبح ).[4]

---

1- مصنف عبد الرزاق الصنعاني (1/ 449)

2 -البغوي، محيي السنة، أبو محمد الحسين بن مسعود بن محمد بن الفراء البغوي الشافعي (ت: 516هـ) شرح السنة متنا وشرحا ج۳، ص: ۲۶۸. تحقيق: شعيب الأرنؤوط-محمد زهير الشاويش. الناشر: المكتب الإسلامي - دمشق، بيروت.الطبعة: الثانية، 1403هـ - 1983م

3 -الترمذی، الامام ابو عيسى الترمذی .سنن الترمذي بتصرف يسير ج۱، ص: ۳۵۶

4 الترمذی، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي، أبو عيسى (ت: 279هـ) سنن الترمذي ج ۱، ص: ۳۴۰

راجح قول دادی چې صلاة وسطی د لمازیګر لمونځ دی ځکه داد اکثره صحابه کرامو او تابعینو قول دی.
دا لاندې بابونه هم د تیر په څیر دي:

4 . باب السدل.

5 . باب وقت الصبح.

6 . باب وقت الظهر

7 . باب من اتم في السفر.

8 - باب الصيام في السفر.

9 . باب ما يقطع الصلاة.

10 . باب قراءة بسم الله الرحمن الرحيم.

. 11 . باب القنوت .

د امام عبدالرزاق د مصنف په اختلافي مسائلو کې ترجیح ممکن ده په دې شرط چې څوک اهل د ترجیح وي.

ب: ښکاره او ظاهره استفهامي تراجم او بابونه:

په (كتاب الصلاة) کې فقهي استفهامي بابونه ټول(۴۸) بابونه دي.

بیا دا استفهام په دوه قسمه دی:

**۱-اختلافي استفهامي مسائل.**

**۲-هغه مسائل چې بیان ته اړتیالري.**

لومړنی نوعه تراجم :(استفهامي اختلافي) په (۳۲) تراجمو او بابونو کې راغلی دي په لاندې شکل سره:

1 . باب لحوم الإبل هل يتوضأ منها؟

۲ . باب الرجل يكون له وتر ، والإمام يتشفع ، ايتشهد؟

3 . باب هل في سجدتي السهو تشهد وتسليم؟

4 . باب هل على من خلف الإمام سهو؟

5 . باب هل يؤم الغلام ، ولم يحتلم؟

6 . باب هل يصلي ركعتي الفجر ، إذا أقيمت الصلاة؟

7 . باب المسافر متى يقصر إذا خرج مسافرا؟

۸ . باب كيف القراءة في الصلاة؟

9 . باب وجوب الوتر ، هل شيء من التطوع واجب؟

10 . باب كم الوتر؟

11 . باب متى تركع ركعتا الفجر؟

12 . باب هل يصلي المكتوبة على الدابة إلى القبلة وغيرها؟

13 - باب كيف يصلي المكتوبة على الدابة إلى القبلة وغيرها؟

14 . باب متى يفطر حين يخرج مسافرا؟

15 . باب هل يصلي الرجل ، وهو يسوق دابته؟

16 . باب هل على المرأة أذان وإقامة؟

17 - باب هل يؤم الرجل جالساً؟

لاندې تراجم هم اختلافي اســتفهامي دي خو ددې اختلافي مســائلو په اړه مې د نورو مؤلفینو لـه خوا کوم مناقشات پیدا نکړل:

18 . باب هل يتخلل أو يقلم الأظافر في المسجد؟

19 . باب قتل القملة ، وهل على قاتلها وضوء؟

20 . باب من دخل المسجد ، وقد صلى أهله ، ايتطوع؟

21 . باب متى يمسح ( أي المصلي ) التراب عن وجهه؟

22 - باب هل يؤذن الصبي؟

23 . باب متى يستعيذ الإمام؟

24 . باب الرجل يكون له وتر ، والإمام يتشفع ، ايتشهد؟

25.( باب هل في سجدتي السهو تشهد وتسليم؟ )، امام ترمذي هم داسې لیکي او وایي:(باب التشهد في سجدتي السهو) : واختلف أهل العلم في التشهد في سجدتي السهو ، فقال بعضهم : يتشهد فيهما ويسلم. وقال بعضهم : ليس فيهما تشهد وتسليم ، وإذا سجدهما قبل السلام لم يتشهد ، وهو قول أحمد وإسحاق ).[1]

امام عدالرزاق په مصــنف کې د ځینو فقهاوو څخه لومړی نظر نقل کړی دی او دوهم قول یې هم د ځینو فقهاوو څخه نقل کړی دی. خو دعبدالرزاق په نزد لومړی نظر راجح دی.

بناءً د امام عبدالرزاق د مصــنف په خپل وخت کې د د فقه الصـحابه او فقه التابعینو لومړنۍ بې مثاله موسوعه ده.

26 . (باب هل يؤم الغلام ، ولم يحتلم؟ ) امام بغوي په دې برخه کې داسې باب ذکر کړی دی او داسې وایي: ( باب من هو أولى بالإمامة؟ ) : واختلف الناس في إمامة الصبي الذي يعقل الصلاة ، فأجازه قــوم منهم الحسن ، وبه قال إسحاق بن راهويه ، وكره قوم الصلاة خلفه منهم الشعبي ، وبه قال مالك والثوري والأوزاعي وأصحاب الرأي. وقال الزهري : إذا اضطروا إليه أمهم).[2]

امام عبدالرزاق په مصنف کې د ماشوم دامامت کراهیت د عمر، ابن عباس، رضي الله عنهم څخه او د امام عطاء او ابراهیم نخعي څخه نقل کړی دی او د ماشوم د امامت جواز یې د ضحاک او عمرو بن سلمه څخه نقل

---

1 -الترمذی، محمد بن عیسی بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي، أبو عيسى (ت: 279هـ) سنن الترمذي ج٢، ص: ٢٤٠.

2 -البغوي، محيي السنة، أبو محمد الحسين بن مسعود بن محمد بن الفراء البغوي الشافعي (ت: 516هــ) شرح السنة متنا وشرحا ج٣، ص:١٠٤. تحقيق: شعيب الأرنؤوط-محمد زهير الشاويش. الناشر: المكتب الإسلامي - دمشق، بيروت.الطبعة: الثانية، 1403هـ - 1983م

کړی دی په دې شــرط چې دقرآن کریم حافظ وي. شــاید دامام عبدالرزاق په نزد کراهیت یې راجح وي ځکه چې دوی زیات دي او په فقاهت باندې شهرت لري.

27. باب كيف القراءة في الصلاة؟

28. باب وجوب الوتر ، هل شيء من التطوع واجب؟

29 . باب كم الوتر ؟

30- ( باب كيف التسليم في الوتر).

31- ( باب الرجل يوتر ثم يستيقظ فيريد أن يصلي ).

32- ( باب هل يصلـــي المكتوبة على الدابة إلى القبلة وغيرهـــا؟ وكيف الصلاة؟ باب هل يصلي الرجل وهو يسوق دابته؟).

دوهمه نوعه:

الف: هغه تراجم چې اسـتفهامي دي خو اختلاف په کې نشـته او یوائې د ترجمې او موضـوع په باره کې د حکم بیانول مراددي ، چې ټول (٢٤) بابونه دي په لاندې تفصیل سره:

1 . باب هل يدخل المسجد غير طاهر؟

٢ . باب هل تقام الحدود في المسجد؟

3 . باب هل يؤذن الإمام؟

4 . باب متى يقوم للصلاة إذا سمع الأذان؟

5. باب كيف يقول الإمام إذا أراد أن يكبر؟

6 . باب لا يقف في الصف الثاني حتى يتم الأول ، وهل يأمر الإمام بذلك؟

٧ . باب متى يكبر الإمام؟

٨ . باب متى يستعيذ ( الإمام)؟

9 . باب هل يقرأ ببعض السورة في الصلاة؟

10 . باب كيف الركوع والسجود؟

11 - باب كيف يقع ساجدا؟ وتكبيره ، وكيف ينهض من مثنى من السجود؟

12 - باب كيف النهوض من السجدة الآخرة ، ومن الركعة الأولى ، والثانية؟

13 . باب متى يقوم الرجل يقضي ما فاته ، إذا سلم الإمام؟

14 - باب كيف ينصرف الرجل من مصلاه؟

15 . باب القوم يجتمعون ، من يؤمهم؟

16 . باب هل يؤم ولد الزنا؟

١٧ . باب هل يؤم الرجل أباه؟

١٨ - باب كيف يكون جلوسه إذا صلى..؟؟

١٩ . باب كيف تكون صلاة الليل والنهار؟

٢٠ . باب كيف كانت الصلاة قبل صلاة الخوف؟

21 - باب كيف التكبير في الوتر؟

٢٢ . باب أي ساعة يستحب فيها الوتر؟

٢٣ . باب كيف التسليم في الوتر؟

٢۴. باب من فاته شيء من الليل متى يقضيه؟

په دې کې شک نشته چې په ذکر شوو تراجمو کې بیان ته اړتیا وه څکه يې ذکر کړل؛ مثلا ( ١۵ ) شمېره مسئله که چیرې زیات خلک راجمع شــي دا نه معلومېږي چې په دوی کې به کوم یو د امامت حقدار دی د علم څښــتن یا قاري او یا هم زیات عمر والا؟

همدا راز په (٢٣) ترجمه کې په دې مسئله کې (باب كيف التسليم في الوتر؟) تفصيل ته ضرورت دی.

امام بغوي وايي: (باب الوتر بثلاث وبخمس وسبع أو أكثر) ومن ذهب إلى أنه يوتر بثلاث ، قال : يوتر بتشهدين ، يقعد في الرابعة ، ولا يسلم... وإن اختار السبع أو التسع... ).[1]

ب: همدا راز په ځینو وختو کې دوه خبري جملې سره يوځای کوي او باب ورڅخه جوړوي لکه د كتاب الصلاة په دې بابونو کې :

1 . باب ترديد الآية في الصلاة ، وباب قراءة النهار.

٢ . باب الضجعة بعد الوتر ، وباب النافلة من الليل.

ج: همدا راز په ځینو وختونو کې دوه د استفهام صيغې سره جمع کوي لکه په لاندې بابونو کې:

1 . باب كيف القراءة في الصلاة وهل يقرأ ببعض السورة ؟

2. باب كيف تكون صلاة الليل والنهار؟ وكيف كانت الصلاة قبل صلاة الخوف؟

3. باب كيف يقع ساجدا؟ وكيف ينهض من مثنى من السجود؟

د: په ځینو وختونو کې خبريه او استفهاميه جملې سره يوځای کوي لکه په لاندې بابونو کې:

1 . باب الصلاة في مراح الدواب ، ولحوم الإبل هل يتوضأ منها؟

2 . باب قتل القملة في الصلاة ، وهل على قاتلها وضوء؟

3 . باب الأذان قاعدا ، وهل يؤذن الصبي؟

4 . باب المؤذن أملك بالأذان ، وهل يؤذن الإمام؟

5 . باب لا يقف في الصف الثاني حتى يتم الأول ، وهل يأمر الإمام بذلك؟

6 . باب هل يصلي الرجل وهو على دابته؟ وقصر الصلاة.

7 . باب وجوب الوتر ، هل شيء من التطوع واجب؟

8 . باب ما يقرأ في الوتر ، وكيف التكبير؟

---

1 -بغوي، محيي السنة، أبو محمد الحسين بن مسعود بن محمد بن الفراء البغوي الشافعي (ت: 516هـ) شرح السنة متنا وشرحا ج۴، ص:٧٧.

همدا راز د خصوص او عموم له لحاظه امام عبدالرزاق دوه ډوله بابونه لري خاص بابونه او عام بابونه.

دلته د خاص څخه مراد داده چې عنوان د باب لپاره واضح وي او د بلې معنى احتمال په کې نه وي، او عمومي بابونه هغه دي چې په هغې کې د يوې معنا څخه د زياتو معنا احتمال وي.

خاص بابونه په لاندې ډول دي:

1_ باب الرجل ينسى فيجعله إقامة.

2. باب استقبال القبلة ، ووضعه إصبعيه في أذنيه.

3. باب الرجل يبصق في المسجد ، ولا يدفنه.

4. باب قتل القملة في الصلاة ، وهل على قاتلها وضوء؟

5_باب من دخل المسجد وقد صلى أهله ، ايتطوع؟

6-. باب الصلاة في مراح الدواب ، ولحوم الإبل هل يتوضأ منها؟

عمومي بابونه په لاندې توګه دي:

